[هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا بِهِ وَلِيَعْلَمُوا أَنَّمَا هُوَ إِلٰهٌ وَاحِدٌ]

دعوت
خپرندویه ټولنه

# د اسلام
# عقیدوي نظام

[عقیدوي درسونه]






لیکوال
شیخ القران و الحدیث
محمد ضیاء الله «حکیمي»


Scanned by CamScanner

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

[هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوْا بِهٖ وَلِيَعْلَمُوْٓا اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ]

# د اسلام عقيدوي نظام

## [عقيدوي درسونه]


ليکوال:

شيخ القران و الحديث محمد ضياء الله «حکيمي»

فارغ التحصيل دارالعلوم سرحد و وفاق المدارس العربيه- پاکستان


Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

دعوت
خپرندویه ټولنه

ځانګړنې:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د اسلام عقیدوي نظام [عقیدوي درسونه] |
| لیکوال: | شیخ القرآن والحدیث محمد ضیاء الله حکیمي |
| کمپوز/ډیزاین چارې: | عبد الهادي اثر / ۰۷۷۶۱۲۰۷۰۳ |
| خپرندوی: | دعوت خپرندویه ټولنه |
| چاپ کال: | ۱۳۹۳ل / ۲۰۱۴م |
| چاپ شمېر: | ۱۰۰۰ |
| چاپوار: | لومړی |

**د بیا چاپ حقونه له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.**

## د ترلاسه کولو پتې

**دعوت کتاب پلورنځی**؛ اساقزي مارکیټ، لاندیني پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان
اړیکشمېرې: ۰۷۷۲۰۹۷۹۲۵ - ۰۷۹۴۰۸۷۷۷۲ - ۰۷۹۶۱۵۰۰۵۱

**تقوی کتاب پلورنځی**؛ اساقزي مارکیټ، لاندیني پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان
اړیکشمېرې: ۰۷۷۲۰۹۷۹۲۵ - ۰۷۸۹۴۳۱۷۱۹ - ۰۷۹۶۱۵۰۰۵۱

Scanned by CamScanner

# اهداء

د اسلامي امت لوی اشخاص صحابه کرام (رضي الله تعالی عنهم) مجتهدینو، امامانو، مفسرینو، محدثینو او فقهاء کرامو ته لکه امام ابو حنیفه، امام شافعي، امام مالک، امام احمد، امام بخاري، امام مسلم، امام فخرالدین رازي، علامه ابن کثیر، علامه ابن تیمیه، ملا علي قاري، باني دیوبند علامه قاسم نانوتوي، شیخ الهند مولانا حسین احمد مدني، محمد ایوب جان بنوري، شیخ حسن جان المدني په ځانګړي ډول د افغانستان د مقدس جهاد اتل شهیدان لکه استاد عبدالرحیم (نیازی) شهید استاد عبدالحبیب، شهید ډاکټر سید دواؤد خان، شهید استاد محمد امین، شهید حفیظ الرحمن، شهید ډاکتر عبدالکریم ادم خان او ورسره یې ملګري بالخصوص زما مرحوم والد مولوي عبدالحکیم رحمه الله چې زما په روزنه کې یې ډیری هلی ځلی کړي او زما مشفقه والده چې په دعاګانو یې زه تر دی حده رسیدلی یم بالاخره د حق د لارې ټولو علماء دعاتو او مجاهدینو او د اسلام د مبارک دین د عقیدوی او عملي نظام ښوونکو ته ډالۍ کووم.

په اخر کې د خپلو ورونو هر یو مفتی عطاء الله (حکیمي) ښخه یادونه کوم چې د کتاب په کره کتنه کې یې زیار وویست همدغه راز زما زړه ته رانیږدی ورور ډاکتر قاري ماجد الله (حکیمي) او وراره انجینر واسع الله (حکیمیار) ښخه چې د کتاب په کمپوز کې یې ډیرې هلې ځلې کړي د الله تعالی ښخه ورته اجر او برکتونه غواړم. الله جل جلاله دی دغه کتاب د ټولو لوستونکو لپاره په دنیا او اخرت مفید وګرځوي او زما لپاره دی یې په هغه ورځ چې د خلکو اعمال تلل کیږي د حسناتو په پله کې وګرځوي. امین

حکیمي غفرله- دلوه ۱۳-۱۳۹۲ مطابق ربیع الثاني ۱۴۳۵

Scanned by CamScanner

# د ننگرهار د اسلامي پوهنتون نوميالی استاد مفکر اسلام پوهندوی مولوي محمد شريف رحماني حفظه الله

# تقريظ

## په علمي اثر څو ټکي؛

د اسلامي نړۍ وضعيت یې څرګندوي چې د اسلامي امت د ټولو بدبختيو او ستونزو اساسي لامل له دين څخه انحراف او کوږوالی دی، هغه څه چې مسلمانان یې د پرمختګ له کاروان څخه راستانه کړي او د هغوی بنسټونه یې نړولي دي، اعتقادي کمزورتيا او په روزنيزه تګلاره کې بدلون دی، مسلمانانو د اسلام لارښوونې او په هغې عمل پرېښود، د لوېديځ تمدن ناولو افکارو او معتقداتو ته یې خپل زړونه پرانيستل.

د مسلمانانو د زوال عامل د اسلام له امله نه و؛ بلکې د مسلمانانو اعتقادي او عملي انحراف مسلمانان له زوال او بربادۍ سره مخامخ کړل، دوی خپلې عقيدې ته وفادار او هر رنګ سرښندنې ته تيار دي؛ مګر د افسوس ځای دی، چې د دوی عملي واقعيت د دوی د عقيدې له غوښتنو سره بشپړ بدلون لري، دوی دين او دنيا وويشله او دين یې د ژوند له ډګره ګوښه کړ، پيغمبر صلی الله عليه وسلم دغه سپېڅلی دين په عملي ژوند کې تطبيق کړی و، دغه يوازې د هغه د رسالت دنده نه؛ بلکې د ټولو پيغمبرانو د رسالت موخه د دين غلبه او اقامه وه.

له همدغه امله تاسې ګورئ، چې د مسلمانانو په عملي او فکري ژوند بېلا بېلو تمدنونو يرغل راوړی، چې هلته صنعت قوت او حکمت په خپل کنترول کې لري، چې په نتيجه کې مسلمانان نه يوازې دا چې کمزوري؛ بلکې د هغوی عقيده، اخلاق او افکار یې له تزلزل سره

Scanned by CamScanner

مخامخ کړل

هر کله چې اسلامي امت د شلمې پېړۍ درشل ته ورسېد، د داسې جسد حيثيت يې درلود، چې ساه ورځخه وتلې وي. د اسلامي دولتونو حالت داسې و؛ لکه چې يو ښکار د بېلا بېلو ښکاريانو تر هجوم لاندې رغلی وي.

واقعيت دا دی، چې د اسلام دښمنانو داسې يو پلان ترتيب کړ؛ چې اسلامي تمدن له منځه يوسي او د هغوی بېدار مغزونه بمبار او علمي شتمنۍ او اثار يې لوټ کاندي، د دوو پېړيو دننه د مسلمانانو په عقيدې او اخلاقو يرغل وشو او د دوی د ژوند کنترول يې په خپل لاس کې واخيست، شراب څښل، رشوت، عياشي، بې حيايي، استبداد، ظلم، فساد، وژنه او د ځواک د لاسته راوړلو کورنۍ شخړې په کې پيل شوې

د عقيدې د انحراف او د عقيدې او عمل ترمنځ د بېلتون په نتيجه کې دين له سياسته جلا او د سيکولريزم، لبراليزم، کمونيزم او نشنليزم ميکروبونه اسلامي امت ته رادننه شول

د اسلام دښمنانو مسلمان قام له الله تعالی، رسول الله صلی الله عليه وسلم او د الله تعالی د وروستني پيغام قرآن کريم سره نا اشنا وګرځول، زه باور لرم چې د دغو درې مؤمن به شيانو د مينې او معرفت له امله به موږ سرلوړی قام جوړ شو.

ما چې کله د ګران مولوي ضياء الله حکيمي علمي اثر ولوست، ډېر خوښ شوم، د افغانستان تاريخ شاهد دی، زموږ زياتره ديني علماء قلموال نه و، نو په همدې بنسټ يې تر وفاته وروسته علم هم په قبر کې ورسره ښخ شوی، خو د شکر ځای دی، د اسلامي انقلاب له برکته قلموال علماء لرو، ما دغه علمي اثر له سره تر پايه وکوت، ډېر ګټور مطالب يې په کې ځای پر ځای کړي دي، په ځانګړي توګه د ايمان د

اساساتو د څېړنې ترڅنګ يې زوړ او نوى جاهليت هم څېړلى، دا ځكه چې تُعرف الاشياء بأضدادها زه له اوږدې مودې د خپل ولس په ستونزو فكر كوم.

زما په اند تر ټولو ستره ستونزه يې اعتقادي جهل دى، كه موږ يې په حل كې بريالى شو، نورې ستونزې به په خپله په تدريجي توګه حل كړاى شي.

زموږ په تېر تراث كې د عقيدې په هكله اساسي كتاب نه لرو، شرح عقايد شته؛ مګر هغه زموږ او سني ځوان نسل ته په درد نه خوري؛ ځكه تحليل يې فلسفي او كلامي دى. داسې كتابونه چې سليس او ساده او په ملي ژبه ليكل شوي وي، د ېر لږ او له نشت سره برابر دي.

زموږ مظلوم او هوډيالى ملت چې په پنځو لسيزو كې د ننه د نړۍ خونړيو دوو زبرځواكونو سخت وځپه، بيارغاونې ته سخت اړ دى، زه په خپل وار ښاغلي حكيمي ته د دې علمي اثر د بشپړتيا مباركي وايم، په قلم او ژوند يې بركت شه، زه درانه لوستونكي د كتاب لوستلو ته رابولم او د الله تعالى له درباره ورته د نورو علمي برياوو غوښتونكى يم.

والسلام

پوهندوى مولوي محمد شريف رحماني

جلالكوټ- درونټه

د استادانو فاميلي

۱۳۹۳/۱/۹هـ ش

Scanned by CamScanner

# سریزه

درنو لوستونکود علم عقاید لپاره استدلال صرف په هغه دلایلو سره کېږي چې ثبوت یې دشارع څخه قطعي اویقیني وي او معنی یې هم قطعي اویقیني وي، یعنې دقرآنکریم په ایت چې معنی یې قطعي اومتفق علیه وي اودبلې معنی احتمال پکې نه وي اویا په هغه متواترو او مشاهیرو احادیثو چې معنی یې قطعي وي اودوضاحت لپاره دعقایدو د کتابونو څخه استدلال کېږي چې داهل سنة والجماعة علماءدهمدغه نصوصو څخه مرتب کړي؛ لکه شرح عقائید نسفي، العقیده الواسطیه ، شرح عقیده الطحاویه، فقه اکبر ، کتاب التوحید دامام بخاري اوداسې نور او دا ځکه چې دهرې مسئلې چې دهرفن سره تعلق وي دهمغه فن کتاب ته به مراجعه کېږي

که دعباداتو لکه لمونځ، روژه، زکات، حج اوداسې نورو په اړه د

څېړنې او استدلال ضرورت پيدا شي نو د فقهي کتابونو لکه کنز، شرح وقايه، هدايه، شامي، عالمگيري وغيره ته به رجوع کېږي ځکه د عبادتي مسايلو او احکامو مرجع فقهي کتابونه دي او که د تفسير په اړه ضرورت پيدا شي د مفسرينو کتابونه لکه ابن کثير، ابن جرير، روح المعاني، قرطبي وغيره ته به رجوع کېداى شي که د حديث په اړه ضرورت وي د احاديثو کتابونو لکه بخاري، مسلم، ترمذي وغيره ته به رجوع کېږي او که د جرح او تعديل د راوي په اړه وي د همدغه علماوء کتابونو ته لکه ميزان الاعتدال، لسان الميزان وغيره چې په نقد د رجالو کې کار کړي رجوع کېږي يعني د هر فن لکه نحو، صرف، منطق، بلاغت وغيره خپل خپل مرجع وي خلاصه دا چې د هر فن په اړه به خپله مرجع ليدل کېداى شي د دې بحث څخه مقصد دا دى چې بعضې خلک د عقايدو د مسئلې په استدلال کې هم فقهي کتابونه وړاندې کوي او دا کمزوري د علم ده يا د عقيدې په استدلال کې اشعار، رسالي، د بزرگانو خوبونه، منامات، فارسي او عربي نظمونه وړاندې کوي.

د فقهي په کتابونو کې چې کوم بحث د عقيدې راځي هغوى هم استدلال د عقايدو د کتابونو څخه کوي.

څرنګه چې د حديث حواله د فقه په کتاب کې ليدل يا د تفسير حواله د فقه په کتاب کې مطلب د يو فن مسئله د بل فن په کتاب کې ليدل صحيح نه دي همدا راز د عقايدو د مسايلو لپاره خپل مراجع دي.

دا هم بايد ووايو چې عقيدوي مسايل محل د اجتهاد او تقليد نه دي،

عقیـدوي مسـایل صـرف منصوصـي او اجمـاعي وي اجتهاد او تقلید د فقهي عملي مسایلو ځای دي مرقات شرح مشکوة لیکي چې عقیدوي مسایل به صرف په قطعي دلایلو ثابتیږي (۵جلد صفحه ۳۲۲) تفسیر بیضاوي هم د سورة یونس ۲۸ ایات لاندې لیکي:

لا بد للعقاید من دلایل قاطعة و ان التقلید فیها غیر سائغ.

ژباړه: د عقایدو لپاره هغه دلایل ضروري دي چې قطعي وي او تقلید په هغه کې جایز نه دی.

په دې کتاب کې هم د اسلام د مبارک دین په اصولي او ضروري عقیدوي مسایلو بحث شوی دی چې هغه د صحیح عقیدې او ایمان لپاره ضروري دي.

لکه توحید د الله تعالی، رسالت، قیامت، ملایک وغیره همدا رنګه د غه کتاب د اهل السنة والجماعة د مذهب او عقیدې مطابق دی نو د تائید په خاطر کله کله د علما اهل السنة نظر پکې رانقل کیږي.

# په دې کتاب کې:

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمدلله العلى المعبود الغفور الودود الذى شهد بوجوده وتوحيده وصفاته كل موجود اوضح لنا سبله وكلفنا بالايمان به كما هو باسمائه وصفاته وارسل رسلا وانبياء ليخرج الناس بهم من ظلمة العقيدة والعمل الى نور التوحيد واليقين وجعل اخرهم وخاتمهم سيدنا وسيد ولد ادم صاحب الشفاعة العظمى والمقام المحمود نبينا محمدعبد الله ورسوله المصطفى قاسم الحوض المورود صلواة الله وسلامه وبركاته عليه وعلى اله وصحبه الذين تعلموا العقيدة الصحيحة من مشكوة نبوته فصاروا كالنجوم لجميع الناس الى اليوم الموعود اما بعد.

Scanned by CamScanner

له حمد درود او سلام څخه بعد.

د الله متعال کریم شکر ګذار یم چې د خپلو ګرانو مومنو مجاهدو مسلمانانو ورونو د ډېر خبرتیا په خاطر د یوې داسې مسئلې په هکله قلم را اخلم چې الله سبحانه وتعالی د دې مسئلې د وضاحت لپاره په هره زمانه کې انبیاء کرام علیهم السلام رالېږلي دي

او هغه مسئله د ایمان او عقیدې ده، عقیده د ټولو عباداتو او عملي مکلفیتونو په سر کې قرار لري او په اسلامي شریعت بلکې په ټولو اسماني الهي دینونو کې لومړنی موضوع او د بنده لومړی مکلفیت دی نور عبادات معاملات وغیره ټول د عقیدې څخه وروسته دي کله چې بنده ایمان راوړي بیا په اعمالو مکلف ګرځي یعنې هر بنده لومړی د قرآن او سنت په رڼا کې په صحیح عقیده مکلف دی.

د عقیدې په اړه د اسلامي امت علماء بې شمېره لیکنې کړې دي دغه لیکنې په مختلفو زمانو کې او په متعددو ژبو کې شوي دي خو د هرې زمانې د تقاضا مناسب دلایل عقلیه او مهمې فرقې په کې ذکر دي چې دا هره لیکنه په دې اړه د قدر وړ او جدا جدا اهمیت لري مو ږ په دې کتاب کې هم د اسلام عقیده په لنډ ډول د مختصرو دلایلو سره څېړلې ده او دا په دې خاطر چې لوستونکي ورڅخه د بحث او مناقشې په وخت کې مستفید شي د دې کتاب خصوصیات دا دي.

دغه کتاب په دوه بابونو مشتمل دی: اول باب په دوویشت (۲۲) درسونو کې د اسلامي عقیدې څېړنه ده؛ دوهم باب د باطلو نظریو پېژندنه څېړې چې دا هم په درې فصلونو او دیارلس (۱۳) درسونو کې په لاندې ډول ترتیب شوی:

اول فصل، باطل ادیان

دوهم فصل، باطله مفکورې

Scanned by CamScanner

دریم فصل، باطله فرقې
په اخر د کتاب کې ماخذونه

**لومړی خصوصیت** د عقیدې د بیان تر څنګ عقلي دلایل ځیرې او په نقلي مقاماتو کې په ایت او حدیث باندې استدلال کوي ځینې وخت د معنی په تاید کې د علماء اقوال نقل کوي.

**دوهم خصوصیت** دا دی چې په دې کتاب کې د مسلمه امت اتفاقي عقیده بیان شوی او هغه جزئ او فرعي او غیر ضروري مسایل چې د کفر او اسلام د تحقق لامل نه دي د بحث څخه ډډه شوی ده.

**دریم خصوصیت** دادی چې د دې کتاب په اخرنی برخه کې ځینې مهمې او موجوده فرقې او باطل ادیان او باطلې مفکورې تر څېړنې لاندې نیول شوي او دا په دې خاطر چې د باطل څخه ځان خبرول حتمي او ضروري دي تر څود تردید لپاره ځان برابر کړل شي او څېړه یې خلکو ته بربنډه شي چې کوم نا خبره مسلمان پرې دهوکه نه شي.
جامع احکام القرآن د قرطبي هم لیکلي چې د باطل څخه ځانونه خبرول ضروري دي لپاره د تردید.

**څلورم خصوصیت** دادی چې په دې کتاب کې د مجادلې او مناقشې په طرز بحث نه دی شوی، البته د بعضو کفارو او باطلو فرقو هغه اعتراضات چې د اسلام پر عقیدوی نظام وارد شوي ځواب شوي دي.
حکیمي غفرله

# لومړی باب
# اسلامي عقیده

## لومړی درس
### عقاید

عربي کلمه ده د جمع صیغه ده مفرد یې عقیدة راځي او د عقد د لفظ څخه مشتق دی عقد مصدر دی جمع یې عقود راځي معنی یې تړل او یو شي ته غوټه ورکول دي د دې مادي څخه عقده هم راځي چې جمع یې عقد په ضمې د عین او فتحې د قاف سره دی څرنګه چې د هر لغت او اصطلاح ترمنځ مناسبت وي نو باید په وجه د تسمیې کې وو ایو چې عقاید ته هم ځکه عقاید ویل کېږي چې معتقد (عقیده لرونکي) انسان یوې خبرې ته چې دده په ذهن حقه ښکاري زړه کې غوټه ورکړې ده.

تفسیر قرطبي هم د اوفوا بالعقود ایت لاندې ورته بحث کړی.

غوټه ورکول دوه ډوله دي:

۱. په حسي شیانو کې لکه یو پړي سره بل پړي تړل

۲. په معنوي شیانو کې هم راځي لکه یوه خبره بلې خبرې سره یا زړه سره تړل

ددې وجه معنوي چارو کې استعمال موندل لکه عقد بیع، عقد سلم، عقد نکاح و غیره د لته باید واضح کړو چې د عقاید صیغه علما د جمع

Scanned by CamScanner

استعمالوي او اکثره یې مفرد نه استعمالوي د هغې خبرې دوه وجې کېدای شي.

۱. د اسلام عقیده ده او بل د کفر د ډلو مختلف عقاید دي چې هغه د باطلو عقیدو پېژندل هم ضروري دي لپاره د تردید او ځان ساتلو نو ځکه ورته عقاید (ډېري عقیدې) وایي.

۲. او یا دا چې د اسلام عقاید د مؤمن به د تعداد او کثرت په بنا ورته جمع صیغه استعمالېږي لکه ایمان او عقیده په الله تعالی عقیده په ملایکو عقیده په پیغمبرانو او داسې نورو، نو ځکه ورته عقاید وایي.

او په اصطلاح کې علم عقاید عبارت دي د هغه علم څخه چې بحث کوي د الله تعالی د ذات او صفاتو او توحید او د ټولو مؤمن به اشیا څخه چې نجات ورکوونکې دي د شکونو وهمونو او تیارو څخه لپاره د کامیابۍ د دارینو.

### د عقاید د علم موضوع:

د الله تعالی ذات او صفات دي او کوم چې د دې سره تعلق لري

### د عقاید د علم غرض:

د صحیح او رینښتنې عقیدې پېژندنه لپاره د کامیابۍ د دنیا او اخرت


### دوهم درس

د عقایدو په علم کې په ټولو عقیدوي شیانو پوهېدل او علم حاصلول مقصد دی ځکه د علم څخه غیر هیڅ عقیده په اسلام کې صحت نلري په هر مؤمن به علم راوړل د ایمان د صحت لپاره شرط دي او په جهل سره څوک

Scanned by CamScanner

معذور هم نه ګڼل کېږي لکه شرح د فقه اکبر لیکي (**ولا يعذر بالوقف فيه**) (ص-٢٥) نو علم او معرفت د عقیدې شرط شمېرل کېږي. دا چې علم ضروري دي نو د علم د حصول لپاره انسان ته الله سبحانه وتعالی دوه قوتونه ورکړي دي یو قسم د انسان د نفس په داخل کې او بل خارج د نفس څخه چې هغه خبر صادق او وحی ده. په لاندې نقشه کې خلاصه کوو.

### د علم اسباب




## وحی په دوه ډوله ده:

جلي او خفي.

جلي وحی قرآنکریم او خفي وحی احادیث د رسول الله صلي الله علیه وسلم دي. څرنګه چې ظاهري پنځه واړه قوتونه د عقل لاندې دي همدارنګه عقل بیا د وحی تابع دي

وحی هغه قوي مرجع د علم دي چې پکې نقصان او خطا نه شي واقع

کېداى په خلاف د حواس خمسه (پينځګوني حواس) او عقل چې د نقصان او خطا څخه نه خالي کېږي په همدې بناد اسلامي عقيدې اصلي او بنيادي مرجع چې عالم اسلام پرې استدلال کوي همدغه وحي ده.

د هرداسې علوم شته چې انساني عقل پکې بې کاره دي او عقل يې د درک څخه عاجز دي. لکه مخکښني تېر شوي واقعات چې په غير د صادق خبر څخه نه شي معلومېداى يا راروان حالات د قبر ثواب عذاب د قيامت دورځي احوال پل صراط ميزان وزن د اعمالو وغيره په غير د وحى نه شي معلومېداى نو الله تعالى انسان ته په همدغه صادق خبر (چې وحى ده) سره هغه څه وروه ښود ل چې انسان پرې د وحى څخه مخکې نه پوهېده.

که د هغو قومونو او مليتونو چې په وحى عقيده نلري عقايدو ته ځير شو نو ښکاره به وګورو چې هغوى په دې مسايلو کې څومره په تيارو کې پراته دي او د خپله اټکل څخه هغه بې دليله خبرې کوي چې انسان ورپورې خاندي ځکه هغوى په هغه څه کې عقل کارولى چې هغه د عقل د استعمال ځاى ندي.

لاندې مثال دا خبره ښه واضحه کوي د انسان د خلقت په اړه دهريه او کمونستان عقيده لري چې د مادي د طبيعي تکامل په نتيجه کې منځ ته راغلي دي.

دا خبره دوى په هيڅ علمي سند نشي ثابتولاي دوى په داسې ځاى کې عقل استعمال کړي چې عقل يې د درک څخه عاجزدي دا په غير د صادق خبر يعنې وحى څخه ممکن ندي عالم اسلام دا خبره په وحى معلوموي چې انسانان د ادم اولاده ده او ادم الله تعالى د خاورو څخه پيدا کړي دي حديث مبارک چې وحى ده داسې هدايت کوي.

[ کلکم من ادم وادم من تراب ]

ژباړه: ټول د ادم اولاده یاستی او ادم د خاورو څخه پیدا شوی، دا چې د وحی او صادق خبر مقام په عقل او چت اولوړ دي د اسلامي عقیدې علماو ایي چې نقل یعنې وحی راشي عقل به پر ښنو دل کېږي او په همدغه بناچې قیاس په مقابل د نص کې مردود دي او په مقابل د وحی کې قیاس او عقل کارول لومړی ځل لپاره ابلیس کړي دي چې په دې سبب لعنتي شو.

د الله تعالی ددې وحی او امر چې (اسْجُدُوْا لِآدَمَ) په مقابل کې داسې عقل او قیاس صادر کړ چې، زه د اور پیدا او ادم د خټې څخه، ایا زه د خټې څخه پیدا شوي ته سجده وکړم؟ نو ابلیس لعنتي وګرځیده ځکه عقل یې په مقابل د وحی کې استعمال کړ، چې د عقل مرتبه د وحی څخه لاندې ده نو معلومه شوه هغه خلک چې استدلال په وحی نه کوي په تیارو او ګړنګونو کې غورځیدلي او د ناپوهی ښکار شوي دي.

عقل اګر که د الله لوی نعمت دي خو د انسان په رهنمایي کې کفایت نه کوي کله چې وحی نه وه انسان خپل رب (پروردګار) نه پېژندو انسان حلال حرام.. نه پېژندل چې بله بیلګه یې په انساني جامعه کې بُت پرستي وه. دوی د الله تعالی د عبادت طریقه او د هغه حقوق نه پېژندل.

نو ځکه په شرک او د شرک په تیاره کې پراته وه اګر که عقل وه خو د دغه تفصیل لپاره صادق خبر او رهنمایي ضروري وه نو الله تعالی مهرباني وکړه او د پیغمبرانو علیه السلام به راليږلو سره یې دغه مشکل حل کړ.

د عقل سره د وحی داسې مثال دي لکه سترګو سره رڼا د انسان منزل ته رسېدو لپاره دوه خبرې ضروري دي سترګې او رڼایي که سترګې وي او رڼایي نه وي هم انسان مزل نه شي کولای. او که رڼایي وي او سترګې نه وي بیا هم نه شي رسېدلی. همدارنګه که عقل وي او وحی نه وي، نو رڼا نه شته انسان لارنه شي پیدا کولای او که وحی وي او عقل نه وي انسان

لېوني وي بيا هم وحی څخه نه شي مستفيد کېدای.

مخکې مو د علم د حصول په اسبابو کې ذکر کړل چې دوهم قوي سبب دعلم چې الله تعالی انسان ته ورکړي عقل دي دا چې عقل هر انسان په د پرو غير مرئيي (نه ليدل شوي) شيانو کې استعمالوي او د اسلام څخه ناخبره او بې عقيدې خلکو لپاره لمړني استدلال په عقل کېږي او په عقلي دلايلو کې د قناعت ورکولو څخه بعد نقل او وحی وړاندې کېږي نو په دغه بنا د دغه رسالې لمړني او ضروري موضوع چې هغه د اسلامي عقيدې او د ټولو پيغمبرانو عليه السلام د دعوت مرکزي مسئله وه هغه د الله تعالی د ذات صفاتو او توحيد د معرفت مسئله ده.

مونږ به لومړی لوستونکو ته د مشت نمونه خروار په توګه په اوله موضوع کې د الله سبحانه وتعالی د موجوديت عقلي دلايلو وځېړو بيا به په نورو مسايلو عقلي او نقلي دلايل ذکر کړو چې هم دغه مسئله باندې يقين ته په اسلامي شريعت کې ايمان په الله تعالی ويل کېږي نو ضروري ده چې د ايمان د لفظ معنی او ځېړنه وکړو بيا د دلايلو ته لاړ شو.

## درېيم درس

## ايمان

ايمان د افعال وزن دي د باب افعال څخه د مصدر صيغه ده، مجرد يې امن راځي د لفظ معنی يې ده (اعطا لامن) يعنې يو شي ته امن ورکول خو په عام لغت کې د تصديق په معنی راځي او دا ځکه چې تصديق هم د بل چا وينا ته امن ورکول دي د تکذيب (دروغو د نسبت) څخه اکثره يې چې په صله کې لام راشي د تصديق معنی ورکوي لکه

[وَمَآ اَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا] (۱)

ژباړه: او ته زموږ د خبرو تصدیق کونکی نه یې.

او چې په صله کې (با) راشي شرعي معنی ورکوي لکه:

[اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ] (۲)

ژباړه: دا (مومنان) هغه خلک دي چې ایمان لري (تصدیق) کوي په غیبو او په اصطلاح د شریعت کې عبارت دي له هو التصدیق بما جاء به الرسول صلي الله علیه وسلم من عند الله تعالی بالقلب في جمیع ما علم بالضرورة مجيّه به من عند الله تعالی.

شرح عقاید ونبراس صفحه (۳۹۲) او نبراس د مواقف په حواله دا سې عبارت نقل کوي.

**الایمان تصدیق الرسول فیما علم مجیّه به ضرورة فتفصیلا فیما علم تفصیلا واجمالا فیما علم اجمالا والاقرار به.**

یعنې د ایمان شرعي معنی داده چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم رښتني منل په ټولو هغه امورو کې چې د هغه راتلل پرې معلوم شوي، نو په تفصیلي ځایونو کې تفصیلي او په اجمالي ځایونو کې اجمالي او په همدغه خبره د ژبې اقرار کول دي یعنې هرڅه چې موږ ته پیغمبر علیه السلام اجمالي ښودلي اجمالي منل او چې تفصیلي یې ښودلي تفصیلي منل او د همدغې خبرې اقرار کول دي

شرح عقاید لیکي:

**هو التصدیق بالقلب و انما الاقرار شرط لاجراء الاحکام في الدنیا.**

ایمان د زړه تصدیق دی او د ژبې اقرار د احکامو دنیوي د اجراء لپاره

۱. یوسف / ۱۷

۲. البقره / ۳

Scanned by CamScanner

شرط دي لکه دويني او مال حرمت او د جنازي دلمونځ د صحت و غيره لپاره په همدغه وجه د اضطرار په حالت کې اقرار سقوط قبلوي نو ځکه وايو چې ايمان فقط دزړه تصديق دي خو تصديق باطني امر دي نو ددې لپاره چې په تولنه کې پېژندل شي او د اسلام احکام پرې جاري شي نو د ژبې اقرار شرط دي

ځکه نو اهل السنة والجماعة وايي:

**هو الاقرار باللسان والتصديق بالقلب.**

د نفس ايمان په ترکيب کې اهل السنة دوه شيان ضروري ګڼي تصديق او اقرار ځکه چې تصديق بسيط دی تجزيه نه قبلوي او بل ايمان کامل دی چې په ترکيب کې يې درې شيان ضروري دي تصديق، اقرار او عمل صالح. ايمان چې مطلق ذکر شي همدغه درې شيانو څخه عبارت دي خو اهل السنة دا هم وايي چې اعمال صالحه يعنې نېک عمل فرايض، واجبات ترسره کول او د ګناه څخه ځان ساتل د اصل ايمان په اجزاء کې داخل ندي بلکې د ايمان کامل اجزاء دي په دې خبره په ايتونو کې عطف د اعمال صالحه په ايمان هم دلالت کوي لکه:

**[الَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ]**(۱)

او د معطوف او معطوف عليه په منځ کې مغايرت هم وي او مناسبت هم وي. د دې مسلک په بنا اهل السنة وايي چې د نېکو اعمالو په پرېښودو مسلمان د اسلام څخه نه خارجېږي بلکې په ايمان کامل کې نقصان راځي چې هغه د عمل جز نقصاني کېږي يقين هغه راسخ او جازم علم دي چې شک او شبهه نه قبلوي د يقين څخه لاندې ظن او د ظن څخه لاندې شک او وهم دي

---

۱. العصر / ۳

که یقین کې تجزیه راشي بیا به درجي د ظن او شک ته راښکته شي چې په ایمانیاتو کې کار نه ورکوي ځکه ایمان لپاره د یقین مرتبه ضروري وي. یقین هم دري مرحلي لري لومړی علم الیقین دوهم عین الیقین دریم حق الیقین دی، علم الیقین هغه دی چې په رینښتیني خبرونو (اخبار صادقه) ثابت وي، عین الیقین هغه دی چې یو شی په سترګو ولیدل شي.

حق الیقین هغه دی چې کله تري شخص متلذذ (خوند اخستونکی) شي. د مثال په توګه چې یو سړي منه نه وي لیدلي او خوک یې د منې په کمیت او کیفیت خبر کړي نو ذهن کې په دې اړه علم راشي دا علم الیقین دی چې بیا یې کله په سترګو وګوري. دا حالت د عین الیقین دي چې د علم الیقین سره برابر دي او کله که تري خوراک وکړي یا عملاً مستفید شي دا بیا د حق الیقین مرحله ده همدغه مراتب د عام مومن او د اولیاء الله او پیغمبرانو علیهم السلام په نسبت تقسیم دي چې علم الیقین د عامو عین الیقین د خاصو اولیاء الله او حق الیقین د پیغمبرانو علیهم السلام په اړه وي.

دا هم باید ووایو چې ایمان د کسبیاتو یعنې کسبي او اختیاري چارو د جملې ځخه دي ځکه همدغه اختیاري چارې په اسلام کې د ثواب او عذاب مدار دي چې تکلیف ورپورې تړلی کېږي.

دا ایمان په تعریف کې لاندې مذاهب اختلاف لري جمهور علماء داهل السنة په دې نظر دي چې ایمان تصدیق اقرار او عمل ځخه عبارت دي همدغه رایه د امام شافعي، احمد بن حنبل اوزاعي، اسحق بن راهویه اوتولو محدثینو رحمهم الله ده خو په اهل السنة کې امام طحاوي د امام ابو حنیفه رحمه الله قول داسې نقل کوي چې ایمان د زړه تصدیق او د ژبې اقرار دی او ځینې علماء بیا اقرار صرف رکن زائد ګڼي او اصل ایمان فقط

Scanned by CamScanner

تصديق ګڼي (لکه مخکې چې تېر شو) همدغه مسلک د ابو منصور ماتوريدي دي خو ددوي ترمنځ دغه اختلاف لفظي دي ځکه چې جمهور علماء چې کوم تعريف د ايمان کوي داد کامل او منجي (نجات ورکونکي) ايمان تعريف دی او امام ابو حنيفه رحمه الله چې د ايمان کوم تعريف کوي چې هغه تصديق او اقرار دی دا د اصل (نفس) ايمان تعريف دی ځکه چې دواړه مسلکه په دې متفق دي چې مرتکب د ګناه نه کافر کېږي بلکې فاسق (ګناهګار) دي او د فسق او کفر ترمنځ نسبت د عام وخاص مطلق دی، ځکه هر کافر فاسق دي او هر فاسق کافر ندی البته کله که د مومن په مقابل کې استعمال شي بيا ترې کافر مراد وي لکه:

[أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا] (1)

دا د اهل السنة نظريه ده. ځينې فرقې لکه کراميه وايي ايمان فقط اقرار دی.

جهميه او قدريه وايي ايمان فقط معرفت دی، مرجئه وايي چې ايمان فقط تصديق او اقرار دی، خوارج وايي چې ايمان تصديق اقرار او عمل دي او معتزله وايي چې ايمان تصديق اقرار او عمل دي. د کراميه د مسلک بطلان واضح دي ځکه که ايمان صرف اقرا روي نو بيا به منافقين هم مومنان شي حال دا چې دا نظريه د قرآن کريم څخه خلاف ده د جهميه او قدريه مسلک هم باطل دی ځکه که صرف معرفت د ايمان لپاره کافي وي نو اهل کتاب (يهود او نصاري) به هم مومنان وي الله تعالی د دوی په هکله فرمايي:

[يَعْرِفُوْنَهُ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَاءَهُمْ] (2)

---

١. السجده / ١٨

٢. البقره / ١٤٢

Scanned by CamScanner

دوی د اسې نبي کریم صلی الله علیه وسلم پېژني لکه خپل زامن چې پېژني نو صرف معرفت ایمان نشي کېدلی همدا راز که دا اصل ومنل شي فرعون او ابلیس به هم مومنان ومنل شي.

د مرجئه مسلک هم باطل دی چې دوی وايي تصدیق او اقرار کافي او کامل ایمان دی نو گناه مومن ته هیڅ ضرر نه رسوي لکه کافر ته چې نېکي فایده نه رسوي دا مسلک هم د قرآن کریم او احادیثو څخه خلاف دي ځکه په هري گناه مومن ته هم وعیدونه راغلي دي او هم ورته حدودات تعین شوي دي دا ددې څرگند ثبوت دی چې مومن ته گناه ضرر رسوي البته ضرر به یې په خپله اندازه وي د خوارجو او معتزلو د مسلک څخه داسې څرگندېږي چې د ایمان په ترکیب کې درې شیان اصل دي اقرار تصدیق او عمل که یو پکې هم نه وي نو شخص د ایمان څخه وځي په همدغه بناء که څوک عمل صالح ترک کړي د دوی په نزد مومن ندي معتزله یې په کفر کې داخل نه گڼي په منزله بین المنزلتین باندې قول کوي او خوارج یې داخل في الکفر گڼي.

نو ځکه علامه طحاوي لیکي:

**والایمان هوالاقرار باللسان والتصدیق بالجنان.**

بیا لیکي:

**والایمان واحد واهله في اصله سواء والتفاضل بینهم بالخشیه والتقي ومخالفة الهوی وملازمة الاولی.** (مخ ۳۷۳)

ژباړه: ایمان اقرار په ژبه او تصدیق په زړه دی او ایمان یو دی او لرونکي د ایمان په اصل د ایمان کې برابر دي خو تفاضل او یو پر بل بهتروالي د اهل ایمان په منځ کې په تقوی پرهیزگاري او د خواهشاتو په مخالفت کې دي.

## د ایمان زیادت او نقصان:

د ایمان زیادت په ډېرو ایاتونو کې راغلي دي خو موږ د ټولو څخه صرف په لاندې یو ایت اکتفا کوو:

[وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا](۱)

ژباړه: او کله چې ولوستل شي په هغوی (مومنانو) ایاتونه د هغه (الله تعالی) نو زیات شي ایمان د هغوی.

په دې ایت کریمه کې د ایمان فقط زیادت ذکر شوی چې مستلزم د نقصان دی ځکه کوم شی چې زیادت کوي هغه نقصان هم کوي، د زیاتو علماء په نظر په دې ایت کې زیادت د مرکب ایمان مراد دی چې رجع یې نېک عمل ته کېږي لکه چې امام بخاري رحمه الله په خپل صحیح کې همدا سې ذکر کوي ((وهو قول وفعل ویزید وینقص)) چې ایمان وینا او عمل دی زیاتېږي او کمېږي او په دې اړه یې د زیادت ایاتونه هم رانقل کړي دي د امام بخاري رحمه الله مقصد مرکب ایمان دی د (وهو قول وفعل) عبارت پرې صریح دلیل دی کوم علماء چې په زیادت او نقصان د ایمان قائل نه دي د هغوی مقصد بسیط (نفس) ایمان دی لکه د شرح عقاید محشي نبراس لیکي (الایمان لایزید ولا ینقص ص ۴۰۰) او د اځکه چې یقین او تصدیق نه تجزیه کېږي او اعمال تجزیه کېږي.

د اهل السنة ځینې علماء د ایمان زیادت او نقصان قوت او ضعف ته راجع کوي چې د قوت څخه تعبیر په زیادت شوي دي او د ضعف څخه تعبیر په نقصان شوي دي. اګر که ضعف او قوت د کیف او زیادت او نقصان د کم د مقولې څخه دي خو یو د بل په معنی کې استعمالېږي او یا دا چې زیادت د ایمان څخه مراد د اجمالي ایمان تفصیل دی یعنې زیادت د

۱. الانفال/ ۲

مؤمن به او دا د پيغمبر عليه السلام په مبارک دور کې کېده چې څومره اياتونه به نازلېدل هغومره به پرې مؤمنانو ايمان ساته نو د مؤمن به زيادت د ايمان زيادت دي او يا د هغه جديد الاسلام (نوي مسلمان شوي) مؤمنانو په حق کې او س هم کېداى شي چې د څومره مؤمن به شيانو څخه خبرېږي هومره به يې ايمان زياتېږي تر دې چې تکميل شي بل قول دا دى چې زيادت څخه مراد کثرت د زماني دي چې څومره زياته زمانه په يو مؤمن تېرېږي هغومره يې د تصديق زمانه زياتېږي تر وفات پورې او دا هم د زيادت يو قسم دي يعنې په ايمان دوام داري

## څلورم درس

## د ايمان او اسلام ترمنځ فرق

ايمان د لغت په لحاظ تصديق او اسلام انقياد يعنې غاړه اېښودلو ته وايي دواړه ديو باب څخه د مصدر صيغې دي خو په شرع کې دواړه لازم او ملزوم دي يعنې ترمنځ يې تلازم دي ديوبنده د نجات لپاره دواړه ضروري دي د عقايد علماء په دې اړه درې مشهور مسلکه لري لومړى دا چې د دواړو ترمنځ تلازم دى لکه شرح عقيدة الطحاويه ليکي:

**فلايوجدايمان بلااسلام ولااسلا بلاايمان وهماكالظهرمع البطن.**

دواړه داسې دي لکه شا او خېټه فرق يې په لاندې اياتونو کې تشريح کوو.

**[قَالَتِ الْأَعْرَابُ اٰمَنَّا قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا]**(۱)

ژباړه: اعرابيان وايي چې موږ ايمان راوړي دي ته (اى پيغمبره) ورته ووايه چې تاسې ايمان ندي راوړي بلکې داسې ووايي چې موږ اسلام

۱. الحجرات / ۱۴

راوړي دي.

ایمان عبارت د عقیدوي باطني اموراتو څخه دي او اسلام د عملي او ظاهري اموراتو څخه عبارت دي یو ظاهر او بل باطن چې په همدې ایت کې همدغه فرق ته اشاره ده. او په دې بل ایت کې تلازم ته اشاره ده.

[فَأَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ○ فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ○] (۱)

ژباړه: نو موږ وویستل هغه خلک چې په دې کلي کې د مؤمنانو څخه وه (کلي د لوط علیه السلامٙ) خو ونه مونده موږ په دې کلي کې دیو کور د مسلمانانو څخه غیر بل کور.

نو په دې ایت کې تلازم ته اشاره ده.

شرح عقیدة الطحاویه لیکي چې ایمان او اسلام چې کله په یو ځای کې ذکر شي جلا جلا معنی یې مراد وي او کله چې یو یو ذکر شي بیا متلازم دي

[اذا اجتمعا تفرقا واذا تفرقا اجتمعا_هکذا في عقیدة اطحاویة](مخ۳۹۴)

دا چې اسلام ظاهري او ایمان باطني انقیاد دي د جبرئیل علیه السلام حدیث مشهور کې هم ورته اشاره شوي ده چې کله یې د پیغمبر علیه السلام څخه پوښتنه وکړه چې دایمان په اړه خبر راکړه؟

ویې فرمایل:

ان تومن بالله وملایکته وکتبه ورسله

ژباړه: دا چې ته تصدیق وکړې په الله تعالی او د هغه په ملایکو او د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو.

---

۱. الذاریات/ ۳۵- ۳۶

په دې برخه کې باطني امور ورته یاد کړل او چې کله یې د اسلام په اړه پوښتنه وکړه وه یې فرمایل:

**ان تشهدان لااله الاالله وان محمدا رسول الله وتقیم الصلوة وتوتی الزکوة وتصوم رمضان وتحج البیت الخ.**

یعنې چې ته ګواهي وکړی چې لایق د عبادت بل څوک نشته سوا د الله تعالی څخه او محمد صلی الله علیه واسلم د الله تعالی رسول دی او ته لمونځ قائم کړی او د رمضان روژه ونیسی او د بیت الله حج ادا کړی او په دې برخه کې ظاهري امورات ورته یاد کړل.

دوهم مسلک دا دی چې ایمان او اسلام مترادف دي دربیم دا چې ایمان د اسلام یوه برخه ده ځکه چې په کامل انقیاد کې د زړه انقیاد هم داخل دي چې تصدیق دي نو په دې بنا ویلای شو چې ایمان د اسلام هغه برخه ده چې د باطني امورو سره تعلق لري او عام ظاهري انقیاد ته هم شامل دي لکه حدیث د جبرئیل کې ذکر شو او همدغه حدیث کافي دي په دې باب کې.

## پنځم درس

## د ایمان اضداد

د ایمان د صحت لپاره د ایمان د اضداد او ماتونکو څخه ځان ساتل شرط دي د ایمان مشهور منافي او اضداد په لاندې ډول دي:

- تمسخر او استهزاء د مؤمن به پورې
- قطعي او یقیني حرام لکه غلا، زنا وغیره حلال ګڼل
- غیر الله ته د عبادت په حق معتقد کېدل
- توهین او بې حرمتي د مؤمن به (په ایمان راوړل شوی اصل)

Scanned by CamScanner

- توهین او بې حرمتي د شعائر الله (د دین نښې لکه کعبه)
- د دین په ضروریاتو کې له یو شي څخه انکار
- د شرعي نصوصو معناګانې د الله تعالی او د هغه د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) د مراد څخه غیر په خپل مزاج سره تعبیرول لکه د ملحدینو، قادیانیانو او غالي روافضو د قرآنکریم په نصوصو کې تحریفي معناګانې د داسې شخص اقرار کول فائده نه لري.
- د الله تعالی د رحمت څخه ناامیده کېدل
- د الله تعالی د عذاب څخه ځان په امن کې ګڼل

که د ذکر شوو اضدادو څخه یو ضد هم په یو شخص کې ومندل شي د هغه اقرار معتبر نه دی.

بر عکس د ایمان د صحت لپاره لاندې خبرې ضروري دي:

- معرفت د هر مؤمن به
- تصدیق او یقین د زړه
- اقرار د ژبې
- تعظیم د شعائر الله او د هر مؤمن به
- اخلاص په کلمه توحید کې
- د الله تعالی او د رسول صلی الله علیه وسلم او امرو ته انقیاد
- کفر بالطاغوت او د غیر الله د عبادت او د اغیارو د باطلو قوانینو د انقیاد څخه ځان ژغورنه
- محبت د الله تعالی او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د ټولو مؤمن به شیانو سره
- د ایمان د نواقضاتو او اضدادو څخه ځان ساتل.

Scanned by CamScanner

## شپږم درس

## د الله تعالی په موجودیت دلایل

د اسلامي عقیدې اوله موضوع د الله سبحانه وتعالی په وجود عقیده لرل دي اهل اسلام عقیده لري چې الله سبحانه وتعالی د ټول نظام ځمکو، اسمانونو او په دې کې موجود ټولو مخلوقاتو خالق، رب، مالک او مدبر دی د عدم څخه یې مخلوق په حکم منځته راوړی یعنې مخکې هیڅ مخلوق او هیڅ موجود وجود نه درلوده دغه لمړنی مخلوق که د متعددو نظرونو او عقیدو خاوندان ترې په هر شي تعبیر کوي لکه متکلمین ورته (جزلا یتجزی) او دهریه ورته ماده او سائنس پوهان ورته اتوم یا ذره وایي الله تعالی په حکم منځته راوړی دی د الله تعالی موجودیت ډېر روښانه دی او دلایل په کې د احاطی لاندې نه راځي البته د لوستونکو د توجه لپاره یو څو د مشت نمویي خروار په ډول به یادونه ترې وکړو.

۱. مخلوق د اسم مفعول صیغه ده معنی یې ده پیدا کړل شوي، هر پیدا کړل شوي پیدا کوونکي غواړي. موږ په علم صرف کې هم لولو چې مفعول هغه ته وایي چې فعل او اثر د فاعل پرې وارد شوي وي لکه مضروب وهل شوي نو وهونکي به یې خامخا وي مضروب په غیر د ضارب څخه او مخلوق په غیر د خالق څخه هیڅ وخت عقل نه مني نو معلومه شوه چې دا مخلوق هم خالق لري چې د خالق د فعل اثر پرې واقع شوي وي.

۲. لکه څرنګه چې یوه کوټه د یو معمار یعنې جوړونکي په وجود دلیل وي اګر که موږ د هغې جوړونکي نه وي لیدلي صرف د کوټې شتوالي د جوړونکي په شتوالي دلالت کوي همدارنګه اسباب او الات لکه موټر د خپل جوړونکي په وجود او صنعت دلالت کوي چې دغه موټر هم یو مصنوع دی او هر مصنوع صانع لري همدارنګه داځمکه، اسمان او کاینات هم مصنوع دي صانع لري چې هغه الله سبحانه وتعالی دی

Scanned by CamScanner

یعنې مصنوع یوازې د صانع موجودیت نه بلکې د هغه صفات هم په ګوته کوي مثلاً که موټر وګورو نو همدغه دوه خبرې به په نظر راشي چې یو دې موټر جوړوونکي او دوهم د جوړوونکي ښه صفت، هوښیارتوب، پوهه او زیرکتیا همدا رازد مخلوقاتو وجود د الله تعالی وجود او ښه انتظام او حسن نظم د هغه د صفت او کمال دلیل دی.

۳. په کایناتو کې اشرف مخلوق انسان دي، انسان سمع، بصر، اراده تفکر، خندا، ژړا او داسې نور صفات لري د دې صفاتو مادي مصادر نشته دا صفات د خارج څخه په کې ایښودل شوي خامخا ایښودونکی لري چې هغه الله تعالی دی

۴. په کایناتو کې موجوده شیان په دوه ډوله دي.

الف: ساکن

ب: متحرک

په ساکن شیانو کې د سکون او په متحرک شیانو کې د حرکت مرجع پکار وي یعنې متحرک محرک غواړي مثلاً یو موټر د موټروان څخه غیر و کشتۍ د کشتیبان څخه غیر او یو طیاره د پیلوټ څخه غیر حرکت نه شي کولی په حرکت کې حرکت ورکونکی ته محتاج دي همدا رنګه سپوږمۍ، لمر او نور سیارات متحرک دي حرکت ورکونکی ضرور لري دا حرکت د مخلوق د اختیار څخه وتلی دی دغه حرکت لپاره یو محرک ضرور شته چې هغه الله تعالی دی، د دې دلیل په تایئد د فزیک لاندېنی اصل د یادولو وړ دی چې قوه هغه شی دی چې د صدور او تولید مرکز غواړي تر څو ساکن جسم متحرک او متحرک جسم ساکن کړي بناً په ذکر شوو سیاراتو د حرکت قوه د یو ذات له طرفه وقع شوی ده.

۵. همدا رازمونږ ګورو کاینات د یو منظم نظام لاندې چلېږي لکه بادونه بارانونه د نباتاتو زرغونه یو قانون او نظام لري چې د هغه قانون او

Scanned by CamScanner

نظام موافق روان دي باران ورول وریښ رانقل کول باد بندول د انسانانو په اختیار کې نه دي بلکې د یو غیبي نظام تابع دي چې هغه نظام چلوونکي الله تعالی د ي.

۶. موږ په خپل چاپیریال کې دسترګو لاندې نظام دیوې ښایسته کوټې په شکل کې ګورو لاندې ځمکه پاس اسمان، ځمکه فرش اسمان دچت حیثیت لري اولمر، سپوږمۍ، ستوري پکې دچراغ کارورکوي زموږ په لاس جوړه شوې کوټه هم همدغه درې شیانو ته ضرورت لري چې فرش، چت اورڼادي نو ددې ورې کوټې مجازي جوړونکی خامخاهمدغه انسان دي نو ددغه لوی کوټې حقیقي جوړونکي هم شته دي چې هغه الله تعالی دي.

۷. د یو شپونکي څخه چاپوښتنه وکړه دکایناتو خالق په څه شي معلومېدای شي؟

- شپونکي په خوب کې داسې وویل:

زه په دې لار روان یم داوښانو بچکي ګورم ددې څخه معلومېږي چې په دې لاره اوښ تللي دي اودقدمونو چاپونه ګورم ددې څخه معلومېږي چې سړي هم په دې لاره تللي دي، نو چې بچکي داوښانو موجودیت اوقدمونه یې دخاوندانو په موجودیت لارښونه کوي نو ځمکه اسمانونه به څرنګه دخپل جوړونکي په وجود دلالت نه کوي؟

۸. دحیواناتو اونباتاتو دژوند نظام لکه دحیواناتو توالد دنباتاتو شنه کېدل دخپل وخت اومیعاد سره سم اوددې لپاره هم خپل وخت اوزمان مقررول د مخلوق له اختیار څخه وتلې خبره ده داهم دیوذات نظام جوړونکي په وجود دلالت کوي چې د هغه تر واک او اختیار لاندې اداره کېږي، ځکه هر قانون قانون جوړوونکی غواړي چې هغه الله تعالی دی.

۹. نباتات دوه ډوله دي اول هغه چې په تنه او څېټېږي لکه توت، منه،

Scanned by CamScanner

زردالو، شفتالو او داسې نور او ځینې یې په ځیلي سره په مغ ځي لکه هندوانه، خربوزه، کدو وغیره که نظر وکړو هندوانه، خربوزه او کدو لوی لوی اجسام لري او غټ وزن لري که چېرې دا په لویو ونوکې لکه د توت په شان ونه کې زرغونه کېدای نو د خلکو دور لاندې کېناستل به د خطر څخه ډک وو او همدغه میوه که په ځمکه را پرېوتې نو خرابېده او د استفادې وړ به نه وی نو دې لپاره په ځمکه د ځیلي په ډول انتظام وشو او وړو میوه جاتو ته د لوی ډډ او تنې په ډول انتظام وشو دا کار هم مخلوقاتو ندي کړي ضروري ذات شته چې دا ترتیب یې جوړ کړي دي چې هغه الله تعالی دي

۱۰. که انسان د خپل خلقت بهیر ته زیر شي چې اول نطفه بیا علقه بیا د غوښې ټوټه او بیا دیو طفل په شکل دنیا ته راتلل او بیا یو قوي انسان ترې جوړېدل د دې خبرې یو ښکاره ثبوت دی چې د غه انسان یو خالق لري چې د دغه بهیر او د خلقت په جریان کې لاس لري یعنې د دې بهیر تر شا د یو فاعل مختار واک شته بیا که د انسانانو په لاسونو کې بندونه په هر مقام خپل مفصل لکه د مټ، مړوند د ګوتو بندونه او د لاس په سر کې نوکان په یو منظم ډول جوړېدل همدا رنګه د خولې د غاښونو ښکلی ترتیب چې مخامخ غاښونه تېره تېره چې د خوراک په وخت کې د چاقو په څېر کار کوي او د ژامنې غاښونه پلن او لوی لوی کېدل چې د میچن په څېر د میده کولو وظیفه اجرا کوي دا په یو منظم نظام جوړېدل چې انسان پخپله دا کار نشي کولای خامخا د یو نظام برابرونکي په موجودیت دلالت او لار ښوونه کوي چې هغه الله تعالی دي

۱۱. د شهدو د مچی په کوچني جسم کې دوه متضادې کارخانې د شهدو او زهرو موجودې دي چې په لیشه کې زهر او په خوله کې شهد لري او یو د بل ضد دی او یو د بل سره نه خلط کېږي خامخا د انظام د قوي برابرونکي په وجود دلیل دي. خلاصه دا ده چې موږ په دې ارت او پراخه

نظام کې د پالني اثار ګورو د مخلوق د اختيار څخه وتلي د نظام چليدل ګورو اهرڅه د قوانينو او ضوابطو د لاندې ترسره کېدل په سترګو ګورو.
لکه باران، هوا، دلمر، سپوږمۍ، ستورو او نورو سيار اتو حرکت د نباتاتو د زرغونې او حيواناتو پالنه ديو قانون له مخې ترسره کېږي او هرڅه لپاره تاکلي ميعاد او وخت ګورو دې تول نظام ترشا خامخا ديوې هستۍ وجود شته چې هغه الله سبحانه وتعالى دي همدغه عقلي دلايل په نقل کې هم ګورو چې په دغه لاندې ايت کې نقلا خلاصه کېږي
[إِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِيْ تَجْرِيْ فِيْ الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ وَّتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَO] (۱)
دِ بحث د اوږدوالي د خوف څخه پر همدغه څو دلايل اکتفاء کوو.

## اووم درس

## د منکرينو د اعتراضاتو ځوابونه

د الله سبحانه وتعالى د موجوديت څخه منکرين دا اعتراض کوي چې که چېرې خداى په نظام کې موجود وي نو زموږ په حرکاتو بنه يې اغيزه کوله لکه زموږ د لاس، پښو خوزول ګرځېدل خوراک، څښاک دو يناد ازموږ په اختيار کې دي په دې کې د کوم نامرئي ذات تصرف او په دې اختيار کې د هغه اثر نه وينو.
ځواب دا دى چې انسان په ژوند کې دوه ډوله حرکات ګوري يو اختياري بل غير اختياري

---

۱. البقره / ۱۶۴

الله تبارک وتعالی انسان ته په بعضو چارو کې اختيار ورکړی دی، چې هغه د امتحان او ابتلا د دورې د تکميل په منظور ترې نشي سلب کېدای، ترڅو انسان په خپل اختيار د خير يا شر کار وکړي او د ابتلا دوره تکميل کړي چې ثواب او عذاب پرې مرتب شي او بعضې غير اختياري لکه مرض، صحت، مړه کېدل، ژوندي کېدل، خوشحالي، خفګان وغيره کې اختيار نه دي ورکړي چې دا هرڅه د يو فاعل مختار ذات په تصرف دلالت کوي که په همدغه اختياري اعضاء کې د يو عضوي مرکز صدمه وګوري بيا هم انسان اختيار د لاسه ورکوي دا د يو غيبي ذات په وجود ښکاره دليل دي.

۲. دهريه او منکرين دا اعتراض هم کوي چې ټول نظام طبيعيت منځ ته راوړی دی چې د يو طبيعي تصادم پيدا اوار دي ځواب – مخکې مو واضح کړه چې په نظام کې هر څه د قانون او اصولو سره سم تر سره کېږي د هر څه لپاره تاکلی لائحه ګورو حيوانات نباتات هر څه د قانون او لائحې سره سم خپل مدار ته رسېږي او د هر يو د پيدا ينښت او پالنې اړتيا او د رقع لپاره مقرارات ګورو چې دا د يو قانون جوړونکی څخه غير ممکن نه دي نو د طبيعي تصادف نظريه باطله ده همدا راز د طبيعيت په اړه مونږ پوښتنه کوو چې طعيت معدوم دی که موجود؟

که معدوم (ناموجود) وي نو دا څرنګه کېدای شي چې يو شی په خپله موجود نه وي او بل شی موجود کړي؟ او که طبيعيت موجود وي نو بيا پوښتنه دا ده چې طبيعيت د علم قدرت ژوند اراده او داسې نور صفات لري که نه؟

که دا صفات نه لري نو بيا ممکن نه ده چې يو شی بی علمه بی قدرته او بی ژونده شی داسې مخلوق منځته راوړي چې هغه مخلوق دی بيا دا صفات ولري او که دغه صفات بيا طبيعيت ته ومنل شي نو بيا هغه الله

تعالی دی چې دهریه د نوم په اېښودو کې خطاء دي دوی ورته طبیعت او مور ورته الله تعالی وایو.

## د طبیعت تعریف

علامه جورجاني په کتاب التعریفات کې د طبیعت تعریف داسې کوي:

**[الطبیعة عبارة عن القوة الساریة فی الاجسام بها یصل الجسم الی کماله الطبعی]** ( مخ۲۱ )

ژباړه: طبیعت عبارت دی د هغه قوت څخه چې په جسم کې داخل او ساري وي او په سبب یې جسم خپل کمال ته رسېږي همدا رازدکتور هویدي په خپل کتاب الوجود الحق کې د طبیعت تعریف داسې کوي.

طبیعت په لغت کې خوي او خلقت ته وایي او په اصطلاح کې دوه مفهومه لري.

۱.(اشیاء بذاتها ) پخپله موجودات لکه حیوانات، نباتات.. او داسې نور.

۲. دا چې طبیعت عبارت دی د شیانو د صفاتو څخه لکه ګرموای، یخوالی، حرکت او سکون.. او داسې نور بناء په دغه دواړو تعریفونو د دهریو نظریه باطله ده ځکه که طبیعت د یو شي د ذات څخه عبارت شي نو بیا څرنګه کېدای شي چې یو شی دی هم خالق او هم مخلوق وي دا ښکاره باطله نظریه ده په دې کې دور او تسلسل راځي او دور او تسلسل باطل دی، ځکه دور عبارت دی د داسې حالت څخه چې یو شی د بل لپاره خالق وي او هما غه مخلوق بېرته دده لپاره خالق شي او تسلسل عبارت دی د غیرمتناهي کېدو څخه او که طبیعت صفت ومنل شي نو صفت خو موصوف غواړي ځکه صفت په مستقل ډول د موصوف څخه غیر

Scanned by CamScanner

موجود یدای نه شي لکه علم صفت د عالم دی قدرت صفت د قادر دی همدا سې ژړا او خندا مستقل نه وي د یو موصوف څخه صادرېږي نو بیا ممکن نه ده چې صفت ذات منځته راوړي چې بیا هغه ذات نور متعدد صفات هم ولري بلکې برعکس د طبیعیت غوښتنې به لاندې دول دي.

۱. دا نظام خامخا یو چا منځته راوړی
۲. د انظام د یو هدف په خاطر منځته راوړل شوی
۳. نظام اداره کونکی لري
۴. نظام په چلولو کې د چلونکي یو والی غواړي تر څو په نظام کې فساد چې د طبیعیت خلاف دی رامنځته نه شي.

دهریه او کمونستان داهم وایي چې د مخلوق منشاء همدا ماده ده کوم خالق نه لري او نه هم د منځه ځي فقط حالت یې د یو څخه بل ته تغیر کوي ماده تل وه او تل به وي په همدغه بناء د کمونیستانو نظریې ته ماتریالیستي فلسفه وایي.

ځواب د کمیونستانو او دهریانو دغه نظریه هم باطل او غلطه ده حکه د ساینس په هیڅ برخه کې د مادې تعریف داسې نه دی شوی چې تل وه او تل به وي بلکې ماده په خپله یو مرکب اصل دی چې د متعددو اتومونو څخه منځته راځي چې دغه اتومونه متعد دې اجزاوی د پروتون، نیوترون او الیکترو لري همدغه حالت د مادې ترکیب او حدوث په ګوته کوي او هر مرکب د فلسفې په نظر حادث وي قدیم نه شي کېدای.

ساینس پوهان ماده داسې تعریفوي:

ماده هغه محسوس شی دی چې وزن حجم او کتله ولري د فضاء یوه برخه اشغال کړي په مختلفو حالاتو د جامد مایع او غاز په توګه فزیکی او کیمیاوي تغیرات لري بیا د متعددو مادو څخه مختلف مواد او عناصر جوړېږي لکه هایدروجن او اکسیجن دوه مادي غازونه دي په

تعامل او ترکیب سره یې د او یو په نوم مرکب ماده منځته راځي او اکسیجن او هایدروجن خپل خواص د لاسه ورکوي د مادي فنا هم واضح ده چې یو مثال یې نور دي چې د خپل تاکلي اندازې څخه وروسته سرعت سره متلاشي او د منځه ځي نو دا حالت د مادې د قدم (همیشوالي) نظریه تکذیبوي

د فلسفې د نظره لاندې خبرې غلطې او نامعقوله دي

۱. جوړ شوي بغیر د جوړونکي څخه

۲. تسلسل یا غیر متناهي کېدل

۳. دور یعنې یو شی بل پورې موقوف کول او هغه بل شی بیرته د اول پورې موقوف کول

۴. محل د حوادثو حادث نه منل یعنې چې په کوم شي تغیرات راځي هغه دایمي منل

بنا زموږ دعوه دا ده چې ماده حادث ده او د حدوث عوامل د مادې د کتلې سره تړاو لري مثلاً د مادې حرکت چې د حرکت د مخه ولې ساکن وه؟ او د سکون څخه د مخه چېرته وه؟ حرکت ته چا اړ کړله؟ د دې حرکت باعث د حرکت څخه د مخه چېرې وو؟ همدارنګه په ماده کې د حیات صفت چا او د کوم مرجع څخه ایښودی شکه مړه توکې په ژوندیو نه بدلیږي بلکې د ژندی مادی څخه چې د حیات صفت په کې وي ژوندي پیدا کیږي همدا راز د حیات او ژوند تعریف څرنګه کېدای شي؟

دا واضح ده چې ژوند یو خارجي حکم دی چې عبارت د روح او د جسد د پیوست کېدو څخه دی او د روح د کیفیت معلومولو څخه هر انسان او هره فلسفه عاجزه ده او همدغه اصل ته قرآنکریم پخوا اشاره کړې ده.

Scanned by CamScanner

[قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّيْ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًاO] (١)

ژباړه: ورته او ایه چې روح زما د رب د امر څخه دی او تاسو ته نه دی درکړی شوی له علم څخه مګر کم

د کمونیستي فلسفې بله شبهه داده چې انسان د مادي طبیعي او متکامل حالت څخه عبارت دی د لکونو کلونو په تېرېدو سره ماده په حرکت راغله او د حرکت څخه وروسته حیوان او بالاخره د تکامل په حالت کې د انسان په بڼه څرګند شوه دا فلسفه هم غلطه او باطله ده که همداسې وي نو دا فلسفه د لاندې سوالونو سره مخ کېږي چې بیا یې د ځواب څخه عاجزه ده.

لومړی دا چې په نظام کې ولې ساکنې مادې شته؟

دوهم دا چې هره ساکنه ماده ولې په حرکت نه راځي؟

درېیم دا چې هره متحرکه ماده په طبیعي ډول د انسان په بڼه څرګنده شي او په همدغه طبیعي مسیر کې د هرې مادې څخه انسان جوړ شي؟

څلورم د حیواناتو متعدد ډولونه لکه غوا اوښ، اس... او داسې نور موجو نه وی ولې ذی روح متعدد او متنوع شو؟

پینځم دا چې ولې دا ټول د انسان مسخر ګرځیدلی؟

که همداسې وی نو هر متحرک په یو مسیر او ردیف کې په یو تشکل څرګند شوی وی او د انسان لپاره یې د تسخیر علاقه موجود نه وی؟

دهریان وایي چې په خدای عقیده لرل د پخوانیو زمانو عقیده وه چې د جهالت دور وه او خلک په هیڅ نه پو هېدل چې د پېښو عوامل ورته معلوم نه وه لکه زلزله بادونه مرګ وغیره نو دا به یې یو نامرئي ذات ته منسوبول او ویل به یې چې دا هر څه خدای جل جلاله کوي مګر اوس

---

١. بني اسرائیل / ۸۵

Scanned by CamScanner

ګورو د علم په سبب په نوي اکتشافي اسبابو کې ددې هرې پېښې سبب معلوم شو نو ځکه د خدای جل جلاله عقیده صحت نده؟

ځواب: د دهریانو او کمیونستانو د دغه نظر په هم سراسر باطله او غلطه ده ځکه په نظام کې مورږ د پالني اثار ګورو او په نظام کې د پالونکي د لاس ننښې ګورو همدا راز ګورو چې دلته هر څه د مضبوطو قوانینو او اصولو سره سم تر سره کېږي د ضرورت په وخت باران کېږي باد راالوځي د خلکو مشکل رفع کېدو اسباب ګورو ماشوم د مور د پیدایشت په وخت کې د مور د سیني څخه شیدي سکي د ماشوم د لوږي مخنیوي کېږي.

نبات په خپل وخت سره سم زرغونه او په مدار مدار لوېږي او هره برخه یې د مخلوق د ارتیاء یو خلاء ډکوي داني غلي انسان خوري وابنه ګیاه حیوانات خوري دد غه بهیر تر شا د یو فاعل مختار ذات د موجودیت څخه غیر تصور نشي کېدای نو داسې نه ده چې دغه غیر اختیاري چاری خلکو د بی علمی څخه نامرئیي ذات ته منسوب کړیاد ورېځې د حرکت د باران د ورېدو د لمر حرکت د شپې او ورځې اختلاف د بادونو تغیراتو او عوامل څه دي او د چا لخوا اداره کېږي واضح ده چې د یو ذات لخوا اداره کېږي چې هغه الله تعالی دی.

د اسلامي عقیدې مخالفین په مومنانو دااعتراض کوي چې تاسو وایي چې دا هرڅه الله تعالی پیدا کړي نو الله چا پیدا کړي دي؟

ځواب که چېرته مورږ دې سوال ته ځیر شو دا د شیطان یوه وسوسه ده چې خپلو اولیاء (ملګرو) ته یې القاء کوي (په زړه کې اچوي) ځکه چې الله تعالی خالق دي او خالق هغه ته وایي چې نورشیان پیدا کوي دي چا پیدا کړي نه وي، دوی په دغه بې عقله سوال سره خالق څخه مخلوق جوړوي چې الله سبحانه و تعالی هم خالق او هم مخلوق ګڼي که دا سوال

څېړنې لاندې ونیول شي نو دا به دور او تسلسل ته ورسېږي هغه دا سې چې خالق به بل خالق او هغه به بل خالق او هغه به بل خالق تر لا یتناهي سلسلې پورې روانه وي چې دغه تسلسل باطل او واضح البطلان دي
او کچېرته دا ووايي چې خالق مخلوق او مخلوق خالق پيدا کړی وي نو دا دور دی چې يو دبل لپاره څنګه خالق کېدای شي؟
دور هم باطل دی، نو دا معلومه شوه چې الله تعالی په خپله خالق دي چاپيدا کړي نه دي او ټول مخلوقات الله تعالی پيدا کړي دي الله تعالی نه ابتداء او نه انتهاء لري نه زوال او نه حدوث لري دانسان عقل د الله تعالی د ذات په کيفيت کې کارنه شي کولای رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته همدغسي فرمايي چې شيطان به درته دا هم ووايي چې الله چا پيدا کړي تاسو په الله پورې پنا وغواړئ يعني (اعوذبالله) ووايي.
د حديث عبارت دا دی:
[قَالَ أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي الشَّيْطَانُ أَحَدَكُمْ فَيَقُولُ مَنْ خَلَقَ كَذَا مَنْ خَلَقَ كَذَا حَتّٰى يَقُولَ مَنْ خَلَقَ رَبَّكَ فَإِذَا بَلَغَهُ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللّٰهِ وَلْيَنْتَهِ] متفق عليه (۱)
ژباړه: دابوهريره څخه روايت دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي شيطان به يو کس ته په تاسو کې راشي ورته به وايي چې دا چا پيدا کړی؟ دا چا پيدا کړي تر دې چې ورته به ووايي چې ستارب چا پيدا کړي؟ نو کله چې دې ځای ته راورسېږي په الله پورې دې پنا ونيسي او دا سې فکر دې پرېږدي
بل حديث کې دا هم راغلي
[فَقُولُوا (اللّٰهُ أَحَدٌ اللّٰهُ الصَّمَدُ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ)]

---

۱. مشکوة صفحه ۱۹ کتاب الايمان

Scanned by CamScanner

یعنې داسې دي وو ایي چې الله یو دی الله چا ته محتاج نه دي او هر شي الله ته محتاج دي څه شي یې زیږولی نه دي او د چا څخه زیږېدلی ندي او ورسره برابر څه شي نه شته بیا دي درې کرته چپ خوا ته لاړې توکړي او الله ته دي پنا ویسي د شیطان رټل شوي څخه (مشکوة صفحه ۱۹ حواله ابوداود ).

وروسته به د الله جلت عظمته د صفاتو په بحث کې راشي چې الله تعالی د مخلوق د صفاتو څخه منزه او پاک دي باید بیا هم او وایو چې الله تعالی ابتدا، انتهاء، حدوث زوال، مرض، ذکوریت، انوثیت یعنې نارینه والي، ښځینه والي، ستوماني، خطاء، نسیان، جهل، زیږېدنه زوجیت، نسب، تشبیه، خوراک، څښاک، لباس وغیره څخه منزه او پاک دي ځکه دا صفات د مخلوق دي.

## اتم درس

## عرش او فوقیت

اهل السنة والجماعت عقیده لري؛ چې عرش داوو اسمانو نو لوح قلم او کرسي څخه پورته دی یعنې زموږ څخه فوق چې کوم اسمان دی د دې څخه پورته او وه اسمانونه په همدې ترتیب چې د ځمکې او اسمان تر منځ څومره فاصله ده د هر دوو اسمانونو ترمنځ همدومره فاصله ده د اووه اسمانونو څخه پورته لوح، قلم او کرسي ده چې دا ټول د الله تعالی مخلوقات دي او د دې ټولو څخه پورته بیا عرش دي چې عرش هم د الله تعالی مخلوق دي.

الله تعالی فوق العرش یعنې د عرش څخه فوق دی بلاکیف استوا علی العرش د الله سبحانه وتعالی بلاکیف (په غیر د څرنګوالي ) صفت دی کما یلیق بشانه (څنګه یې چې د شان سره لایق دی) په ډېر روایتونو کې

Scanned by CamScanner

ثبوت راغلي دي.

امام مالک رحمه الله فرمايي:

**[الاستوامعلوم والكيفية مجهوله والايمان به واجب والسوال عنها بدعة]**

ژباړه: استوای معلوم دی څرنګوالی يې نامعلوم دی ايمان په استوای واجب دی او د کيفيت پوښتنه يې بدعت دی.

او د الله تعالی معيت دمخلوق سره هم ثابت دي.

الله تعالی فرمايي:

**[وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ]** (١)

ژباړه: او هغه د تاسو سره دی چې هر چېرته ياستی.

په دې اړه شرح عقيدة الطحاويه ليکي:

**(والعرش والكرسی حق وهو مستغن عن العرش ومادونه محيط بكل شئ وفوقه ص۳۱۰)**

ژباړه: او الله تعالی د عرش اوغير عرش څخه بی پروا دی (حاجت) نه لري په هر شي محيط دی او د هر شي څخه فوق دی - دلته دوه خبرې قابل دفکر دي ١ دا چې د الله تعالی فوقيت دمخلوق دفوقيت سره تشبيه نه کړل شي ٢ اودوهم دا چې الله تعالی دحلول څخه منزه دي لکه دحلول عقيده چې دبعضې نصاری وه نو الله تعالی دمخلوق څخه جدا دی په دې معنی الله سبحانه وتعالی عرش ته ضرورت نلري ځکه عرش مخلوق دي (کما مره).

**اهل السنة تاويل اوتمثيل نه کوي وايي کما يليق بشانه دا د ټولو صفاتو په باره کې داهل سنت نظر دي همدارنګه د الله تعالی په ذات کې**

---

١. الحديد /۴

سوچ اوفکر کول منع د ي ځکه د انسان عقل محدود او کمزوري دي صرف ایمان اويقين کفايت کوي محد ود عقل به په لامحدود ذات کې څنګه کار وکړي؟

(استواى على العرش) په دېرو اياتونو ثابت ده خو دا متشابهات دي د دېر بحث په کې ونه شي همدومره اجمالي وينا کافي ده زياته څېړنه په کې خطر لري

## نهم درس

## د الله سبحانه و تعالى توحيد

دمخه موولوستل چې په الله تعالى ايمان لرل دوه خبروته چې په وجود د الله اوپه توحيد د الله دي شامل دي

تر دې ځايه مود الله دموجوديت دلايل په مختصرډول وڅېړل اوس د الله تعالى د يو والي چې په خپلو ټولو حقوقو کې يوازي او برخدار نه لري

دلايل څېړل کېږي چې عبارت د توحيد څخه دي يعنې د توحيد تعريف اواقسام اودلايل تربحث لاندې نيول کېږي ترڅو مکمل واضاحت د مسئلې وشي

د توحيد لفظ په عربي لغت کې د تفعيل په وزن دمصدرصيغه ده په لغت کې ويل کېږي يوشي يو ګڼل ياد يوشي په يووالي حکم کول يا د يووالي نسبت کول يوشي ته

او په اصطلاح کې د الله تعالى ذات پاک او مجرد ګڼل دي د خپل الوهيت په ټولو خصوصياتو کې د شرکت څخه

په همدې ترتيب ابو المنتهي هم تعريف کړی دی ليک:

Scanned by CamScanner

(تجريدالـذات الالهيـة عـن كـل مايتصـورفى الافهـام ويتخيـل فى الاوهام والاذهان، صـ ۳)

يعنې الهي ذات مجرداو پاک ګڼل دي د هرهغه شی څخه چې په وهم اوخيـال کـې ګرځي اوتصور يې کوي اوپـه اوهامواواذهـانوکې متخيـل کېږي اسم فاعـل يې موحدراځي او ضد يې اشراک چې اسم فاعـل يې مشرک راځي.

توحيد د ټولو اسماني کتابونو او په ځانګړي ډول د قرآنکريم مرکزي موضوع ده.

الله جل جلاله فرمايي:

[هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوْا بِه وَلِيَعْلَمُوْٓا اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ] (۱)

ژباړه: دا پند دی د خلکو لپاره او (د دې لپاره راغلی) چې خلک پرې او وېرول شي او په دې خبره پوی شئ چې هغه الله يو دی.

د معاذ بن جبل رضی الله عنه په روايت شوي مرفوع حديث کې هم ذکر راغلی [حَقُّ اللّٰهِ أَنْ يَعْبُدُوهُ، وَلا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا] (۲).

ژباړه: نبي عليه السلام معـاذ بـن جبـل تـه وفرمايـل حق د الله تعالی په خپلو بنده ګانو دادی چې يوازې دده عبادت وکړي او هيڅ شی ورسره شريک جوړ نه کړي.

ملا علي قاري هم ليکي: [القرآن کله ورد فی التوحيد] (۳)

ژباړه: يعنې قرآنکريم ټول په توحيد کې راغلی.

دا چې شرک په کبيره ګناهونوکې لويه ګناه ده او(من اکبرالکبائر) دی

---

۱. ابراهيم /۵۲

۲. مشکوة

۳. شرح فقه اکبر صـ ۱۵

Scanned by CamScanner

نو الله تعالی د دغه مسئلې د وضاحت لپاره وخت په وخت پیغمبران
الیږلي دي.
په دې اړه الله تعالی فرمایي:
[وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ] (۱)
ژباړه: او بېشکه موږ لېږلی په هر امت کې رسول په دې خبره چې د الله تعالی بنده ګي وکړي او د طاغوت (باطلو خدایانو) څخه ځانونه وژغوري.
په بل ایت کې هم وضاحت دی:
[وَمَاۤ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْۤ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ○] (۲)
ژباړه: موږ له تا څخه مخکې هیڅ یو پیغمبر ندی لېږلی مګر هر یو ته موږ وحي کړې ده چې لایق د بنده ګۍ بل څوک نه شته غیر له ما څخه نو ما یو ومنئ په بنده ګۍ سره.
ابن عباس څخه نقل راغلی:
(كلما ورد فى القرآن من العبادة فمعناه التوحيد، كمالين على هامش الجلالين ص ۴)
ژباړه: هر عبادت قرآنکریم کې راغلی معنی یې توحید دی.
څرنګه چې دا ډېره اوږده او ضروري مسئله ده چې مدار د کفر او ایمان هم دغه مسئله ده، نو له دې وجې څخه شیطان کوښښ کوي چې د الله تعالی بنده ګان شرک کې مبتلا کړي او د توحید د فطري لارې څخه یې

---

۱. النحل / ۳۶
۲. الانبیآء / ۲۵

منحرف کړي په همدغه اساس ډېر امتونه دابلیس پراغوا دشرک او کفر ښکار شوي دي مختلف شیان یې ورته ښایسته کړي دي او د هرشي څخه یې لکه دبتانو، لمر، سپوږمۍ، ستورو، تېږو، ونو، بوټو، قبرونو اوږ.. او کله د یو شي او کله د بل شي څخه یې ورته اله (خدای) جوړ کړی دی د ټولو څخه دمخه د شرک لومړنی قسم چې دنیا کې منځ ته راغلي دی هغه دبت پرستۍ په شکل په بشري جامعه کې دابلیس په اضلال شروع شوی دی هغه هم د نوح علیه السلام د قوم څخه چې یغوث، یعوق، ود، سواع او نسر داپنځه بتان خلکو په خدایتوب ونیول له دې څخه مخکې په انسانیت کې هیڅ قسم شرک نه و، وروسته یې بیا شکلونه متعدد او بدل رابدل شو چې همدغه مضمون ته د قرآنکریم په یو ایات کې اشاره هم شوې ده.

[وَمَا كَانَ النَّاسُ اِلَّآ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَاخْتَلَفُوْا] (۱)

زیات مفسرین په دې نظر دي چې مخکې خلک په یو امت او یو دین و، چې هغه توحید دي بیا یې اختلاف په توحید کې وکړ چې بعضې خلکو شرک وکړ نو بیا الله تعالی پیغمبران را ولیږل او د شرک مقابله یې وکړه او زیاتو خلکو ته یې ددغه خراب مرض څخه نجات ورکړ.

الله سبحانه وتعالی دګناهونو په فهرست کې په شرک ډېر خفه کېږي ځکه چې دا دیو څرګند حقیقت او انساني فطرت څخه انحراف دی او لوی ظلم دی ځکه که د شرک دعقیدې سره یو انسان مړشي الله سبحانه وتعالی ورته ښښنه هم نکوي.

الله تعالی فرمایي:

[اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ] (۱)

---

۱. یونس / ۱۹

ژباړه: بېشکه الله نه بښي دا چې شرک ورسره جوړکړی شي او له دې څخه غیر ببښنه کوي چې چاته وغواړي، د توحید په اصل مفهوم کې په امت کې ځینې فرقې تېر وتي او په خپل ګومان یې هر شی د توحید منافي ګڼلی مثلاً معتزله چې الله تعالی ته صفات ثابتول یې هم شرک وګڼه او خانونه یې په اصحاب العدل والتوحید ونومول او یا لکه خوارج چې د مشرکینو په اړه نازل شوي ایاتونه په مؤمنانو تطبیقوي مګر موږ به د اهل السنة والجماعة موقف چې د توحید په اصلي مفهوم ولاړ دی په لنډ ډول وځېړو.

عقل هم وایي چې د کایناتو متصرف او د نظام اداره کوونکی باید یو وي

که چېرته متعدد وي نو بیا دا نظام به مختل او فاسد ګرځېدلی وي د تعدد ادنی افراد دوه دي

که دوه الهه په کایناتو کې موجود شي نو یو به دیو کار د کولو او بل به د نه کولو اراده کولی نو خامخا به نظام کې خلل راتله که چېرې یو وه وایي چې زه دا کار کوم نو هغه بل یې مخه نیوې شي کنه؟

که چېرته دده مخه وه نیسي او قدرت ولري چې هغه بل کمزوري او عاجز کړي نو بیا دا عاجز او کمزوري اله نه شي کېدای ځکه اله کمزوري نه وي

که چېرته یې دا نشي عاجز کولی او د هغې د ارادې مخنیوی نشي کولی نو بیا دا بل کمزوری او عاجز کېږي چې اله نشي کېدلی، نو معلومه شوه چې اله د کایناتو یو دی کله چې ثابته شوه چې دوه اله ندي نو پورته تعدد په خپله نفي شو.

---

۱. النسآء / ۴۸

Scanned by CamScanner

همدارنګه په نقلي دلایلو کې هم قرآن کریم فرمایي:

[لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا] (۱)

ژباړه: که په ځمکه او اسمانونو کې نور خدایان وی د الله تعالی څخه غیر نو دواړه به فاسد شوی وای.

په دنیوي چارو کې هم موږ یو والی ګورو چې اشتراک د هغې چارو په اختلال او فساد تماميږي مثلا که د یو موټر دوه موټروانان وي او یا د یوې کشتی دوه کشتیبانان وي یا د یو مسجد په یولمونځ کې دوه امامان مخکې شي څرګند خبره ده چې د دې چارو نظام به خرابيږي او په دې شیانو کې به فساد راځي.

همدا راز په دې کایناتو کې هم که د الله تعالی سره په یوه کوچني برخه کې د چا اشتراک وی، نو نظام په حتما خراب شوی وی د الله توحید دانسان دفطرت غوښتنه ده د دې لارې څخه انحراف دفطرت انساني څخه انحراف شمېرل کېږي.

د توحید متعدد ډولونه دي چې دعقایدو علماو هرچا دخپل علمي تبحر په بنا اقساموته متعدد نومونه ورکړي دي چې هر یو ي په خپل ځای صحیح دی لکه د الله تعالی د ذات توحید، د اسماء صفاتو، د عباداتو او احکامو توحید چې بیا یې هر یو یې په جلا جلا ځانګو وېشلی لکه د صفاتو په توحید کې توحید في التصرف في الاستعاذه في الرقي وغیره.

موږ دلته فقط د شرح عقیده الطحاویه عبارت چې لنډ دی اکتفا کوو داسې لیکي: [فا ن التوحید یتضمن ثلاث انواع احد ها الکلام في الصفات والثاني توحید الربوبیة وبیان ان الله وحده خالق کل شيء والثالث توحید الهیته وهو استحقاقه سبحانه وتعالی ان یعبدوحده

---

۱. الانبیآء/۲۲

شريک له](۱)

توحيد متضمن د دري ډولونو دی:

۱. په صفاتو کې توحيد

۲. توحيد د ربوبيت او د دې بيان چې الله تعالى يوازې خالق د هر شي دي

۳. توحيد د الوهيت دي يعنې دا چې الله سبحانه وتعالى يوازې مستحق د عبادت دي چې برخه دار او شريک پکې نلري او عبادت د الله سبحانه حق دی، يعنې الله سبحانه وتعالى د عبادت د ټولو ډولونو حقدار دی.

عبادت دوه ډوله دی:

۱. بدني عبادت

۲. مالي عبادت

بدني په درې برخو وېشل کېږي:

۱. قلبي

۲. لساني

۳. عملي

**قلبي:** چې د زړه سره تعلق لري لکه ايمانيات اعتقاديات خوف توکل تواضع وغيره

**لساني:** چې د ژبې څخه صادرېږي لکه دعا ذکر تلاوت وغيره.

**عملي:** د نورو اعضاو څخه صادرېږي لکه لمونځ، روژه، رکوع، قيام، قاعده، سجده او قتال في سبيل الله وغيره.

۲. مالي عبادات: لکه زکات، عشر، د حج مصارف، صدقات د نذر

۱. شرح عقيده الطحاويه صفحه ۷۲

Scanned by CamScanner

اموال وغیره.

ددې تولــو عباداتو حقــدار یــوازې الله ســبحانه دی، کــه پــه دې عباداتو کې یوه برخه چا غیر الله ته ورکړه شرک به وي (شرک في العبادت دي) د مکــې مشــرکین د الله د ربوبیــت او خالقیــت پــه توحیــد قایــل وه د الوهیت او عبادت توحید څخه انکار کاوه د دوی د دغه عقیدې حکایت قرآن کریم په ډېرو مقاماتو کې کړې دي په یو مقام کې داسې فرمایي:

[وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ] (۱)

ژباړه: ای پیغمبره که ته د دغه مشرکانو څخه پوښتنه وکړي چې ځمکه او اسمانونه چا پیدا کړي دوی به خامخا ووایي چې الله

دې ته ورته بې‌شماره ایتونو څخه معلومېږي چې د ربوبیت په توحید مشرکین قایل وه خو د الوهیت د توحید څخه یې انکار کاوه لکه د دوی دغه د الوهیت د توحید څخه انکار په بل ځای کې قرآن کریم حکایت کړي دي فرمایي:

[أَجَعَلَ الْأٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌO] (۲)

مشــرکینو بــه ویــل.. چــې ایــا دې پیغمبر ډېــر الهــه یو الــه ګرځــولي دي داخو عجیب شي دي

یعنې الله تعالی یوازې اله منل دوی ته نا اشنا ښکارېده، نو ځکه یې ور څخه انکار کاوه او د لااله الاالله منلو ته تیار نه وه چې په لااله الاالله کې د الوهیت د توحید اقرار دي

قرآنکریم فرمایي:

[اِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ يَسْتَكْبِرُوْنَO] (۳)

۱. لقمن / ۲۵

۲. ص / ۵

۳. الصفت / ۲۵

Scanned by CamScanner

ژباړه: کله چې مشرکينو ته وويل شي چې اله بل نه شته سوا د الله تعالى څخه دوى د دغه خبرې د منلو څخه کبر کوي (نه يې مني).

د الوهيت توحيد مستلزم دي د ربوبيت او خالقيت توحيد ته نو ځکه قرآنکريم لومړى دوى ته د الوهيت د توحيد منلو لپاره د دليل په توګه د ربوبيت او خالقيت توحيد وړاندې کوي. هغه څوک چې رب او خالق وي هغه به اله هم وي دعوه داده چې اله به هغه څوک وي چې هغه پيدا کونکي او پالونکي وي نو پيدا کوونکي او پالونکي خود مشرکينو په عقيده هم بل څوک ندي سوا د الله تعالى څخه نو اله به هم الله سبحانه وتعالى وي ځکه دوى په دې معترف وه چې زموږ بتان خالقان او پالونکي نه دي په دې معنى چې باران ورول رزق نازلول د مخلوق پيدا کول دا ټول الله سبحانه وتعالى کړي دي نو چې دا کارونه چا کړي دي هماغه به يوازې اله هم وي دوى فقط د پيغمبرى دعوت په مقابل کې دوه باطل دليلونه وړاندې کول چې قرآنکريم ترې داسې يادونه کوي.

۱. [وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا] (۱)

ژباړه: موږ خپل پلاران په دې کارليدلي دي.

۲. [هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَاللّٰه] (۲)

ژباړه: دوى زموږ سفارشيان دي د الله تعالى پر وړاندې.

په دغه دواړو خبرو کې دوى سره هيڅ قسم عقلي او اسماني دليل نه وه بلکې دا هرڅه يې د خپل ګومان مطابق کول حال دا چې د قرآنکريم دعوه داوه:

[وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ] (۳)

۱. المآئده / ۱۰۴

۲. يونس / ۱۸

۳. البقره / ۱۶۳

Scanned by CamScanner

ژباړه: اله ستاسو يو اله دي نشته بل اله سوا د همدغه الله څخه

دلته دوه خبرې قابل د غور دي.

۱. الوهيت الله تعالی ته ثابتول دي.

۲. الوهيت منحصر کول دي د الله تعالی د ذات پورې او د غير څخه يې نفي کول دي.

مشرکينو د الله الوهيت هم منه او دا يې تسليموله چې الله تعالی اله دي خو د غير څخه يې د الوهيت نفي نه کوله او دا ضروري خبره ده لکه څرنګه چې الوهيت الله ته ثابتول د ايمان رکن دی همدا رنګه د غير څخه يې نفي کول ضروري او د ايمان بل رکن دي.

همدغه دوهم جز د مشرکينو سره د مومنانو متنازع فيه (نزاع ټکی) ګرځيدلي وه چې مشرکين يې منلو ته تيار نه وو او دي ته د قرآنکريم په اصطلاح کې کفر بالطاغوت وايي د طاغوت څخه يعنې شرکي الهه او شرکي قوانينو څخه انکار د ايمان شرعي لپاره حتمي او ضروري اصل دي قرآنکريم فرمايي:

[فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوْتِ وَيُؤْمِنْ بِاللّٰهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى] (۱)

د همدغې اصل په بنا د الوهيت د توحيد لپاره چې د امستلزم د توحيد د ربوبيت دي او بر عکس نه دي يعنې د ربوبيت توحيد مستلزم د توحيد الوهيت نه دي.

زموږ د توحيد په کلمه کې د همدغه دواړو لويو مقصدونو په نظر کې نيولو په خاطر د اسې الفاظ په خلص ډول راوړل شوي چې لا اله الا الله يو لفظ د اله په کلمه کې راوړل د وهم نفي د الوهيت د غير الله څخه او انحصار د الوهيت د ذات د الله تعالی پورې.

---

۱. البقره / ۲۵۲

دا اله لفظ په خپله درب په توحيد دلالت کوي او په نفي اثبات سره په کي حصر راوړل شوی که دا کلمات دا سې راوړل شوي واي چې الله اله - يعني الله اله دي نو دا دواړه مقصده پکې نه ځای کېدل مخکې مو مکررا ذکر کړل چې قرآنکريم مشرکينو ته همدغه دليل زيات ذکر کوي چې څوک رب وي خالق وي هغه به اله هم وي لاندې اياتونو کې غور سره معلومېږي

[أَفَمَنْ يَخْلُقُ كَمَنْ لَا يَخْلُقُ] (۱)

بل ايت:

[إِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَنْ يَخْلُقُوْا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوْا لَهٗ] (۲)

بل ايت:

[اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ] (۳)

او دا سې نور ...

دا او د پته ورته ايتونو کې چې دلته د ټولو دليکلو ګنجايش نه شته دي ددې وضاحت کوي چې اله يوازې الله تعالى دي او بل هيڅ شي اله نه دي او نه کېدای شي او نه الله تعالى د خپل الوهيت په خصائصو کې برخه ورکوي او نه پرې څوک جبري سفارشي شته دي او نه هم الله تعالى د چا څخه مجبور رېږي.

اله يو عربي کلمه ده چې تعريف يې د عقايدو علماء او مفسرين دا سې کوي

[كل مايأله اليه الناس ويتضرعون لديه في حوايجهم ومشاكلهم ويعتقدون بان له سلطة غيبية في دفع المضار وجلب المنافع

---

۱ النحل ۱۷
۲ الحج ۷۳
۳ البقره ۲۱

Scanned by CamScanner

استقلالاووساطة فى مالايقدرعليه الناس فى دايرة الاسباب العادية عندهم، شرح منار](۱)

هر هغه اله دي چې خلک ورته عاجزي اوتضرع کوي په خپلوحاجاتواومشکلاتوکې اوپه هکله يې داسې عقيده ولري چې يقينادايوغيبي سلطه لري په دفع د ضررونواوورکولودمنافعوکې ياداسې چې همدغه اله په دغه چاروکې يوازې اومستقل وګڼي چې په خپله يې کوي او يا دا چې دبل په واسطه يې کوي چې بل ذات ورته اختياردالوهيت دخصائصوورکړي وي يعنې په هغه چاروکې چې عام خلک د هغې په کولوتوان نه لري په دايره داسبابوکې يعنې داسبابوڅخه فوق چاروکې متصرف وي (اسباب دعقايدوڅخه جدااخبره ده) په پورته ذکرشوي عبارت کې داله په تعريف کې دادوه خبرې په خصوصي ډول په ذهن کې کېنول په کاردي

۱. اله غيبي سلطه لري

۲. اسبابوڅخه فوق ورته تضرع وکړي شي همدغه يې په حل قادروګڼل شي نو همدغه ذات بياپالونکي اوپيداکونکي وي اوهمدغه حقدار دبندګۍ دي چې خلک ورته عاجزي وکړي

نوځکه په کلمه طيبه کې هم دلارب الاالله، لاخالق الاالله وغيره عبارتونوپرځای دلااله الاالله په څېرښايسته اوجامع الفاظ ځای شوي دي چې په ټول مفهوم مکمل کلمات دي دکلمې سره داڅوخبرې دايمان د تحقق لپاره ضروري دي:

۱. دکلمې صحيح الفاظ

۲. دکلمې په معنی اومفهوم پوهېدل

---

۱. قرطبي ج۱ص۷۳

Scanned by CamScanner

۳. د کلمې اقرار
۴. د کلمې اخلاص
۵. محبت او ادب
۶. تسلیمېدل
۷. او هغه څه چې د کلمې مربوط او د دین د ضروریاتو څخه وي پرې اقرار کول دي
۸. د کلمې د منافي او اضدادو او د هر هغه شي څخه چې د کفر شعار وي ځان ساتل، که څوک کلمه طیبه لولي او په معنی یې نه پوهېږي دا سې شخص د الله تعالی په نزد ایمان خاوند نه دی.

[من اتی بالکلمة الطیبة من غیرملاحظ معناهالایعدمومناعند الله تعالی]

دا خبره تفسیر روح المعانی د قرآنکریم د دې ایات لاندې ذکر کړې:

[وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا] ([1])

نو معلومه شوه چې په مطلب او مفهوم ځان پوهول ضروري دي. د دې څخه معلومه شوه چې الله تعالی اله او حاکم اعلی دی چې حکم یې په دوه برخو وېشل کېږي:

۱. تکویني حکم
۲. تشریعي حکم

قرآنکریم د غه دواړه ډوله حکمونه الله تعالی ته خاص کړي دي په دې عبارت:

[أَلَا لَهُ الْحُكْمُ] ([2])

---

[1] الاعراف / ۲۰۵
[2] الانعام / ۶۲

ژباړه: يعنې حکم صرف الله جل جلاله لپاره دي
او بيا داسې صراحت کوي:
[وَلَا يُشْرِكُ فِيْ حُكْمِهٖۤ اَحَدًا○] (۱)
مطلب دا دی چې الله تعالیٰ په خپل حکم کې چاته برخه نه ورکوي کله چې حکم مطلق ذکرشي دواړه ډوله ترې مراد وي
**حکم تکويني:** هغه حکم دی چې کله يې الله تعالیٰ صادر کړي بيا مخلوق په کې اختيار نه لري لکه باران کول بندول، ژوندي کول مړه کول، مريض کول صحت ورکول دا کارونه بل څوک نه شي کولای.
**حکم تشريعي:** هغه حکم دی چې الله تعالیٰ يې صادر کړي او يو قانون راولېږي مخلوق ته يې د کولو اختيار وي لکه حلالول، حرامول، فرض کول، لازم کول دا د الله تعالیٰ د تشريعي احکامو څخه دي
قانون جوړونه د الله تعالیٰ د الوهيت حق او خصوصيت دي څرنګه چې معلومه ده چې الله تعالیٰ د مخلوق په پيدا کولو کې يوازې دي
نو د قانون په رالېږلو کې به هم يوازې حقدار وي نو غير الله د قانون د جوړوني حق نلري د الله د قانون څخه غير نور قوانين لکه ديموکراسي، ديموکراتيک، يوناني فلسفه، د بشر د حقوقو اعلاميه، د پارلمانونو د خوا جوړ شوي قوانين، د طاغوتي قوانيو څخه ګنل کېږي چې تر څو ترې يو انسان انکار ونه کړي ايمان يې په الله تعالیٰ نه صحيح کېږي
الله تعالیٰ فرمايي:
[وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ○] (۲)
که څوک د الله تعالیٰ د رالېږل شوی کتاب د حاکميت

---

۱. الکهف / ۲۶
۲. المائده ۴۴

Scanned by CamScanner

دحقانیت عقیده ونلري کافردی خوکه څوک یې دحقانیت دحاکمیت عقیده لري خوعمل کې سست دي نوبیابه کافر نه وي خو ګناه ګاراومرتکب دګناه کبیره به وي

د تحلیل او تحریم واک یوازې د الله تعالی په حکم صورت نیسي د نصاری یوه ډله په همدغه عقیده د اسماني شریعت څخه خارج شوه چې خپل باطل پرست پیران اوباطل علماء یې په خدایتوب ونیول الله تعالی ترې داسې حکایت کوي فرمایي:

[اتَّخَذُوٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ] (١)

ژباړه: دوی خپل علما او پیران په خدایتوب نیولي د الله تعالی څخه غیر.

کله چې عدي ابن حاتم چې مخکې نصراني وه بیا مسلمان شو دهمدغه ایات په اړه زموږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه او عرض یې وکړو چې موږ خود پیرانو او عالمانو عبادت نه کولو نو پیغمبر علیه السلام وفرمایل:

[أَلَـيْسَ يُحَرِّمُـونَ مَـا أَحَـلَّ اللّٰهُ فَتُحَرِّمُونَـهُ وَيُحِلُّـونَ مَـا حَـرَّمَ اللّٰهُ، فَتَحِلُّونَهُ؟"فَقُلْتُ: بَلَى، قَالَ:"فَتِلْكَ عِبَادَتُهُمْ] (٢)

ژباړه: ایا نه و هغوی چې د الله حلال به یې حرام ول او تاسو به حرام ګڼل او د الله تعالی حرام به یې حلال ول تاسو به حلال ګڼل نو ما وویل هو همداسې وو نو وی فرمایل همدا دهغوی عبادت وو.

---

١. التوبه / ٣١

٢. ترمذي ٢ جلد صفحه ۴٠. احمد . بهیقي او ابن جریر

Scanned by CamScanner

نو معلومه شوه چې شريعت جوړونه يوازې د الله تعالى حق دى خلاصه دا دى چې د طاغوتي الهه و څخه انکار کول د ايمان رکن دى چې په لااله الاالله کې دا اقرار موجودي.

## د اله صفات

د اله څو صفات قرآن کريم ذکر کړي دي:

۱. عام تصرف (بشپړ واک)
۲. قدرت مطلقه
۳. مشيت نافذه
۴. علم محيط (بشپړ علم)

چې لاندې اياتونه پرې وضاحت کوي:

[لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا] (۱) تصرف او ملکيت عامه

[اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌO] (۲) پر هر څه قادر دي دلته قدرت کامله دى.

[اِذَآ اَرَادَ شَيْـًٔا اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُO] (۳) مشيت نافذه چې اراده يې نافذه ده.

[وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًاO] (۴) محيط او بشپړ علم

---

۱. طه/ ۲
۲. البقره/ ۲۰
۳. يس/ ۸۲
۴. الطلاق/ ۱۲

Scanned by CamScanner

داد الله سبحانه وتعالی دالوهیت خصوصیات دي چې غیرد الله تعالی څخه یې بل څوک نلري، د الله تعالی علم په غیب او ښکاره محیط او کامل دی غیب عبارت د هر هغه شی څخه دی چې د انسان حواس یې د درک څخه عاجز وي قرآنکریم د غیب درې مرحلې ذکر کړي.

۱. علم الغیب
۲. اطلاع بالغیب
۳. ایمان بالغیب

- دعلم الغیب په اړه قرآن کریم ذکر کوي:

[لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ] (۱)

ژباړه: نه پوهېږي هغه څوک چې په اسمانوو او په ځمکو کې دی په غیب مګر یوازې الله تعالی.

او بې شماره ایتونه او احادیث پکې شته چې د ټولو ذکر کول دموضوع داوږدوالي سبب کېږي.

- **اطلاع بالغیب**: دا د انبیاء علیهم السلام خصوصیت دی او د هغوی معجزه ده الله تعالی فرمایي:

[وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَي الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِيْ مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَآءُ] (۲)

ژباړه: او نه دی الله تعالی چې اطلاع درکړي تاسو ته په غیب لیکن الله تعالی غوره کوي (د دې اطلاع لپاره) د خپلو رسولانو څخه چې چا ته وغواړي.

دغه اطلاع یا اظهار دیو غیبي خبر چې الله تعالی کوم نبي ته وکړي

---

۱. النمل / ۶۵
۲. آل عمران / ۱۷۹

Scanned by CamScanner

دا د نبي په حق کې اعجاز وي او د الله تعالی د علم غیب دلیل دي کله چې نبي ته اطلاع وشي چې وحی ده بیا یې خلکو ته په ښودلو کې بخل نه کوي الله تعالی فرمايي:

[وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍO] (۱)

ژباړه: او نه دی نبي د غیب (وحی) په ښودلو کې بخل کونکی.

د اطلاع بالغیب داسې مثال دی لکه یو چا ته چې د کوم لرې ځای څخه تیلیفون راشي هغه شخص بیا نورو خلکو ته خبر ورکوي.

- **ایمان بالغیب**: په مغیباتو عقیده د رلودل د مومن مکلفیت او خاصیت دي چې دا اصل د ایمانیاتو له جملې څخه دي.

قرآنکریم فرمايي:

[الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ] (۲)

ژباړه: او دا (مؤمنان) هغه خلک دي چې ایمان لري په غیبو باندې.

دیادوني وړ ده چې کفر او شرک په حقیقي ډول هغه دي چې د الله تعالی د دین یعنې مومن به اصل څخه انکار وشي او د دین د ضروریاتو څخه د یو ضروري مسئلې څخه داسې انکار وشي چې نه تاویل او نه هم د بلې معنی احتما ل پکې وي لکه د الله تعالی د وجود یا توحید څخه انکار وکړای شي یا د پیغمبر، قرآن کریم د کوم سورت یا ایت و غیره څخه انکار وشي په بعضو احادیثو او روایاتو کې په ځینې اعمالو د کفر او شرک اطلاق شوي دي چې هغه په زجر او تهدید حمل دي لکه لاندې مبارک احادیث:

- [مَنْ تَرَكَ الصَّلاَةَ مُتَعَمِّدًا فَقَدْ كَفَرا] چې عمل یې عمل د کفر دي خو

---

۱. التکویر / ۲۴

۲. البقره / ۳

Scanned by CamScanner

که په استحلال حمل شي نو بیا خو ظاهره ده.

- [مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ فَقَدْ أَشْرَكَ] خلص مطلب دا دی چې د غیرالله په نوم قسم یا د ریا لپاره نېک عمل یا داسې نورو اعمالو په سبب د کفر اوشرک الفاظ په زجر او تهدید حمل دي دا په هغه حالت کې چې د الوهیت عقیده د غیر الله ونلري

هغه کفر اوشرک تري مراد نه دي چې مرتکب یې د اسلام د دایرې څخه خارجېږي او جنازه پرې صحت ونلري، دا اګر که لوی ګناهونه دي خو هغه لوی کفر ترې نه مراد ېږي یا لکه د بنده نوم چې عبد پکې غیرالله ته مضاف شوی دی لکه عبدالرسول، عبد الحسن، وغیره... چې خلاف شرع الفاظ دي

په لوی کفر اوشرک لاندې امور مرتب دي:

۱. نکاح یې د مسلمان سره نه کېږي
۲. د مسلمان څخه یو تر بله میراث نه وړي
۳. د مسلمان دوستي ورسره جواز نلري
۴. مسلمان یې په قتال مکلف ګرځي
۵. مرتکب یې مباح الدم ګرځي
۶. جنازه پرې نه صحیح کېږي
۷. د مسلمانانو په هدیره کې تدفین نه صحیح کېږي
۸. د لاس ذبیحه یې نه حلالېږي
۹. سلام اچول پر ي ناجایز دی
۱۰. او بالاخره دایمي جهنمي دي که دنیا کې توبه ونه باسي دا خبري په لوی کفر مرتب دي (اعاذنا الله من ذالک).

Scanned by CamScanner

## لسم درس

## د قبرونو زیارت

د قبرونو زیارت جایز بلکې یو مستحب امر دی ځکه پیغمبر علیه السلام څخه په قولي او فعلي احادیثو کې مقبرو ته تلل ثابت دي په یو قولي حدیث کې فرمايي:

**[کُنْتُ نَهَیْتُکُمْ عَنْ زِیَارَةِ الْقُبُورِ اَلاَ فَزُورُوهَا]**

ژباړه: ما تاسې د قبرونو د زیارت کولو څخه منع کولای، خبردار اوسئ چې زیارت د قبرونو کوئ.

خو په دې اړه افراط او تفریط ناروا عمل دی لکه لاندې حدیث د مشکوة شریف ترې منع کوي:

**[لاَ تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ وَلاَ تُصَلُّوا إِلَيْهَا]**

ژباړه: په قبرونو د پاسه مه کینئ او د قبرونو په طرف لمونځ مه کوئ، په دې حدیث کې د قبرونو د بې حرمتۍ څخه او په احترام کې د تجاوز څخه منع معلومېږي.

افراط او تفریط (زیادت او کمبود) په امت کې د ځینو سرکشو ډلو لکه روافضو لخوا رامنځته شو لکه د قبرونو څخه کومک غوښتل او د هغوی په تصرف عقیده ساتل چې دا څرګند تجاوز دی د نفع او ضرر مالک او په کایناتو کې متصرف یوازې الله تعالی دی.

الله تعالی خپل نبي ته داسې فرمايي:

**[قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا]** (۱)

ژباړه: ورته او وایه ای پیغمبره، چې زه مالک نه یم د خپل ځان لپاره د نفع او نه د ضرر.

---

۱. الاعراف / ۱۸۸

همدارنګه علامه ابن کثیر مرفوع حدیث نقل کړی چې په کې دا الفاظ راغلي:

[من زعم ان الله تعالی جعل للعباد من الامر شئا فقد کفر] (۱)

ژباړه: که چا داسې ګومان وکړ چې الله تعالی خپلو بنده ګانو ته په خپلو چارو کې برخه ورکړې ده بېشکه کفر یې وکړ.

امام فخرالدین رازي د سورة یونس ۱۸ ایات لاندې داسې لیکي:

[ونظیره فی هذاالزمان اشتغال کثیر من العوام بتعظیم قبورالاکابر باعتقاد انهم اذا عظموا قبورهم فانهم یکونون لهم شفعاء عند الله] (۲)

ژباړه: د دې (شرکي عقیدې) مثال د دې زمانه کې دا دی چې مشغولېدل د ډېرو عوامو خلکو دی په تعظیم د قبرونو د نېکانو په دې عقیده که دوی د هغوی د قبرونو تعظیم وکړي بیا به د قبرونو خاوندان د الله تعالی پر وړاندې د دوی سفارش کونکی شي یعنې د دوی دا عمل ورته دی د مشرکینو دی وینا ته چې قرآنکریم ترې حکایت کوي [هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنۡدَاللهِ] (۳)

د اسلامي امت فقهاء په دې اړه فقهی کتابونو کې هم تفصیل ورکړی چې یو څو نمونې نقل کوو علامه ابن نجیم لیکي:

[ومن ظن ان المیت یتصرف فی الامور دون الله و اعتقاده ذالک کفر، بحر الرائق باب قبیل الاعتکاف، ما لابد منه] (۴)

ژباړه: که چا ګومان وکړ چې مړی په چارو کې د الله تعالی څخه غیر

---

۱. ج۲ ص ۱۹۴
۲. ج۲ ص ۲۲۷
۳. یونس / ۱۸
۴. د قاضی ثناء الله ص ۷۲، احسن الفتاوی ج۱ ص ۳۲ مئاة مسایل ص ۸۴

Scanned by CamScanner

تصرف کوي د اعقیده د ده کفر دی
همدارنګه علامه عبدالحی لکهنوي رحمه الله لیکي:
[ان فی الهبجة امورالاتصح ومبالغات فی شان الشیخ عبدالقادر لا یتعلق الا بالربوبیة] ([1])
ژباړه: بهجه نوم کتاب کې ډېرې خبرې دي چې صحت نلري او همدارنګه ډېر مبالغات په باره د عبدالقادر جیلاني کې راغلي چې د هغه تعلق د خدایتوب صفاتو سره دي دا واضحه خبره ده چې زموږ په کلو او وطنونو کې همداسې درواغجنې قیصې د عبدالقادر جیلاني په شان کې جوړې شوي چې په ویلو یې انسان ګناهګارېږي او په اعتقادیې ایمان خرابېږي. همدارنګه روح المعاني ددې ایت ـ (وابتغوا الیه الوسیلة).
په ذیل کې داسې لیکي:
[قدراینا کثیرامن الناس علی هذه الصفة التی وصف الله تعالی بهاالمشرکین یهشون لذکرالاموات ویستغیثوابهم ویطلبون منهم]
ژباړه: موږ ډېر خلک په هغه صفت ولیدل چې الله تعالی د مشرکینو په حق کې ذکر کړي چې د مړو د یادولو په وخت کې غوږ خېږي او د هغوی څخه غوښتنې کوي
شاه ولي الله هم لیکي:
[ومنهاانهم کانوایستعینون بغیرالله فی حوایجهم من شفعاء المریض و غناء الفقیر و ینذرون لهم] ([2])
ژباړه: د شرکي اموراتو څخه داهم وه چې هغوی به د غیر الله څخه کومک غوښته په خپلو حاجتونو کې چې شفاء د مریض او غناء د فقیر وه

---

۱ الشیخ عبدالقادر جیلاني لایتعلق الابالربوبیةالاثارالمرفوعة صـ۵۲
۲ حجة الله البالغه ج۱

Scanned by CamScanner

او هغوی ته به یې نذرونه هم منل.

زموږ په ځینو علاقو کې په هدیرو کې څوک څاروي څروي د قبرونو دپاسه ګرځي نجاست هم کوي او خلک پرې ګرځي راګرځي چې دا هم ناروا دی او په ځینې علاقو کې عرسونه پکې کیږي قوالان او ډمان پکې ډولونه وهي چرس پکې څښل کیږي او دقوالۍ په نامه پکې باطل او دروغ اشعار لوستل کیږي د ښځو هجوم سالانه تلین پکې وي د قبرونو جاروګاني په ځانونو وهي ملنګان او چرسیان پکې ناست وي د قبرونو د خاوندانو په نامه نذرونه د خلکو څخه غواړي، د هدیرو د ونو بوټو څخه بندونه جوړوي غاړو کې اچوي او د هر صالح او نېک شخص قبر د جلا جلا مرض د ذمه دار په نامه مسمی کوي او هلته مریضان وړي مصرف پرې کوي او عقیده لري چې زموږ د امریض د فلاني بابا د قبر په عهده کې دی.

ځینې قبرونه یادوي چې دا د لېونو د جوړولو لپاره دي د فالج لپاره د زیړي مرض لپاره او دا د فلان فلان درد لپاره دي چې دا ټول ناروا او غیر اسلامي دودونه دي او عقیدې ته ضرر رسوي.

## دم او تعویذ

دم تعویذ او ساختونه د مریض لپاره جایز او صحیح دی خو په دې شرط چې د الله تعالی په اسماء حسنی یا په ایاتونو، ماثوره او جایزو الفاظو سره وي په عربي ژبه وي او د تاثیر عقیده هم د الله تعالی څخه وي او په مطلب، مفهوم باندې یې پوهېدلي شي لاندې دلایلو کې غور وکړه.

د مسلم شریف حدیث دی:

[لاَ بَأْسَ بِالرُّقَى مَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ شِرْكٌ] (۱)

ژباړه: باک نه لري هغه دمونه چې پکې شرک نه وي

ملاعلي قاري حنفي لیکي: ان ماکان من الرقية بغيراسماءالله تعالى وصفاته وكلامه اوبغيراللساني العربى منهية.

قال ابن حجروبتحريم الرقية بغيرالعربى صرحت ائمةالمذاهب الاربعة(۲)

د پورته عبارت څخه دا معلومه شوه چې د الله د اسماء صفاتو او کلام څخه غیر او هم په غیر د عربي لسان څخه رقیه ناروا ده ځینې نور علماء عربیت شرط نه ګڼي خو ممکن چې رقیه (دم) لپاره عربیت ضروري او لیکلو لپاره نه وي خو په اتفاق سره یې په معنی پوهېدل ضروري دي.

اکام المرجان داسې لیکي:

[ويجوزان يكتب للمصاب وغيره من المرضى شئ من كتاب الله عزوجل بالمدادالمباح ويغسل ويسقي كمانص على ذالک الامام احمدرحمه الله وغيره واجتح بماروا باسنادعن ابن عباس انه كان يكتب لمن اصابهاالطلق كلمات الكرب وايتين من كتاب الله عزوجل](۳)

ژباړه: روا دي چې مریض لپاره د الله د کتاب څخه څه حصه ولیکل شي په جایز رنګ او بیا و مینځل شي په مریض و څکول شي لکه په همدې خبرې امام احمد رحمه الله هم صراحت کړي دي او استدلال یې په هغه حدیث کړي دي چې ابن عباس څخه یې روایت کړي دي چې هغه به بعضې

---

۱. مسلم جلد۲ صفحه۲۲۴
۲. مرقات جلد۱ صفحه ۱۷۲
۳. صفحه ۱۰۴ هکذا مشکوة

Scanned by CamScanner

کلمات او دوه ایاتونه د مشکلاتو د حل لپاره لیکل د هغه زنانه لپاره چې دولادت په تکلیف کې به وه.

دبحث لنډیز دا دی چې دم تعویذ او ساخت یو قسم جایز دی او بل قسم یې حرام دي لنډ مطلب دا دی چې هغه دم تعویذ چې کفري کلمات پکې وي د توحید عقیدې سره تضاد وي حرام او ناجایز دي او که داسې نه وي بیا درست دي.

**استعاذه**: د توحید یو قسم هغه الله ته ځان سپارل دي یعنې په الله تعالی پورې پنا نیول دي قرآن کریم هم همدغه حکم مونږ ته کوي (فاستعذ بالله).

ژباړه: پناه وغواړه په الله تعالی باندې. غیرالله پورې مافوق الاسباب پنا نیول ناروا دي د توحید دعقیدې خلاف دي؛ لکه د جاهلیت په زمانه کې مشرکانو دا قسم پنا په جنیاتو او پیریانو نیوله

قرآن کریم یې داسې حکایت کوي:

[كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ] (١)

ژباړه: او بېشکه د انسانانو سړي وو چې پناه به یې نیوله د پیریانو په سړیو. البته د اسبابو د لاندې یو انسان د بل څخه پناه اخستلی شي.

د شرح عقیده الطحاویه د تقسیم سره سم توحید په لاندې نقشه کې خلاصه کوو.

**توحید**



الوهیت ربوبیت اسماءصفات

دالوهیت د توحید تفصیل موذکر کړ چې هغه عبارت دي د استحقاق او تفرد د عبادت څخه خاص الله تعالی ته

(١) الجن ٦

- د ربوبیت یعنې د عالم د پالنې او پیدا کولو د صفت توحید هم بیان شو چې په دې برخه کې مشرکینو هم اعتراف کاوه دا هم یاد ساتل په کار دي چې د مکې مشرکین او یا نور مشرک قومونه فقط د الوهیت د توحید څخه په انکار کافر نه وو بلکې د ډېرو نورو ضروریاتو د دین لکه قیامت، پیغمبران. کتابونو... او داسې نورو څخه یې هم انکار کاوه.

- د اسماءاو صفاتو توحید: اهل سنت والجماعت عقیده لري چې الله سبحانه وتعالی په خپلو نومونو او صفاتو کې هم یوازې دي هیڅ یو صفت په هغه معنی چې الله ته ثابت دي غیرالله ته په هغه معنی ثابت ندي که څوک دا عقیده لري چې غیرالله ته یې په همدغه معنی ثابت ومني دا عمل شرک دي

اشتراک لفظي یا اسمي جدا خبره ده اشتراک لفظي دي ته وايي چې یو لفظ د الله تعالی په صفاتو کې هم راغلي وي او د مخلوق په صفاتو کې هم استعمال شوي وي لکه لفظ د سمیع، بصیر وغیره چې د الله تعالی صفت هم دی او مخلوق ته یې هم نسبت شوي دی دلته په هر جانب کې جدا جدا معنی اخستل کېږي

شرح عقیدة الطحاویه لیکي:

[صفات المخلوق کما یلیق به وصفا الخالق کما یلیق به] (١)

ژباړه: صفات د مخلوق هغسې دي چې د شان سره یې لایق دي او صفات د خالق هغې دي چې د هغه د شان سره وړ دي اشتراک اسمي شائع او جایز دی.

- په اسماء او صفاتو کې فرق: د عقایدو بعضې علما دا فرق کوي چې اسما جمع د اسم ده. د هغه مشتق لفظ څخه عبارت دي چې مصدر ولري

١. ص ۴۳

او صفات د صفت جمع ده همدغه مشتق او یا مصدر څخه عبارت دي لکه قادر او قدرت چې قادر د الله اسم او قدرت یې صفت دي مثلا همدا راز سمیع او سمع، بصیر او بصر عالم او علم وغیره چې یو یې اسم او بل یې صفت دي او ځینې په غیر د مصدرې معنی دي لکه ید استواء، عین، نفس وغیره.

د الله تعالی صفات توقیفي دي یعنې صرف په قرآن کریم یا په هغه صحیح حدیث کې چې د هغې ثبوت د پیغمبر څخه راغلي وي ثابتېږي.

دربیمه لاره د الله تعالی د اسم او صفت د معرفت نشته نه په عقل نه په قیاس او نه د چا په خیال سره کېدای شي.

که څوک دا کار وکړي د بېته الحاد فی اسماء الله (د الله تعالی په نومونو کې کږلېچ) ویل کېږي الحاد فی اسماء الله په ډېرو ډولونو دي چې دا یې هم یو قسم دی.

په دې سره د یونان د فلسفي او فلاسفه او حکما مسلک تردید شو چې هغوی د الله په صفاتو کې د ځانه جوړشوي الفاظ استعمالوي لکه عقل فعال، عقل عاشر، علت یزدان طبیعت ماده وغیره.

همدارنګه له خپله ځانه په الله تعالی کوم نوم ایښودل هم ناجایز او منع دی اهل سنة والجماعة عقیده لري چې مونږ د الله تعالی په ټولو صفاتو عقیده لرو بلاتاویل، بلاتمثیل، بلاتکییف، بلاتشبیه او بلا تعطیل د الله تعالی صفات لکه استوا علی العرش، ید، وجه، نفس، کلام، نزول، رحمت، غضب، قبض، بسط وغیره د الله تعالی بلاکیف صفات دي تاویل پکې نه کوو او هم تشبیه او تعطیل هم پکې نه کوو.

دا د الله تعالی صفات دي کما یلیق بشانه (څنګه یې چې د شان سره لایق وي) د کیف په لحاظ متشابه دي او دغه صفات په معنی حسي عرفي هم نه حمل کوي په فقه اکبر کې د امام ابو حنیفه رحمه الله [illegible] د چې

**[لایقال ان یده قدرته اوان عینه علمه لان فیه ابطال الصفة وهوقول اهل القدروالاعتزال]** (۱)

ژباړه: داسې ویل جایز نه دي چې د (ید) څخه د قدرت مراد دی او یا د(عین) څخه یې علم مراد دی ځکه په دې وینا کې صفت له منځه وړل دي چې دا مسلک د قدریه او معتزله دی.

**تاویل:** په صفاتو کې تاویل عبارت دي د یوې معنی څخه و بلې معنی ته د یو لفظ اړول څخه لکه دید څخه قدرت اخیستل او داسې نور چې منع دي.

**تمثیل:** د الله تعالی د یو صفت د مخلوق د صفت سره هم مثل کول دي.

**تشبه:** دمخلوق د صفاتو سره هم شبه او مشابه کول دي.

د تمثیل او تشبیه ترمنځ لږ غوندې فرق دی ایضاح الادله داسې لیکي:

**[المثلیة تقتضی المساوات فی کل الصفات والتشبیه لایقتضه بل یکفي لاطلاقه المساوات فی بعضه]** (۲)

تمثیل او مثلیت تقاضا کوي د یو صفت د بل مخلوقي صفت سره په تولوصفاتو کې اوتشبیه د تولو تقاضانه کوي بلکې ددې د اطلاق لپاره په ځینې اوصافو کې مساوات کفایت کوي.

**تکییف:** څرنګوالي او کیفیت بیانولو ته وایي.

**تعطیل:** صفات معطل کول او ورڅخه انکار کولو ته وایي.

---

۱. ابو المنتهي صفحه۳۲

۲. صفحه ۱۷۷

## د خدای لفظ

په بعضو عجمي ژبو کې د الله تعالی په هکله بعضې الفاظ استعمالېږي لکه لفظ د خدای، خداوند، کردګار، نګهبان وغيره چې استعمال يې د دوه وجو څخه جايز دی.

۱. دا چې دا د بعضو صفاتو معنی کېدای شي

۲. دا چې اطلاق يې بغير د الله څخه ندي شوي لکه ابوا لمنتهي داسې ليکي: [وکل شي ء ذکره العلماءبا لفارسية ای بغير العربية من صفات الله تعالی فجازالقول به وکذالک کل شي ء ذکره العلما ءبغيرالعربية من اسماء الله تعالی فجازالقول به فيجوز ان يقول *خدای تعالی توانا هست*] (۱)

محشي ليکي:

[هي اللغات التي کانت غير العربية افغانية کانت اوهندية اوترکية اوفارسية] (۲)

هر هغه شی چې علماء په فارسي يعنې غير عربي سره ذکر کوي دا وينا جايز ده همدارنګه علماء چې د عربي ژبې څخه غير د الله تعالی اسما يادوي په دې لفظ سره قول جايز دی نو روا دی چې لفظ د خدای تعالی توانا دي وويل شي حاشيه زياتوي همدغه رازکه افغاني ياهندي ترکي يافارسي ژبه وي هم صحيح دی امام رازي هم په جواز قول ليکلی داسې ليکي: [معناه واجب الوجود] (۳)

ژباړه: د خدای معنی واجب الوجود (وجود ضروري) ده شيخ

---

۱. صفحه۱۰۲

۲. صفحه۱۰۲، حاشيه۲

۳. ج۱ ص ۱۳۳

Scanned by CamScanner

عبدالسلام صاحب په خپل تفسير احسن الكلام كې هم د خداى د لفظ اطلاق په الله تعالى جايز ښودلى دى (بنى اسرائيل سورة ۱۱۰ ايات).

## صفات د الله تعالى په دوه ډوله دى ثبوتي او سلبي


**ثبوتي:** چې الله ته يې نسبت دشته والي شوي وي او ثابت وي لکه رحمت، غضب، علم، قدرت، حيات وغيره

**سلبي:** هغه صفات دي چې د الله تعالى څخه نفي شوي وي او د الله د شان سره يې ثبوت مناسب نوي لکه ولد، والد، مکان، زمان وغيره

ثبوتي بيا په دوه ډوله دى ۱ ذاتي ۲ فعلي

**ذاتي:** هغه صفات دي چې د دغه صفاتو په اضداد والله نه موصوف کېږي لکه علم د الله صفت دي خو د علم ضد جهل راخي چې الله ترې منزه او پاک دي او داسې نور.

**فعلي:** هغه صفات دي چې د هغې صفاتو اضداد هم الله تعالى ته ثابت وي لکه رحمت او غضب قبض او بسط احيا، اماتت او داسې نور د ېته صفات الافعال هم وايي د صفاتو خلاصه په لاندې نقشه کې ګورو.




د عقايدو ځينې علما وايي چې د الله تعالى ذاتي صفات اوه دي يعنې د ټولو ذاتي صفاتو رجع دغو (۷) صفاتو ته کېږي که څه هم ...

ذاتي صفات شته دي او دلته حصر په ۷ کې مراد نه دي او دا هم کېدای شي چې مشهور پکې همدغه ۷ صفات وي د الله تعالی صفات او اسماء ډېر زیات دي په خاص اندازه کې منحصر ندي لکه د مسند احمد د یو حدیث څخه هم معلومېږي چې پیغمبر کریم څخه یوه دعا د پرېشانی د دفع لپاره ثابت ده په هغه دعا کې دا هم دي:

[اسئلک بکل اسم هو لک سمیت به نفسک اوعلمته احدا من خلقک اواستاثرت به في علم الغیب عندک] ([1])

ژباړه: زه له تا څخه سوال کوم ستا په هر هغه نوم چې ستا لپاره دی تا پرې خپل ځان مسمی کړی او یا دی یو چاته په خپل مخلوق کې ښودلی او یا ستا په خپل علم غیب کې دی، تا پرې ځان په خپل علم غیب کې غوره کړی دی، د دې مسنون دعا څخه معلومېږي چې د الله تعالی صفات ډېرزیات دي او په یو خاص اندازکې منحصرندي د ترمذي شریف هغه حدیث چې ابواب الدعوات کې په صحیح او حسن سند نقل کړي دي او په هغه حدیث کې دا راغلي دي:

[ان لله تسعة وتسعین اسما ءاية غیرواحدة من احصاهادخل الجنة]([2])

مطلب دا دی چې د الله سبحانه وتعالی یو کم سل دا سې نومونه شته که چازده کړل نوجنت ته به داخل شي علماء د دې حدیث په مقصد کې ډېر کلام کړی دي خپله محشي د ترمذي دا سې لیکي:

[وهل المرادبهذالعدادحصرالاسماءفی هذه العدداوهي اکثر فاختصت هذه بان من احصاها دخل الجنة فذهب الجمهورللثاني...]

---

[1] رواه رزین مشکوة صفحه ۲۱۲
[2] جلد ۲ صفحه ۱۸۸

Scanned by CamScanner

ژباړه: ایا مراد په دې عدد (۹۹) حصر د اسماءدي په دې عدد کې؟ او که زیات دي او عدد فقط د دې لپاره مخصوص شوي که چا هم دو مره عدد یاد کړل جنت ته به داخل شي هم دغه دو همه خبره د جمهور و علماء قول دی صفات د الله په هم دغه عدد کې منحصر ندي نور هم شته دي بیا لیکي:

[اوسدا للذریعة انهالاتوخذبالقیاس قاله الطبري اوانهاوان کثرت فکلهاترجع لهذالعدد]

یا خو دلته عدد په دې خاطر ذکر شوي چې څوک د خپله ځانه د الله تعالی لپاره کوم نوم جوړنه کړي او دا ذریعه بنده شي ځکه چې دا خبره په قیاس او عقل نه موندل کېږي دا خبره طبري کړي ده او یا دا چې نومونه د الله سبحانه وتعالی اګر که زیات دي خو د ټولو رجع هم دغه (۹۹) ته کېږي

جلد۲ صفحه ۸۹. حاشیه ترمذي دا احتمال هم شته چې نومونه (۹۹) او صفات زیات وي (والله اعلم).

## یوولسم درس

## په ملایکو ایمان

ملایک جمع د ملک ده اهل السنة والجماعة په دې عقیده دي چې دا هغه عالم دی چې د مغیباتو د جملې څخه دی، پیریان یې د اور څخه انسان یې د خاورې څخه او ملایک یې د نور څخه پیدا کړي دي په همدې توګه ملایک د الله تعالی عزتمند او پاک بنده ګان دي د نارینه او ښځینه والي څخه پاک دي، خوراک، څښاک، خوب، تولد، په چارو کې سترپیا، نسب او شهوت نلري دغه راز په اطاعت د الله تعالی کې مصروف دي معصیت او نافرماني نه کوي

الله تعالی د ملایکو په اړه فرمایي:

Scanned by CamScanner

[بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَO] (۱)

ژباړه: دا د الله تعالی عزتمند بنده ګان دي

بل ځای ارشاد دی:

[لَا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَO] (۲)

ژباړه: نافرماني نه کوي د الله تعالی په هغه څه کې چې دوی ته حکم کوي او کوي هغه څه چې ورته حکم کېږي.

الله تعالی عام بشر ته په دنیا کې د ملایکو د لیدو توان ندی ورکړی بوازې په هغه شکل یې لیدای شي چې شکل ته تغیر ورکړي صرف زموږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته جبرائیل علیه السلام څو کرت په اصلي شکل راغلی لکه د حرا په غار کې او په سدرة المنتهی کې نور په نامرئي (نالیدل شوی) او متغیر شکل راغلی.

ملایک د الله تعالی له طرفه په چارو مسلط دي په مختلفو تکوینو چارو د الله تعالی د امر عملي کولو کې مشغول دي ځینې یې باران، ځینې یې د باد. ځینې یې د روح اخستلو، ځینې د انسانانو په اعمالو لیکلو، ځینې د قبر سوال او ځواب، ځینې د جنت او دوزخ په څوکېداري مؤظف دي ملایک خپل نومونه هم لري خو د دوی نومونه په شرع پورې موقوف دي، جبرائیل، میکائیل، اسرافیل او ملک الموت علیهم السلام دي چې ورته مقرب ملایک هم ویل کېږي.

همدارنګه په روایاتو کې د جنت د څوکېدارنوم رضوان او د دوزخ څوکېدارنوم مالک ښودل شوی دی او د قبر څوکېدار نومونه نکیر منکر ښودل شوي دي او د اعمالو د لیکونکو په صفت کې کرام کاتبین ښودل

---

۱. الانبیآء / ۲۶

۲. التحریم / ۶

شوي دي.

د اهل السنة والجماعة عقیده د ملايکو په اړه په لاندې ډول خلاصه شوې:

۱. د نور څخه پیدا شوي
۲. مذکر او مؤنث ندي
۳. خوراک څښاک بلکې د بشري تقاضا څخه پاک دي
۴. په مختلفو حسنه اشکالو جوړېدای شي
۵. د نسب څخه پاک دي
۶. معصیت نه کوي
۷. عزتمند بنده ګان دي
۸. عام بشر یې په دنیا کې د لیدو توان نلري
۹. نومونه یې په ورود د شرعي پورې موقوف دي
۱۰. د انسانانو خیرخواه او دعاګوي دي

## دولسم درس

## ایمان بالکتاب

اهل السنت والجماعت پدې عقیده دي چې د الله سبحانه وتعالی د انسانانو د هدایت لپاره پیغمبرانو علیهم السلام ته کتابونه رالېږلي دي د احق دی چې مشهور یې څلور دي عبارت دي له:

۱. تورات ۲. انجیل ۳. زبور ۴. قرآن کریم.

ځینې صحایف یې هم انبیاؤ علیهم السلام ته ورکړي مخکې کتابونه لکه تورات، زبور، انجیل په عبراني او سریاني ژبه راغلي وو او قرآن کریم په عربي ژبه راغلی دی. د قرآن کریم څو خصوصیتونه دي چې په لاندې ډول ترې یادونه شوې ده.

۱. عربیت ۲. اعجاز ۳. حفاظت د الله سبحانه وتعالی ۴. تدریجي نزول
۵. ناسخ کېدل

د نورو کتابونو په اړه الله سبحانه وتعالی د حفاظت وعده نه وه کړې بلکې د هغې د حفاظت مسؤلیت یې د هغه امت د عالمانو په غاړه وه لکه الله سبحانه وتعالی ورته په دې ایات کریمه کې داسې اشاره شوې ده:

[بِمَا اسْتُحْفِظُوْا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ] (۱)

ژباړه: له دوی څخه د ساتنې غوښتنه شوې وه.

د الله تعالی د کتاب او د قرآنکریم د حفاظت ذمه واري پخپله الله تعالی کړې ده فرمایي:

[وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ○] (۲)

ژباړه: موږ د دې کتاب ساتونکي یو.

د دغې امتونو خپل دغه مسؤلیت په پوره ډول سرته ونه رساوه او بعضې عالمانو په دې کتابونو کې دوه ډوله تحریفات وکړل چې لومړی لفظي او دوهم یې معنوي تحریف وو، په انجیل کې د تحریف یو شکل د انجیل نسبت مختلفو اشخاصو ته کول او متعدد نومونه پرې اېښودل دي لکه:

۱. انجیل یوحنا
۲. انجیل متی
۳. انجیل مرقوس
۴. انجیل لوقا

په داسې حال کې چې اسماني انجیل په دې نومونو نومول شوی نه

---

۱. المائده ۴۴
۲. الحجر ۹

Scanned by CamScanner

وه، که دغه اناجیل ولیدل شي نو زیات شرک او د توحید د عقیدې منافي بحثونه په کې شته اهل السنة والجماعة د اعقیده لري چې موږ په هغه تورات چې په موسی علیه السلام او په هغه زبور چې په داؤد علیه السلام او په هغه انجیل چې په عیسی علیه السلام نازل شوي ایمان لرو، له همدې کبله موږ عقیده لرو چې قرآن کریم نظم او معنی د هر قسم تحریف، زیادت، او نقصان څخه محفوظ دی او دا هغه کتاب دی چې الله سبحانه وتعالی په محمد رسول الله صلی الله عیله وسلم په (۲۳) کالو کې نازل کړي دی.

د قرآن لفظ د مصدر صیغه ده مهموز لفظ دی په معنی د اسم مفعول یعنې مقرؤ معنی یې ده لوستل او لوستلی شوي، دا یې مشهور نوم دی او همدغه یې لغوي معنی ده، د قرآن کریم نور اسماء (نومونه) هم شته لکه هدی، ذکر، تذکره، برهان، فرقان، نور، کتاب، مبارک بیان، تبیان، رحمت، بیان، فضل... او داسې نور او کثرت د اسماء دلالت کوي په عظمت او فضیلت د مسمی باندې

او په اصطلاح کې دا هغه کتاب دی چې د الله تعالی سبحانه له طرفه د جبرائیل امین علیه السلام په واسطه په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوي دی نقل یې راغلی موږ ته په تواتر سره بې د شبهې څخه لیکل کېږي په اوراقو کې لوستل کېږي په ژبه او دا نوم دی د نظم ( عبارت ) او معنی دواړو.

بل صفت د قرآنکریم تدریجي نزول دي چې لفظ د (تنزیل) پرې دلالت کوي نورو کتابونو کې دا صفت نه وه بل صفت د دې کتاب دا دی چې سابقه کتابونه یې منسوخ کړي دي یعنې ناسخ د سابقه کتابونو دی قرآن کریم کې خپله نسخه هم موجوده ده یعنې ځینې احکامات په ځینو نورو ایاتونو سره منسوخ شوي دي د قرآن کریم هدایات د انسان د ژوند په

Scanned by CamScanner

ساحه کې پینځو مهمو برخو ته نقسیمږي.

۱. عقیده

۲. اخلاق

۳. عبادات

۴. اقتصاد

۵. سیاست

ددې پینځو خبرو د تایید لپاره قصص او امثال منونکو ته زیری د جنت او منکرینو ته زجر د دوزخ ورکوي.

د قرآن کریم ایتونه دوه ډولونو ته تقسیږي:

۱. احکام

۲. اخبار

اخبار دوه ډوله دي:

۱. ماضي

۲. مستقبل

احکام هم دوه ډوله دي:


۱. اوامر

۲. نواهي

یعنې اخبارو کې هغه معلومات انسانانو ته ورکوي چې انسانان هغه په عقل نه شي معلومولی لکه پیدا ایښت د انسان، د کایناتو منځ ته راتلل او وروسته د انسانانو او مخلوقاتو سره څه کېدل پکې شامل دي.

Scanned by CamScanner

## قرآن کريم




## ديارلسم درس

## ايمان پر پيغمبرانو عليهم السلام

اهل السنة (اهل اسلام) په دې عقيده لري چې الله سبحانه وتعالى د انسانانو او پيريانو د لارښوونې لپاره د انسانانو د جملې څخه ځينې کسان د خپل دين د رسولو لپاره په پيغمبرۍ رالېږلي دي د صحيح روايت پر بنا د ټولو تعداد (۱۲۴۰۰۰) يو لاک څلرويشت زره دی، خو په اسلامي شريعت کې د ټولو د احوالو تفصيل ندي ذکر شوی د دومره قدر انبياء عليهم السلام په نومونو صراحت شوی چې د هغوی په واقعاتو کې کافي عبرت موجود دی چې يو ته اجمالي او بل ته يې تفصيلي ايمان وايي.

الله سبحانه وتعالى فرمايي:

[وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ] (۱)

ژباړه: بعضې رسولان عليهم السلام هغه دي چې د هغوی قصص مونږ تا ته بيان کړي دي او بعضې هغه دي چې د هغوی بيان مونږ پر باندې ندی کړی.

---

۱. النسآء ۱۲۴

او د قصصو د مقصد په اړه فرمايي:

[لَقَدْ كَانَ فِيْ قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُولِي الأَلْبَابِ] ([1])

ژباړه: يقيناً شته دی په قصصو د دوی کې عبرت د عقلونو خاوندانو لپاره، پر پيغمبرانو کې يو انبياء او بل رسولان دي د نبي او رسول ترمنځ ځيني علماء په اتحاد قائل دي صرف ترادف د لفظ ګڼي او ځينې نور علماء په مابين د نبي او رسول کې فرق کوي داسې چې نبي عام دی او رسول خاص ګڼي د نبي تعريف داسې کوي.

نبي هغه معصوم انسان دی چې الله تعالی د نورو انسانانو د هدايت لپاره رالېږلی وي برابره خبره ده چې نوی کتاب او شريعت ورسره وي او که نه وي او رسول هغه معصوم انسان دی چې الله تعالی د خلکو د هدايت لپاره د نوي شريعت سره رالېږلی وي. ([2])

په دغه بنا په انبياء کې د رسولانو تعداد (۳۱۳) ښودل شوی دی، ځيني علماء بيا نبي خاص او رسول عام ګڼي او هغه دا چې د لغوي معنی په لحاظ د رسول اطلاق په ملايکو هم کېږي او په انسانانو هم کېږي او نبي فقط د انسانانو څخه وي.

د اهل السنة والجماعة عقيده داده چې په مخلوق کې د ټولو لومړي د فضيلت مقام د انبياء عليهم السلام دي انبياء عليهم السلام په ټول مخلوق فضيلت لري نور مخلوقات، لکه ملايک، پيريان، بزرګان، په فضيلت کې ورسره مساوي نه دي.

دغه راز د انبياؤ او رسولانو ترمنځ الله تعالی بعضو ته په بعضو نورو فضيلت ورکړی دی.

---

[1] يوسف/ ۱۱۱

[2] شرح عقايد ص ۱۴

Scanned by CamScanner

الله تعالی فرمايي:

[تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰي بَعْضٍ] (۱)

ژباړه: دا رسولان دي چې موږ فضیلت ورکړی ځینو ته په ځینو نورو باندې

په بل ځای کې ارشاد دی:

[وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيِّنَ عَلٰي بَعْضٍ] (۲)

ژباړه: موږ بعضو انبیاؤ ته فضیلت ورکړی په بعضو نورو باندې

بیا په ټولو انبیاء علیهم السلام کې لوړی مقام زموږ د نبي محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د ی، ځکه هر نبي به یو خاص یو قوم ته لیږل کېده د یو خاص وخت پورې خو زموږ نبي علیه السلام د ټولو انسانانو او پیریانو ته د ټولې دنیا لپاره د قیامت تر ورځې پورې نبي او پیغمبر (علیه السلام) راغلی دی

اهل السنة والجماعة په دې عقیده لري چې پیغمبران علیهم السلام د ګناه څخه معصوم دي، یعنې هیڅ قسم صغیره او کبیره ګناه ترې نه ده صادر شوې، خو کله چې دوی ته دوه داسې کارونه مخې ته راشي چې یو یې جایز او بل یې اولی (غوره) وي او نبي جایز کار وکړي د اولی (غوره) په مقابل کې په دې باندې الله سبحانه وتعالی د طرفه نبي ته زورنه ورکول کېږي پر دغه زورنه کې سخت الفاظ راځي لکه د ذنب او معصیت دا د دې له کبله چې د انبیاء کرام علیهم السلام شان ډېر اوچت دی باید همېشه اولی (غوره) کار وکړي د ((حسنات الابرار سیئات المقربین)) په بناء انبیاء کرام علیهم السلام هم د تواضع په بنیاد او الله سبحانه

---

۱. البقره / ۲۵۳

۲. بني اسرآئيل / ۵۵

Scanned by CamScanner

وتعالی ته د عاجزۍ له کبله دا اعمال په ځان ګناه شمېري، لکه د یونس علیه السلام څخه چې قرآنکریم حکایت کوي (لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ) یا ادم علیه السلام په اړه نقل دي ((قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ)).

او همدارنګه په قیامت کې چې بعضې انبیاء کرام علیهم السلام د لوی شفاعت څخه معذرت غوښتلو لپاره خپل ځانونه په خلاف اولی کار کې ملامت ګڼي همدارنګه د هر هغه مرض څخه چې په ټولنه کې عیب وي او یا بدني حسن نقصاني کوي لکه ړوندوالی، شلوالی... او داسې نورو څخه معصوم دي.

تفسیر روح المعاني لیکي:

[قال اهل التحقیق انه لا یجوز ان یکون بصفة یستقذره الناس] (1)

ژباړه: د تحقیق خاوندانو وایي چې روا نه دي چې نبي په داسې صفت وګرځي چې خلک ورڅخه نفرت وکړي.

دغه رنګه اهل السنة والجماعة په دې عقیده لري چې انبیاء انسانان دي بشر دي د ادم علیه السلام په اولاد کې دي، نه پیریان، نه ملایک او نه بله نوعه ده.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

[وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ] (2)

ژباړه: موږ نه دی لېږلي له تا څخه وړاندې مګر نارینه چې موږ وحې کوله هغوی ته.

په دې ایات کې د رجال لفظ په څو صفاتو دلالت کوي:

---

1. روح المعاني صـ ۲۰۸
2. الانبیاء / ۷

Scanned by CamScanner

۱. انسانان ۲. نارينوالى (نو ښځه پيغمبره نه شي جوړېداى) ۳. بلوغ ۴. شجاعت.

عقل هم وايي چې انسانانو ته انسان پيغمبر پكار دى چې انسانان يې په اسانۍ سره تابعداري وكړي د ملايک او پيري په صورت کې دا مشكل نه حل كېږي.

دغه راز اهل السنة والجماعة دا عقيده لري چې د صفت په لحاظ سره هر نبي نور او رڼا ده.

دغه صفت ته قرآنكريم اشاره كوي:

[قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّكِتٰبٌ مُّبِيْنٌO] (۱)

ژباړه: بېشكه راغلى تاسې ته د الله تعالى له طرفه نور (رڼا) او كتاب واضح.

د دې نور څخه مراد د هدايت رڼا ده په همدغه بناء (السراج المنير) يعني (بله ډيوه) زموږ د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په صفاتو كې راغلي، اهل السنة والجماعة په دې عقيده لري چې اول د انبياء عليهم السلام ادم عليه السلام او اخري يې زموږ محبوب رسول محمد صلى الله عليه وسلم دى او پيغمبري په رسول الله صلى الله عليه وسلم پاى ته رسېدلې ده.

د دې څخه بعد بل پيغمبر دنيا ته نه راځي د يته ختم النبوت ويل كېږي چې په قرآنكريم، سنت او اجماع د امت ثابت دي.

اهل السنة والجماعة عقيده لري چې انبياء عليهم السلام د انسانانو د هدايت لپاره رالېږل شوي دي چې د ټولو انسانانو تعلق د الله تعالى سره جوړ كړي او خلک د هغوى كلكه تابعداري وكړي.

---

۱. المائده / ۱۵ ۱

Scanned by CamScanner

الله تعالى فرمايي:

[وَمَآ أَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ] (۱)

ژباړه: موږ نه دی رالیږلی هیڅ یو پیغمبر مګر د دې په خاطر چې د الله تعالی په حکم یې تابعداري وکړل شي.

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم تابعداري د الله تعالی اطاعت دی د نبي د اطاعت څخه بغیر د الله تعالی عبادت ممکن نه دی دغه راز انسانان د نبي په ادب او محبت مکلف دي.

په دې اړه ارشاد دی:

[يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ] (۲)

ژباړه: ای مؤمنانو مه اوچتوی خپل اوازونه د نبي په اواز او په وینا کې ورته داسې جهر مه کوی لکه جهر کول د بعضو ستاسو بعضو نورو ته

اهل السنة والجماعة عقیده لري چې کوم انبیاء علیهم السلام په تفصیل را معرفي شوي په هغې تفصیلی ایمان او کوم چې تفصیلی نه دي رامعرفی شوي بلکې اجمالي دي په هغه اجمالي ایمان لري.

لاندې انبیاء علیهم السلام په تفصیل سره په قرآن کریم کې را معرفي شوي:

ادم علیه السلام، ادریس علیه السلام، نوح علیه السلام، هود علیه السلام، صالح علیه السلام، ابراهیم علیه السلام، لوط علیه السلام، اسحق علیه السلام، اسمعیل علیه السلام، یعقوب علیه السلام، یوسف

---

۱ النساء/ ۶۴

۲ الحجرات ۲

Scanned by CamScanner

علیه السلام، الیاس علیه السلام، ایوب علیه السلام، موسی علیه السلام، هارون علیه السلام، داؤد علیه السلام، سلیمان علیه السلام، ذکریا علیه السلام، یحی علیه السلام، یونس علیه السلام، عزیر علیه السلام، عیسی علیه السلام او محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم

د یادونې وړ ده چې د انبیاء علیهم السلام له جملې څخه عیسی علیه السلام ژوندی او په اسمان کې دی قرب قیامت کې زموږ د نبي کریم علیه السلام د امتي په حیث را ښکته کېږي بیا به څلوېښت (۴۰) کاله ژوند کوي.

د شرعي دلیل څخه غیر یو شخص د پیغمبر په نوم نومول دا منع دی لکه زموږ په ځینو علاقو کې د مهترلام په نوم شخص ته پیغمبر وېل.. او داسې نور.

په داسې مسایلو کې سکوت او توقف پکار دی، د تېر بحث لنډیز په لاندې ډول دی.

د اهل السنة والجماعة د نظر خلاصه د انبیاء علیهم السلام په باره کې په لاندې ډول ده:

۱. ایمان په انبیاؤ
۲. ادب او محبت د انبیاؤ
۳. عقیده په بشریت د انبیاؤ
۴. په عصمت د انبیاؤ
۵. فضیلت د انبیاؤ
۶. د توقیف د نومونو
۷. ختم نبوت
۸. په اتباع د انبیاؤ
۹. په حیات د عیسی علیه السلام او راتلل یې د امتي په حیث

Scanned by CamScanner

## اوولسم درس

## د عادت خلاف امورات

د عادت خلاف امورات په دوه ډوله دي:

۱. هغه چې مدار او بناء يې په تعليم وتعلم وي، لکه سحر او جادو.

۲. هغه چې مدار او بناء په تعليم او تعلم نه وي دا شپږ ډوله امورات دي:

۱: **معجزه**: معجزه د اعجاز څخه اخستل شوی د اسم فاعل صيغه ده په لغت کې ويل کېږي بل عاجزه کونکی شي ته، معجزې ته ځکه معجزه وايي چې نور خلک عاجزه کوي د خپلې مقابلې څخه، په اصطلاح کې معجزه هر هغه امر خلاف د عادت دی چې په لاس د داسې شخص چې مدعي د نبوت وي او موافق د دعوی وي صادر شي (شرح عقايد ص۱۴).

د اصرف د پيغمبر څخه صادرېږي، لکه د امسا څخه مار جوړېدل او بېرته امسا کېدل يا د تېږې څخه اوښه پيدا کېدل او يا د حيواناتو خبرې کول... او داسې نور.

البته کوم شی چې د عادت د لاندې وي، اګر که د انسان د قدرت څخه خارج وي په اصطلاحی معجزه کې داخل ندی، لکه د ورېځې څخه باران وريدل، يا نباتات زرغونه کېدل او داسې نور، دا د الله سبحانه وتعالی د قدرت معجزات او نښې دي خو اصطلاحي معجزات ندي، دغه راز کوم امور چې په کسب او تخنيک د انسان بناء وي لکه اوسني عصري الات موټر، کمپيوټر، طياره... او هر هغه شی چې مقابله يې ممکنه وي معجزه نه ګڼل کېږي.

الله تعالی انبياؤ عليهم السلام ته معجزات له دې کبله ورکوي چې د خپل نبوت او رسالت د ثبوت لپاره يې د دليل په توګه وکاروي، کله چې

الله تعالی نبي ته معجزه ورکړي بیا کولای شي چې د ضرورت په موقع باندې یې ښکاره کړي څکه نبوت دعوه او معجزه یې دلیل دی.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

[ وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَأْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ] (۱)

ژباړه: او نشته هیڅ پیغمبر لپاره چې نښه (معجزه) راوړي د الله تعالی د اذن څخه غیر.

۲: **کرامت**: په لغت کې ویل کېږي شرافت مند کېدل او محترم کېدل چې لغوي معنی ته یې په دې ایت کریمه کې اشاره ده:

[وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ] (۲)

یعنې موږ انسان مکرم کړی دی او په اصطلاح کې ویل کېږي هغه امر خلاف د عادت ته چې په لاس د داسې شخص صادر شي چې تابعدار په مکمل ډول د اسلامي شریعت وي او د کامل عقل علم او تقوی خاوند وي که څوک دغه کرامت لېوني ته ثابت او مني دا د شریعت خلاف عقیده ده لکه څینې خلک چې لېونیان د برخې خاوندان ګڼي.

شرح عقیدة الطحاویه په دې اړه لیکي:

**[فمن اعتقد فی بعض البله او المولعین ترکه لمتابعة الرسول صلی الله علیه وسلم فی اقواله وافعاله واحواله انه من اولیاءالله تعالی ویفضله علی متبعی طریقة الرسول علیه السلام فهو ضال مبتدع مخطئ فی اعتقاده]** (۳)

ژباړه: که څوک عقیده ولري د څینو لېونو او بدحالو په اړه چې هغوی

---

۱. الرعد / ۳۸

۲. بني اسرآئیل ۷۰

۳. ص ۵۷۳

د پیغمبر علیه السلام اتباع پر ښودی د هغه په اقوالو، افعالو او احوالو کې چې دا د الله تعالی د دوستانو څخه دی او په تابعدارو د سنت د پیغمبر یې غوره ګڼي دا شخص ګمراه بدعتي او پخپله عقیده کې خطاء دی.

نو کرامت د اولیاء الله څخه صادر یږي نه د لېونیانو څخه.

اهل السنة والجماعة عقیده لري چې کرامت د اولیاء الله ثابت دی د قرآنکریم نبوي احادیثو او اجماع د امت څخه، معتزله د اولیاء الله د کرامت څخه انکار کوي او وایي:

که چیرته ولي سره کرامت موجود وي بیا به د ولي او نبي فرق ونکړل شي؟

خو اهل السنة والجماعة په ځواب کې وایي چې کرامت او معجزه کې لاندې فرقونه دي چې د نبي او ولي فرق پکې واضح دی.

۱. لکه د مخه مو چې ولوستل چې معجزه د مدعي د نبوت څخه صادر یږي چې پیوست په دعوی دی یعنې معجزې سره دعوه او کرامت سره دعوه نه وي.

۲. معجزه د نبي سره حتمي او ضروري ده ځکه چې د نبوت اظهار په نبي ضروري دی نو د دعوی سره دلیل حتمي وي او ولي اظهارد ولایت نه کوي او که د غه اصطلاحي کرامت ترې صادر نه شي بیا هم د هغه ولایت پخپل حال دی او په ولایت کې څه نقصان نه راځي نو پتیدل یې ښه وي نو د معجزې بناء په اظهار او د کرامت په اخفاء ده.

۳. معجزه چې الله تعالی کله نبي ته ورکړي بیا د نبي په اختیار کې وي چې هر وخت یې د ضرورت په موقع ښکاره کړي او کرامت عموماً د اولیاء الله په اختیار کې نه وي د غه کرامت په ژوند او وروسته د مرګ څخه هم ښکاره کېدای شي ځکه کرامت صادرونکی الله تعالی دی

صادرونکی اولیاء الله نه وي.

۴. په معجزه کې استمرار هم کیدای شي او کرامت کې استمرار نه وي. اهل السنة والجماعة دا هم وايي چې کرامت د ولي دنبي معجزه وي، د نبي څخه چې د نبوت څخه د مخه کوم کار خارق للعادت (د عادت خلاف) صادر شي د بته ارهاص وايي.

۴: **استدارج** هغه خارق العادت کار ته وايي چې دداسې شخص څخه چې مطیع (فرمانبردار) د شریعت نه وي صادر شي، دا د دې په خاطر چې دا شخص په گناه کې نور هم داده شي تر څو د جزا د زیاتوالي سبب يې وګرځي لکه د دجال څخه چې کوم کارونه صادريږي يا د چرسيانو او مبتدعينو څخه

۵: **معونت** دا هم هغه د عادت خلاف امر دی چې د عامو مؤمنانو څخه صادریدای شي لکه د دوی پر دعا باندې باران کیدل او د مصیبت دفع کیدل۔ او داسې نور.


او هغه کار چې موافق د دعوی نه وي اهانت ګڼل کیږي څکه چې دغه شخص د دروا غو په دعوه کې په اهانت (سپکوالي) اخته کیږي، د سحر (جادو) بناء په تعلیم وي چې په اسلامي شریعت کې حرام دی خو د الله تعالی په اذن اثر کوي لیکن د شیانو حقیقت نه شي بدلولای، سحر ډیر اقسام لري چې ټول حرام دي او څینې ډولونه يې کفر دی په همدغه بناء جمهور علماء د ساحر وژل ضروري ګڼي سحر هم یو مضر عمل دی په همدغه بناء د کافرانو لخوا زموږ په پیغمبر علیه السلام هم شوی دی خو د نبوت په چارو او په ذهن يې ورته اثر نه دی کړی بلکې په دنیوي چارو کې ورته نسیان (هیره) پیښیده، الله تعالی د معوذتینو (اخري سورتونه) په نزول سره شفاء ورکړه

څینې فرقې په نبي باندې د سحر څخه انکار کوي او وايي که په نبي

سحر وشي نو بيا به د کافرانو دا وينا صحيح شي چې مؤمنانو ته يې ويل:
[اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًاO] (۱)
ژباړه: تاسو تابعداري نه کوی مګر د داسې سړي چې سحر پرې شوی دی؟

اهل السنة والجماعة وايي چې په دې ايت کې د مسحور څخه د هغوی مقصد سحر ورښودل شوی دی او يا د سحر په سبب يې عقل خراب شوی په داسې حال کې چې د کافرانو لخوا په سحر هيڅ قسم د هغوی مطلوب اثر نه دی مرتب شوی، که څوک ورڅخه انکار وکړي او اوايي چې په نبي سحر نه دی شوی د ټول هغه احاديثو څخه چې په صحيح اسنادو ثابت دي انکار ته لار پرانزي، دا امور په لاندې شکل کې خلاصه کوو.

## امور خارقه للعادة




## څوارلسم درس

## ايمان په قضا او قدر

اهل السنة والجماعة عقيده لري چې په کايناتو کې هر څه شوي او څه

۱. بني اسرآئيل / ۴۷

Scanned by CamScanner

موجود دي او هر څه چې کېږي الله تعالی ته د دی علم وه او دا یې په لوح محفوظ کې لیکلي دي او هر څه یې په اندازه کړي وو ، تقدیر په قرآن او سنت او په اجماع د امت سره ثابت دی منکر یې د اسلام څخه اوښتی دی.

ـ قضاء په لغت کې پوره کېدو ته وایي او قدر په لغت کې اندازه کېدو د شي ته ویل کېږي او په اصطلاح کې د ټولو چارو د دنیا او اخرت د الهی علم او لیکنی سره سم ترسره کېدو ته وایي، هیڅ یو شی د تقدیر څخه خارج نشته، خیر او شر نېکي او بدي بلکې تکویني او تشریعي ټولې چارې په تقدیر کې شامل دي.

قرآنکریم په دې اړه فرمایي:

[وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوْهُ فِي الزُّبُرِO] (۱)

ژباړه: او هر هغه شی چې دوی یې کوي په صحیفو (لوح محفوظ) کې دي.

همدا راز ګڼ شمېر احادیث هم په تقدیر د ایمان ورکولو ترغیب ورکوي لکه نبي کریم علیه السلام فرمایي ((جف القلم بما انت لاق)) یعني قلم وچ شوی دی په هغه څه چې ته ورسره مخ کېږي، ځیني علماء قضاء او قدر یو شی ګڼي او ځینې قدر په لوح محفوظ کې لیکل او د امورو نقشه ترتیبول ګڼي او قضاء په عمل کې پوره کېدو ته وایي مثلا یو انجینر په کاغذ د یو تعمیر نقشه جوړه کړي او وروسته په هغه نقشه په خارج کې تعیمر بزابر کړي چې لومړی مثال د قدر او دوهم مثال د قضاء دی.

د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه د تقدیر په اړه په فقه اکبر کې نقل شوي:

۱. القمر ۵۲

[فلا یکون فی الدنیا ولا فی الاخرة شیئ الا بمشیة وعلمه وقضائه وکتابته فی اللوح المحفوظ] ([1])

بیا ورپسی لیکي:

[ولکن کتبه بالوصف لا بالحکم]

په دنیا او اخرت کې هیڅ یو شي نشته مګر په اراده او علم او قضاء د الله تعالی او په لوح محفوظ کې په لیکنی باندې دي خو دغه لیکنه وصفي ده نه حکمي.

**وصفي لیکنه:** د بېته وایي چې وروسته څه کېږي د مخکې څخه د هغه لیکنه الله تعالی په دې ترتیب کړي چې داسې به کېږي دا هم د الله تعالی د محیط علم دلیل دی.

**حکمي لیکنه:** د بېته وایي چې امر صادر کړي چې داسې داسې دی وشي نو ځکه په لوح محفوظ کې داسې لیکنه نشته چې په مخلوقاتو جبر لازم شي مشیت د الله تعالی صفت دی، په کایناتو کې چې هر څه تر سره کېږي په مشیت یعنې په اراده د الله تعالی حتی چې مخلوق پخپله اراده کې الله تعالی ته محتاج دی.

الله تعالی فرمایي:

[وَمَا تَشَآءُونَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ] ([2])

د بنده په نېکو او بدو چارو دواړو کې د الله تعالی اراده شته خو په نېکو چارو کې رضا او اراده دواړه شته او په بدو چارو کې یوازې اراده ده د ارادی سره رضا نه لازمېږي خلاف د معتزله او قدریه چې هغوی د بنده په چارو کې د الله تعالی په اراده باندې قائل نه دي هغوی وایي چې

---

[1] شرح فقه اکبر ص۷۴

[2] الدهر ۳۰

Scanned by CamScanner

که د بنده په بدو چارو کې د الله تعالی اراده راشي نو بیا به نسبت د قبح الله تعالی ته راشي او الله تعالی د قبح او نسبت د قبح څخه منزه او پاک دی اهل السنة والجماعة وايي چې کسب د قبیح قبیح دی او پیدا کول او اراده د قبیح قبیح نه وي ځکه چې خلق او اراده د کمال صفات دي او اراده د الله تعالی د تصرف دلیل دی په خپل ملکیت کې، نو د انسانانو د اعمالو خالق هم الله تعالی دی.

فرمايي:

[وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُوْنَO] (١)

ژباړه: تاسې او ستاسې عملونه الله تعالی پیدا کړي، نو خالق الله تعالی او کاسب بنده دی، د تقدیر په مسئله کې دوه ډلې خطا شوي دي لومړی قدریه او دوهمه جبریه – قدریه: - قدریه د تقدیر څخه منکر دي او وايي چې انسان مختار دی او تقدیر نشته خو د قدریه مسلک هم د قرآن د ذکر شوو ایتونو او احادیثو خلاف دی او دا دلیل يې غلط دی که تقدیر ثابت ومنل شي انسان به مجبور محض شي ځکه تقدیر د الله تعالی د محیط علم دلیل دی او د انسان اختیاریه چارو کې جدا مسئله ده.

**جبریه**: د تقدیر له کبله انسان مجبور محض ګڼي او عقیده لري چې انسان اختیار نه لري، د جبریه مسلک هم غلط دی: ځکه چې که انسان مجبور محض شي نو بیا د قرآن او حدیث ټوله هغه ذخیره به بې فایدې شي چې پر نېک عمل ثواب او پر بد عمل عذاب مرتب کېږي موږ وايو هر څه په کامل علم د الله تعالی کې شته او په لوح محفوظ کې لیکل شوي او د انسان اختیار هم شته بې تقدیره هیڅ شی هم نشته او اختیار د مخلوق هم شته د مؤمن به د معرفت د اندازې څخه غیر د زیات بحث څخه

---

١. الصافات / ٩٦

شریعت منع کړې ده خو په ایمان بالقدر د ډېر فوائد اخروي او دنیوي شته لکه اطمینان داد او قناعت په خپله برخه او اخرت کې د لوی اجر او ثواب برخه

## پنځلسم درس

## د اخرت په ورځ ایمان

ټول مؤمنان په دې عقیده لري چې حساب او کتاب لپاره چې نېکانو ته د نېکیو بدله او بدانو ته د بدی بدله ورکړل شي الله سبحانه وتعالی یوه ورځ مقرر کړې چې د هغې د اخرت او یا قیامت ورځ وایي دغه راز دوه شپېلی حقی دي چې په اوله شپېلۍ ټول مخلوق مړه او په دوهمه شپېلۍ ټول مخلوقات به بیا راژوندي شي.

قرآن کریم کې داسې ارشاد دی:

[وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ اُخْرٰى فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَO] (١)

ژباړه: او پوکی به وکړی شي په شپېلۍ کې نو بې هوش (مړه) به شي هغه څوک چې په اسمانونو کې دي او هغه څوک چې به ځمکه کې دي مګر هغه څوک چې د الله تعالی خوښه شي، بیا به پوکی وکړی شي بل ځل نو ناڅاپه به خلک ولاړ وي او ګوري به

د همدې ایت په بناء د جمهورو علماؤ مسلک هم دغه دی چې دوه کرته اسرافیل علیه السلام شپېلۍ وهي په اوله شپېلۍ د مخلوقاتو مرګ او په دوهمه شپېلۍ ژوندي کېدل دي دغه به ورځ د قیامت وي چې (۵۰۰۰۰) کاله به اوږده وي، خو پر مؤمنانو به لنډه وي د قیامت په ورځ به عملنامې

---

١ الزمر / ٦٨

تقسیمېږي چاته په ښی لاس او چا ته په چپ لاس دغه راز پل صراط به د جهنم د پاسه اچول کېږي چې مؤمنان به هم پرې تېرېږي د هر چا د مزل سرعت به د هغه د ایمان په اندازه وي همدارنګه تله د میزان او وزن د عملونو به کېږي د چا چې تله د نېکیو درنه شي هغه کامیاب او د چاچې د نېکیو تله سپکه شوه هغه به ناکام وي، وزن به د هر چا د عمل کېږي چې د خپل عمل اندازه ورته معلومه شي، بعضې علماء وایي چې وزن د اعمالو به د هغه مؤمنانو کېږي چې ګناهګاران وي څوک چې بالکل ګناه نلري د هغوی د اعمالو به هم وزن نه کېږي، لکه انبیاء کرام علیهم السلام د اعمالو دغه راز د هغه خلکو د اعمالو به هم وزن نه کېږي چې بالکل نېکي نه لري یعنې د دنیا څخه د کفر په حالت کې تللی وي

یو ځای کې ارشاد دی:

[أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا] (۱)

خو راجح داده چې د هرچا د عمل تول به وي او د دې ایت مطلب د کفارو د اعمالو د بې وزنۍ څخه بې فایدې کېدل دي چې فائده نه لري، بې شمېره ایاتونه او احادیث د اعمالو په وزن راغلي چې اعمال به تلل کېږي د قوي مسلک په بنا دغه تله به یوه تله وي د بېري نه دي اهل السنة والجماعة وایي چې د اعمالو د وزن په کیفیت مونږ نه پوهېږو او ایمان پرې لرو، ځینې ډلې لکه معتزله د اعمالو د وزن څخه انکار کوي، هغوی وایي چې وزن د اجسامو ممکن دی او اعمال اعراض دي او د اعراضو وزن ممکن نه دی دوهمه دا خبره کوي چې وزن په دې خاطر کېږي چې یو نا معلوم شی پرې معلوم کړای شي او الله سبحانه وتعالی ته هر څه معلوم

---

۱ الکهف / ۱۰۵

Scanned by CamScanner

دي نو وزن ته ضرورت نشته سره د معلوماتو تلل عبث کار دی او الله رب العزت دداسي کارونو د کولو څخه چې عبث وي پاک او منزه دی، دوی پر دغه ایاتونو کي چې د اعمالو د وزن په اړه راغلي تاویل کوي او معنی بې بدلوي او د وزن څخه مراد عدل اخلي. اهل السنة والجماعة وايي چې د دېرو امورو په کیفیت موږ نه پوهېږو نو موږ هم د کیفیت د درک څخه عاجز یو، خو الله سبحانه وتعالی قادر دی چې اعراض وتلي.

بله داچې دنیا کې هم د اجسامو او اعرضو تلې شته د اجسامو تلې خو معلوم دي او اعراض د خپل شان سره مناسب تلې لري لکه وخت عرض دی چې پر ساعت تلل کېږي تبه حرارت عرض دی چې پر ترمامیتر باندې اندازه کېږي او داسې نور، نو په قیامت کې به ممکن د اعمالو د شان مناسب تلې وي بعضې اهل السنة والجماعة وايي چې اعراض به الله تعالی اجسام کړي او وزن به یې کړي لکه مرګ عرض دی د قیامت په ورځ به د پسه په شکل مجسم شي او ځینې علماء وايي چې وزن به د عملنامو یا د سړیو کېږي

دغه راز اهل السنة والجماعة وايي چې وزن د اعمالو په دې خاطر دی چې عمل کوونکي ته خپل عمل معلوم شي او عمل کوونکی خپل عمل پخپله وګوري او الله سبحانه وتعالی ته هر څه معلوم دي اهل السنة والجماعة په دې عقیده لري چې د قیامت پر ورځ شفاعت د الله سبحانه وتعالی په اذن د ګنهګارو مسلمانانو لپاره حق او ثابت دی، شفاعت په حق د کفارو کې نشته او شفاعت بغیر د اذن (حکم) د الله تعالی څخه نشته پر بې شمېره ایاتونو کې وضاحت راغلی دی.

شفاعت کوونکي لاندې کسان دي:

۱. انبیاء کرام علیهم السلام

۲. ملایک علیهم السلام

Scanned by CamScanner

۳. شهيدان
۴. عالمان
۵. حافظان
۶. د مؤمنانو مړه شوي اطفال

او شفاعت لاندې درجې لري:

۱. يو کس د جهنم مستحق وي او په شفاعت د جهنم څخه خلاص شي.
۲. يو کس چې جهنم ته تللی وي او د چا په شفاعت ورته باقي جزا معاف شي.
۳. چې په جهنم کې د جزا تخفيف ورباندې راشي دا شفاعت کله د يو کافر لپاره هم کېدای شي لکه په حق د ابو طالب کې.
۴. په جنت کې د ښکته مقام څخه پورته مقام ته تلل.
۵. د ټول امتونو د حساب کتاب د شروع کېدو لپاره شفاعت حق او ثابت دی د پته ته شفاعت عظمی وايي چې دا خصوصيت زموږ د نبي کريم عليه السلام دی.

دغه راز اهل السنة والجماعة عقيده لري چې حوض کوثر شته دی دا هغه اوبه دي چې د څکونکي تنده د همېش لپاره ختموي او د دې امت مؤمنانو ته به يې ورکوي اهل السنة والجماعة عقيده لري چې چې د قبر سوال او ځواب حق او ثابت دي هغه ملايک په قبر کې سوال کوي د نکير او منکر په نوم مسمی دي.

دغه راز په قبر کې سوال او ځواب څخه وروسته ثواب يا عذاب ثابت دی په کيفيت يې موږ نه پوهېږو د قبر څخه مراد برزخ دی او برزخ د دنيا او اخرت په مينځ کې حال ته ويل کېږي که مړی په قبر کې وي او که په سيند کې لاهو شي او که په اور وسوځي، ځينې علماء وايي چې معذب روح دی او ثواب هم روح ته ورکول کېږي خو راجح قول دا دی چې عذاب

یا ثواب روح او جسد دواړو ته ورکول کېږي البته د روح تعلق د جسد سره شته چې په کیفیت یې موږ نه پوهېږو روح یا په علین او یا په سجین کې دی دا راجح مسلک دی، د شهداؤ ارواحو ته د افضیلت حاصل دی چې په جنت کې ګرځېږي او په جنت کې جالی او کورونه لري دا مضمون په صحیح حدیث کې راغلی.

د قبر عذاب په قرآنکریم هم ثابت دی لاندې دوه ایاتونه پرې دلالت کې:

[وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوْءُ الْعَذَابِO] (۱)

[اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ۚ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِO] (۲)

په دې ایات کریمه کې فرعونیانو ته درې ډوله عذاب ذکرشوي دی:

۱. ددنیا عذاب د ایت په اوله برخه کې.

۲. د برزخ عذاب د ایت په دوهمه برخ کې چې مطلب یې دا دی چې دوی اور ته سحر او ماښام وړاندې کېږي.

۳. دریېمه برخه کې د اخرت عذاب ذکر دی، دا ایات د قبر د عذاب په ثبوت کې صریح دی د (النار یعرضون) د لفظ څخه همدغه د برزخ یا قبر عذاب مراد دی ځکه د اخرت عذاب د ایت پر دریېمه برخه کې ذکر شوی

دغه راز د نوح علیه السلام د هلاک شوي قوم په اړه داسې فرمایي:

[مِمَّا خَطِيْٓـٰٔتِهِمْ اُغْرِقُوْا فَاُدْخِلُوْا نَارًا] (۳)

مطلب یې دادی چې دوی د ګناهونو په سبب په طوفان کې غرق شو

۱. المؤمن / ۴۵

۲. المؤمن / ۴۶

۳. نوح / ۲۵

Scanned by CamScanner

وروسته اور ته داخل شو دلته لفظ (فادخلوا) کې (فا) د تعقیب مع الوصل لپاره ده چې معنی یې د ورو ستني عمل د مخکنی سره پیوست کېدل دي، خلص مقصد یې دادی چې د غرقیدو پسی متصل کوم اور ته داخل شوي دا د برزخ اور دی ځکه د اخرت عذاب خو وروسته دی د قبر د عذاب او ثواب په ثبوت کې بېشمېره مشهور احادیث راغلی دي او په همدې خبره د امت اجماع ده او همدا د اهل السنة والجماعة عقیده ده.

## شپاړسم درس

## د بیا ژوندي کېدو ثبوت په قرآني دلایلو

دوه ډوله دلایل قرآنکریم د قیامت د ثبوت لپاره پیش کړي

۱. عقلي

۲. نقلي

عقلي دلایل په خو ډوله دی لومړی په موجودو اشیاو استدلال کول د غائبو اشیاو د ثبوت لپاره دوهم د نباتاتو په زرغونه استدلال دمړي په ژوندي کولو، دعقلي د لومړی برخې په اړه قرآنکریم کې د انسان په تخلیق په دې ډول بحث شوی دی

[یَآیُّهَا النَّاسُ اِنْ کُنْتُمْ فِيْ رَیْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَاِنَّا خَلَقْنٰکُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَّغَیْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَیِّنَ لَکُمْ وَنُقِرُّ فِي الْاَرْحَامِ مَا نَشَآءُ اِلٰٓی اَجَلٍ مُّسَمًّی ثُمَّ نُخْرِجُکُمْ طِفْلًا] (۱)

معنی داده چې ای انسانانو که تاسو په شک کې یې د دوهم ځل ژوندي کېدو څخه (نو نظر وکړئ) چې ما پیدا کړي اوسی د خاورې څخه، بیا د نطفی څخه، بیا د وینې د ټوټې څخه او وروسته د غوښې د

۱. الحج / ۵

ځوانۍ څخه، بیا مو د طفل په شکل د مور د خېټې څخه راوباسو ((ثُمَّ لِتَكُوْنُوْا شُيُوْخًا)) بیا تاسو بوډاګان شئ ((وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ)) ځینې مخکې وفات شي د بوډاوالي څخه او ځینې ارذل العمر (بې کاره عمر) ته رد کړای شي ((ثُمَّ اِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَO، ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُوْنَO)) بیا د دې څخه بعد تاسو مړه کېږئ، بیا به تاسو د قیامت په ورځ راژوندي کېږئ، که د غه ایاتونو ته زیر شو د انسان د خلقت کوم جریان چې په کې ذکر دی دا حاضر او شاهد احوال دي، چې هرچاته د لمر غوندی واضح دی نو غائب حال چې بیا راژوندي کېدل د انسان دي پخپله ثابت دي ځکه چې ډېر احوال په کې شاهد او یو حال په کې غائب دی:

خلاصه په لاندې ډول ذکر کوو:

۱. خلقت د انسان
۲. د تراب
۳. د نسل کثرت د نطفی څخه
۴. تبدیل د نطفی په علقی
۵. تبدیل د علقی په مضغی
۶. تبدیل د مضغی په طفل
۷. دنیا کې پاتی کېدل
۸. بیا مړه کېدل

دا اته(۸) احوال شاهد دي ټول انسانان په دې قائل دي ځرنګه چې قرآنکریم په دې جریان کې صادق دی نو نهمه خبره چې بیا ژوندي کېدل دي وروسته مرګ څخه په ډېره اسانه طریقه ثابته ده دا ټول د انسان د خلقت د اول څخه تر اخره مکمل جریان دی په ځینو ایاتونو کې دا استدلال تفصیلي او ځینې نورو کې اجمالي دی لکه د طه سورة یو ایت

کې اجمالي بيان دی:

[مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ] (۱)

نو دري حالته شو دوه حالته پکې شاهد يو حالت پکې غائب دی، دريم قسم عقلي دليل په اړه قرآنکريم داسې فرمايي:

[وَهُوَ الَّذِيْ يُرْسِلُ الرِّيٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِه اِذَآ اَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ فَاَنْزَلْنَا بِهِ الْمَآءَ فَاَخْرَجْنَا بِه مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ كَذٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتٰى] (۲)

ژباړه: الله تعالی رالېږي بادونه چې دغه بادونه روان کړي ورېځې بيا مړې ځمکې ته يې موږ وشړو نو الله تعالی فرمايي موږ پرې مړه ځمکه ژوندۍ کوو، نو همدغسې به هم د مړو ژوندي کېدل وي، يو ځلی په مړه ځمکه کې يو دانه مثلا غنم يا جوار پراته وي او په هغه باندې اوبه نازل شي، دغه دانه په ځمکه کې خاوري شي بيا ورسته شي يو څه موده وروسته بيا را زرغونه شي او هم هغه دانه بيا په لاس راځي هم پدغه قسم انسان به په ځمکه کې روست شي خاوری به شي په قيامت کې به بيا د همدغی دانی په څېر د ځمکې مخ ته راشي قرآنکريم نباتي دلايل په ډېرو اياتونو کې ذکر کړی چېرته تفصيلي او چېرته اجمالي چې پر همدغه مخکښنی ايات اکتفاء کوو دا عقلي ثابته خبره ده چې د يو شي د دوهم ځل لپاره موجودول اسان وي د اول ځل د جوړولو څخه، يعنې چې مخکې د يو شي مثال موجود نه وي او څوک يې وجود ته راوړي دا مخلوق ته ګران کار وي اګر که د انسان دواړه پيدا ينښته الله سبحانه وتعالی ته اسان دی نو چې يو کرت يې انسان دنيا ته راوړه نو دوهم ځل په طريق اولی سره

---

۱. طه / ۵۵

۲. الاعراف ۵۷

Scanned by CamScanner

دنیا ته راوړی شي او په قرآن کریم کې هم ذکر دي:

[وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِ] (۱)

یعنې دا کار الله تعالی ته اسان دی، څلورم عقلي دلیل دا هم دی چې الله سبحانه وتعالی په هر څه قادر دی په قدرت کې دا هم دي چې مړی ژوندی کړي د یاسین په سورة کې د مشرکینو داعتراض ځواب په لاندې عبارت ورکړی شوی دی:

[قُلْ يُحْيِيْهَا الَّذِيْٓ اَنْشَاَهَآ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيْمٌ۝] (۲)

معنی یې داده همدغه هډوکی به هغه څوک بیا ژوندی کړي چې اول ځل یې پیدا کړی وي ځکه هغه قادر دی، پینځم عقلي دلیل دا دی چې عمل باید خامخا جزاء ولري چې دارالعمل وي دارالجزا به هم وي

۲. (نقلي دلایل) په قرآنکریم کې د هغه ژوندي شوو مړو واقعات موجود دي چې په دنیا کې الله تعالی د عبرت لپاره خلکو ته ښودلی وه، دغه واقعات قرآنکریم شپږ ځایونو کې ذکر کړي دي

۱. د سورة البقره ۷۳ ایات کې د بني اسرائیلو مقتول په دنیا کې ژوندی شوي وه دا د (مشت نمونه ای خروار) په ډول ځکه د یو نفس ژوندي کول د ټولو نفسونو د ژوندي کولو دلیل دی، لکه د سورۀ لقمان په (۱۱) ایات کې راځي:

[مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ اِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ] (۳)

یعنې ندي ستاسې پیدا کول او ژوندي کول مګر د یو نفس په څېر دي

۲. د بقرې سورة په (۵۲) ایات کې د هغه (۷۰) کسانو د ژوندي کېدو ذکر دی چې موسی علیه السلام ځان سره د طور غره ته بوتلي وو.

۱. الروم / ۲۷
۲. یس / ۷۹
۳. لقمان ۲۸

۳. د یـوې قریـې ژونـدي کېـدل چـې کلـی یـې د مـرګ د ویـرۍ څخه پرېښودې وه.

۴. د البقره سورة (۱۵۹) ایات کې د یو شخص مړه کېدل چې اکثره مفسرین یې عزیر علیه السلام ګڼي سل کاله د مړینې څخه وروسته بیا ژوندي کېدل ذکر دي

۵. د البقره سورة (۱۴۰) ایات کې ذکر دي د ابراهیم علیه السلام په غوښتنه چې د الله سبحانه وتعالی څخه یې د مړي د ژوندي کېدو کیفیت غوښتی وه، ورته یې اوښوده چې هغه څلور مرغان مړه کړل او د ابراهیم علیه السلام په حضور د هغې بیا ژوندي کېدل هم ذکر شویدي

۶. د اصحاب کهف راپاسېدل وروسته د (۳۰۹) کاله څخه د قیامت د اثبات نقلي دلیل دی قرآنکریم ترې داسې یادونه کوي:

[لِيَعْلَمُوٓا اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيْهَا] (۱)

یعني اصحاب کهف د دې په خاطر راپاسول شو چې خلک پوه شي چې وعده د الله تعالی حقه ده او د قیامت په راتلو کې هیڅ شک نشته دی.

## اوولسم درس

## معراج او اسرا

اهل السنة والجماعة عقیده لري چې اسراء او معراج د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حق او ثابت دي

اسراء د مکې مکرمې د مسجد حرام څخه بیت المقدس پورې چې په شام کې موقعیت لري تللو ته ویل کېږي د اسراء معنی داده چې الله تعالی

۱. الکهف ۲۱

زموږ نبي کریم صلی الله علیه وسلم د شپې په یوه حصه کې په روح او بدن په وینه د مکې مکرمې څخه مسجد اقصی پورې بوتلی دی او معراج د مسجد اقصی څخه اسمانونو پورې تللو ته ویل کېږي دا هم حق او ثابت دی، دا معجزات زموږ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دی راجحه دا ده چې دغه واقعه د هجرت څخه د مخه په مکه مکرمه کې شوی ځوک چې وایي اسراء او معراج په خوب کې ترسره شوي د اهل السنة د عقیدې خلاف دي ځکه دا رؤیا (لیدل) د وینبې دي نه د خوب او ګورئ د اسراء د ایت لاندې (فی ظلال القرآن) د علامه سید قطب، ابن کثیر، روح المعاني وغیره... ځکه خوب خو معجزه نه وي هر ځوک یې لیدلی شي اسراء په قرآنکریم ثابت ده او معراج په مشهورو احادیث ثابت دی. د اسراء منکر کافر دی او د معراج منکر کافر ندی بلکې مبتدع یعنې په عقیده کې بدعتي دی.

## اتلسم درس

## صحابه کرام رضي الله تعالی عنهم

اهل السنة والجماعة عقیده لري چې د انبیاؤ علیهم السلام څخه وروسته غوره خلک زموږ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم صحابه کرام رضی الله عنهم دي صحابه د صحابي جمع ده په لغت کې د ملګري په معنی دی او په اصطلاح کې هغه شخص ته وایي چې زموږ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په لیدو یا مجلس ته جاضریدو د ایمان په حالت کې مشرف شوی وي او په دغه ایمان وفات شوي وي د کومو اصحابو په هکله چې د جنت زیری راغلي موږ هغوی ته په جنت ګواهي ورکوو بالخصوص هغه لس کسان چې په عشره مبشره یادېږي.

عشره مبشره د لاندې کسانو څخه عبارت دي:

۱. ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه
۲. عمر فاروق رضی الله تعالی عنه
۳. عثمان رضی الله تعالی عنه
۴. علی رضی الله تعالی عنه
۵. زبير رضی الله تعالی عنه
۶. طلحه رضی الله تعالی عنه
۷. سعد ابن ابی وقاص رضی الله تعالی عنه
۸. عبد الرحمن ابن عوف رضی الله تعالی عنه
۹. سعيد ابن زيد رضی الله تعالی عنه
۱۰. ابو عبيد بن جراح رضی الله تعالی عنه رضی الله تعالی عنه

بيا اهل السنة والجماعة عقيده لري چې دوی کې اول په فضيلت کې ابوبکر صديق رضی الله تعالی عنه دی، يعنې په کوم ترتيب چې دوی خلافت کړی په هم هغه ترتيب د دوی فضيلت دی دغه راز اهل السنة والجماعة عقيده لري چې د صحابه کرامو څخه خطاء ګانی شوي دي چې اکثره د هغې د عفوی زيری راغلی د اصحابو تر منځ د جنګ په اړه اهل ألسنة والجماعة وايي چې دا اجتهادي جنګ دی څوک چې په حقه وي د هغه لپاره دوه اجره او که څوک په خطاء وي د هغه لپاره بو اجر دی لکه د علی رضی الله تعالی عنه او معاويه رضی الله عنه تر منځ شخړه، نبراس حاشيه د شرح عقايد داسې ليکي:

**[يصيب بعضهم فی الاجتهاد ويخطئ بعضهم والمخطئ فی الاجتهاد غير ماخوذ بل ماجور]** (۱)

**ژباړه:** په اجتهاد کې ځينې د دوی حق ته رسېږي او ځينې يې خطاء

۱. ص ـ ۵۴۹

کېږي په احتهاد کې تېروتی ګناهګار نه دی بلکې د اجر مستحق دی اهل السنة والجماعة د ټولو صحابه کرامو سره مینه لري او په خیر یې یادوي، دوی سره محبت د ایمان نښه او د دوی سره کینه نفاق ګڼي.

## نولسم درس

## د قیامت علایم

اهل السنة والجماعة د قیامت د هغو نښو په اړه چې د هغې په هکله د نبي کریم صلی الله علیه وسلم وینا په صحیح روایاتو کې راغلی عقیده لري، لکه د دجال راوتل چې دا یو ساحرانسان دی او استدراجاً ځینې خارق العادت کار ترې صادرېږي، د یاجوج ماجوج راوتل، د مغرب له طرفه د لمر راختل، د مشرق له طرفه د اور راروانېدل، د ځمکې څخه یو حیوان (دابة الارض) راوتل او په درې ځایونو کې د ځمکې خسف (ډوبېدل) اهل السنة والجماعة عقیده لري چې عیسی علیه السلام په اسمان کې ژوندی دی د ملایکو په صفت وخت تېروي او قیامت ته نژدې به رانښکته شي او دجال به دد په لاس هلاک شي عیسی علیه السلام به د دې امت د یو فرد په حیث راځي یعنې د محمدي شریعت به تابعداروي عیسی علیه السلام بغیر د پلاره د مریم علیها السلام د بدن څخه په تکویني امر الله سبحانه وتعالی پیدا کړی د الله جل جلاله بنده او پیغمبر دی انسان دی د بني اسرائیلو پیغمبر وه کله چې رانښکته شي د اسمان څخه په ځمکه به (۴۰) کاله ژوند او حکومت کوي بیا به وفات کېږي (لکه مخکې تېر شو) دا مشهور علایم وو ځینې نور علایم هم په روایاتو کې راغلي موږ پرې عقیده لرو.

## شلم درس

## د اسلام سیاسي نظام

اهل السنة والجماعة دا عقیده لري چې د مسلمانانو لپاره یو امام یا خلیفه ضرور دی، داسې خلیفه چې هغه توان ولري په جاري کولو د حدودو او د ظالم څخه د مظلوم په حقوقو اخستلو لکه شرح عقاید په دې اړه داسې لیکي (لا بد للمسلمین من امام یقوموا بتنفیذ الاحکام) ژباړه- مسلمانانو لپاره داسې یو امام ضرور دی چې د احکام شرعیه په جاري کولو ولاړ وي، د دېته په شریعت کې خلیفه یا امام هم ویل کیږي، د امام ټاکنه په مسلمانانو فرض کفایي ده لکه په صحیح مسلم کې د عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما څخه مرفوعاً روایت دی.

**[من مات ولیس فی عنقه بیعة مات میتة الجاهلیة]**

ژباړه: که څوک مړ شو او په غاړه کې د امیر بیعت ونلري مرګ یې د جاهلیت دی، د دې امام انتخاب به د اهل حل وعقد د رایو په اکثریت انتخابیږي چې په اسلامي شریعت کې د دېته بیعت وایي دغه بیعت خلیفه یا د خلیفه استازي ته د لاس ورکول په صورت کې وي.

علامه ماوردي د امام یا خلیفه د انعقاد دوه طریقې ذکر کړي:

۱. په اختیار د اهل حل وعقد.

۲. د مخکني امام په عهد او تعین (الاحکام السلطانیه ص ۲۲).

خو شاه ولي الله صاحب د امام د انتخاب د طریقو پراخوالی ذکر کوي او وایي چې څلور طریقې دي:

۱. بیعت ۲. استخلاف ۳. شوری ۴. استیلاء

په دې کې بهترینه طریقه بیعت دی.

د اسلام د لومړی خلیفه ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه هم دغه

طریقه سر سره شوې وه استخلاف د مخکني خلیفه لخوا یو شخص د خلیفه په حیث نومول دي د استخلاف څخه وروسته عام بیعت ته وړاندې کول دي د دوهم خلیفه عمر فاروق رضی الله تعالی عنه خلاف په همدغه طریقه ترسره شوی، چې د شوری لخوا د امام انتصاب بیا انتخاب او بیعت ته وړاندې کول استیلاء چې یو څوک په زبردستۍ سره واک ترلاسه کړي دا کار اګر که ممنوع دی خو که مستولی خلافت شرطونه ولري او حکم یې د شریعت خلاف نه وي خلافت یې صحیح او اطاعت یې ضروري دی (ازالة الخفاء، احسن الفتاوی ج ۲ ص ۱۴۳).

اهل حل وعقد هغه کسان دي چې لاندې درې صفات ولري:

۱. تقوی ۲. سیاسي پوهه ۳. شرعي علم البته د نارینوالي څخه وروسته

د خلیفه صفات په لاندې ډول دي:

۱. اسلام ۲. نارینوالی ۳. بلوغ ۴. عقل ۵. عدل ۶. حریت ۷. استعداد او د تحمل کفایت ۸. د اعضاء سلامتیا

د اصفات یې د صحت لپاره شرط دي او ځینې نور صفات یې د فضیلت دي لکه قرشیت، شجاعت، اجتهاد... د اکثر اهل السنة په نظر دا ضروري نه دي ځکه حدیث کې راغلي:

**[اسمعوا واطیعوا ولو عبد حبشی کان راسه زبیبة]**[1]

ژباړه: خبره یې ومنئ او اطاعت یې وکړئ اګر که حبشي مریي وي چې سر یې د ممیز ددانې په څېر وي، دغه خلیفه چې کله منتخب شي بیا اطاعت فرض دی ځکه قرآنکریم

---

[1] بخاري

داسې هدایت کوي:

[أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ] (۱)

ژباړه: اطاعت د الله تعالی وکی او اطاعت د پیغمبر وکړی او د امر د خاوندانو (چې حکم یې د شریعت خلاف نه وي) او بغاوت یې پر خلاف ناروا دی لکه علامه شامي لیکي:

[ثم اذا وقعت البیعة من اهل الحل والعقد مع صفة ما ذکر صار اماما یفترض طاعته] (۲)

ژباړه: کله چې د اهل حل وعقد لخو بیعت واقع شي د هغه صفاتو په نظر کی نیولو سره بیا د غسی شخص امام گرځېږي چې اطاعت یې فرض کېږي.

همدارنګه دده په وجود کې ددوهم خلیفه انتخاب هم ناروا دی چې د صحیح مسلم حدیث پرې صراحت کوي:

[فَإِنْ جَاءَ أَحَدٌ يُنَازِعُهُ فَاضْرِبُوا عُنُقَ الآخِرِ]

ژباړه: که بل امام راپاسېږي چې د مخکني سره جګړه کوي د وروستني څټ اووهی، همدا رنګه د اهل السنة نظر دادی چې امام به موجود وي غائب به نه وي او بل داچی امام به معصوم نه ګڼل کېږي

د پورتني بحث لنډیز:

۱. د امام انتخاب د مسلمانانو حق دی
۲. امام لپاره صفات ضررور دي
۳. د انتخاب حق په مسلمانانو کې د اهل حل وعقد دی
۴. امام به موجود وي

---

۱. النسآء/ ۵۹
۲. ج۵ ص۳۰۵

Scanned by CamScanner

۵. معصومیت یې ثابت نه دی
۶. په خلاف یې بغاوت حرام دی
۷. اطاعت یې ضرور دی
۸. ددوهم انتخاب ناروا دی
۹. په ګناه سره امام نه شی عزل کېدلی
۱۰. د اسلامي خلیفه د سیوري لاندې سیاسي نظام جوړول فرض دي او دا ځکه چې ډېر شرعي احکام لکه د غل ښخه لاس غوڅول، زناکار ته سزا ورکول.. او داسې نور چې د خلیفه څخه غیر تر سره کېدای نه شي.

## یوویشتم درس

## اجتهاد او تقلید

اهل السنة والجماعة عقیده لري چې مجتهد پخپل اجتهاد کې کله حق ته رسېږي او کله خطاء کېږي حق ته د رسېدو په صورت کې د دوو اجرونو او د خطاء کېدو په صورت کې د یو اجر مستحق ګرځېږي دا مضمون د صحیح حدیث څخه ثابت دی:

[ذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ فَلَهُ أَجْرَانِ ، وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ فَأَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ] (۱)

خو اجتهاد په فروعي مسایلو کې وجود لري هغه مسایل چې یا منصوصي نه وي او یا هم نصوص پکې متعارض معلومېږي یا د یو نص (ایات یا حدیث) ګڼې معناګانې وي نو بناً په لاندې دوه ډوله مسایلو کې اجتهاد نه وي.
۱. عقیدوي

۱. بخاري ج۱ ص۱۰۹۲

۲. منصوصي

اجتهاد د صحابه کرامو او تابعینو په دور کې هم موجود وه چې په لاندې واقعه کې ښه واضح کېږي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو ځل د صحابه کرامو یو ټولی د مدینې طیبې څخه د بنو قریظه کلي ته ولېږه او ورته یې وفرمایل چې هیڅ څوک به د مازدیګر لمونځ نه کوي مګر په بنو قریظه کې، یعنې د مازدیګر لمونځ بنو قریظه ته ورسوي، دغه سفر دوی د ماسپښین د لمانځه څخه وروسته شروع کړ لارې یو حد ته چې ورسېدل لمونځ قضاء کېدو ته نږدې شو د صحابه کرامو ټولي په دوه برخو تقسیم شو لومړی برخه یې هغه وه چې د مازیګر لمونځ یې په لار کې وکړ او دوهمه برخه یې هغه وه چې لمونځ یې قضاء کړ او په بنو قریظه کې قضایي راوګرځولو دغه دواړه ډلو په خپل مینځ کې مباحثه وکړه او هغه داسې چې هر یوې ځان په حق ګڼه لومړی ډلې استدلال کوو چې لمونځ باید قضاء نکړو اود نبي کریم علیه السلام مقصد موږ باندې تاکېد کول وه، نه د لمونځ قضاء کول د دوهمې ډلې استدلال دا وه چې نبي کریم علیه السلام امر دا وه چې بنو قریظه ته لمونځ ورسوو او موږ بنو قریظه ته لمونځ رسولی دی، یعنې موږ پر حق یو، دوی چې کله دغه جریان نبي کریم علیه السلام ته بیان کړو یوه یې هم ملامت نه کړه ځکه په اجتهاد بنا وی (بخاري ۵۹، ۲).

دوهم دلیل یې دا حدیث دی نبي کریم صلی الله علیه وسلم معاذ رضی الله عنه یمن ته د والي یعنې د یو قاضي په صفت ولېږه بیا یې ور څخه پوښتنه وکړه چې ته به فیصله په څه کوی؟ هغه وویل چې د الله سبحانه وتعالی په کتاب نبي کریم علیه السلام ورته وفرمایل که د الله تعالی په کتاب کې د ونه مونده؟ نو هغه اویل چې په سنت د رسول الله علیه السلام کې به یې ګورم بیا یې ورته ووفرمایل که په سنت کې دی بیا نه مونده؟ نو

Scanned by CamScanner

هغه ورته وویل چې په خپله رایئ به اجتهاد کوم، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ډېر خوشحاله شو او داسې یې وفرمایل: ثنا ده هغه الله تعالی ته چې د الله تعالی د رسول صلی الله علیه وسلم استازي ته یې توفیق ورکړی د هغې خبرې په طرف چې هغه ته خوښه ده (ابوداؤد باب اجتهاد الرای).

د دې حدیث څخه اجتهاد او تقلید داسې ثابتېږي چې کله معاذ رضی الله عنه په قرآنکریم او سنت کې یوه مسئله پیدا نکړي نو بیا به اجتهاد کوي او خلک به د ده تقلید کوي، ځکه د قرآن او سنت څخه ځینې مسایل په صراحت معلومېږي لکه د غلا، زنا حراموالی... او داسې نور او ځینې د استنباط په ډول معلومېږي چې دا کار فقط د مجتهد دی چې بیا یې په عامو خلکو تقلید او اتباع لازم ده، اجتهاد د اسلامي شریعت د مسایلو منل شوی اصل دی چې ډېر مسایل پرې معلومېږي.

تقلید په دوه ډوله دی:

۱. محمود

۲. مذموم یا (جایز او ناجایز).

۱. جایز یا محمود تقلید دېته وایي چې کله صحیح صریح نص موجود نه وي په یو مسئله کې او د یو عالم مجتهد په قول په ښه ګومان عمل وکړی شي چې دغه قول د دې مجتهد د یو صحیح قیاس په سبب د نص صحیح څخه استنباط کړی وي.

۲. ناجایز یا مذموم تقلید دې ته وایي چې د قرآن او سنت د صریح او قطعي نص په مقابل کې د بل چا وینا د ځان لپاره دلیل جوړ کړي.

علماء پر اوو (۷) طبقاتو وېشل شوي دي.

۱. مجتهدین په شرعه کې لکه څلور امامان.. او داسې نور.

۲. مجتهدین په مذهب کې لکه امام ابو یوسف او محمد رحمها الله

۳. مجتهدين په هغه مسايلو کې چې په هغه کې د امام څخه روايت نه وي راغلی لکه ابوجعفر طحاوي خصاف ابوالحسن کرخي قاضي خان

۴. هغه علماء چې تخريج د مسايلو کوي او په خپله مقلدين وي لکه امام فخرالدين رازي رحمه الله

۵. خاوندان د ترجيح، لکه ابولحسن الکدوري، مصنف د هدايه

۶. هغه مقلدين علماء چې قدرت لري په تميز د مسايلو د قوي او ضعيف څخه لکه مصنف د کنز او وقايه

۷. هغه مقلدين چې په پورتني اموراتو توان نه لري لکه عام مقلد علماء کرام چې د فتوی ورکولو په وخت کې د ذکر شوو علماؤ اقوالو ته مراجعه کوي

د فقهي مسايلو ماخذ قرآن کريم او نبوي سنت او اجماع د امت او د مجتهدينو صحيح قياس دی.

تر دې ځايه د کتاب لومړی باب پای ته ورسېده او س په دوهم باب کې د بعضو مهمو باطلو فرقو، باطلو اديانو او باطلو مفکورو عقايد په مختصر ډول تر څېړنې لاندې نيسو که څه هم زموږ مقصد انحصار نه دی ځکه باطل اديان او فرقې نورې هم شته که څوک نورو معلوماتو ته لاس کوي نو په دې اړه دې لويو مصادرو ته لکه شناخت اديان و مذاهب معاصر، الاديان والفرق، الملل والنحل... او داسې نورو ته دې مراجعه وکړي

# دوهم باب

# تمهید

## د فرقو د عقایدو پېژندنه

د اسلام د مبارک دین له نظره فرقه بازي او ډلې ډلې کېدل ناروا عمل دی.

قرآنکریم کې الله تعالی فرمايي:

[وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا] (۱)

معنی داده د الله سبحانه وتعالی په کتاب منګولي ولږوئ او ډلې ډلې مه کېږئ.

بل ځای هم ارشاد دی:

[وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَo مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا .كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَo] (۲)

ډلې ډلې کېدل اګر که غیر مشروع عمل دی بیا هم په دې امت کې به ډلې جوړېږي چې د هري ډلې عقیدوي تګلاره د بلې ډلې څخه جلا ده قرآنکریم د بعضو ډلو چې پر هغه زمانه کې موجود وی عقاید ښکاره کړي او نومونه یې یاد کړي.

---

۱. آل عمران/ ۱۰۳

۲. الروم/ ۳۱-۳۲

Scanned by CamScanner

د هغوی څخه مشهورې ډلې یې په لاندې ډول دي:

۱. یهود
۲. نصاری
۳. مجوس
۴. صائبین
۵. مشرکین

تفسیر د علامه قرطبي لیکلي چې هر دیني پوه انسان باندې لازم دي پېژندل د ټولو باطلو فرقو لپاره د دې چې پر هغوی باندې رد لپاره ځان تیار او اماده کړي ځکه الله سبحانه وتعالی نبي کریم صلی الله علیه وسلم او د هغه اصحابه کرام ته د مخالفینو د عقیدو څخه خبر ورکړی وه، په دې امت کې ډله ډله کېدل واضح او ثابت حقیقت دی.

(قرطبي جلد ۱۳ صـ ۲۳ تحت ایت ۱۳۹) ترمذي کې حدیث شریف د عبد الله بن عمرو رضی الله عنه څخه په حسن او صحیح سند سره روایت کړي شوی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې یهود (۷۱) او نصاری (۷۲) او زما امت به په (۷۳) فرقو وو بشل شي د حدیث عبارت دا دی:

[وَإِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ تَفَرَّقَتْ عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ مِلَّةً وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ مِلَّةً كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً قَالُوا وَمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي](۱)

او بېشکه بني اسرائیل (۷۲) ډلو باندې وېشل شوي وو او زما امت به (۷۳) درې اویا ډلو باندې او وېشل شي په هغوی کې به صرف یوه ډله جنتي وي صحابه کرامو پوښتنه وکړه هغه ډله به څوک وي یا رسول الله

۱. رواه الترمذی

صلی الله علیه وسلم؟ نو ویې فرمایل دا هغه ډله ده چې په کوم دین زه او زما اصحاب ولاړ دي

د حدیث درجه داده: دا حدیث حسن دی ځکه شواهد یې زیات دي تر دې چې حاکم ورته علی شرط مسلم هم وایي (جلد ۱ ص ۱۲۸) علماء په دې حدیث کې بحث کړیدی چې ایا د امت دعوت کافراو مسلمان دواړه مراد دی که صرف امت اجابت یعني مسلمان؟ زیات علماء دا غوره کوي چې دلته مراد امت اجابت دی بیا د دغو فرقو په اسبابو او اقسامو کې علماء متعدد نظرونه لري او هر عالم د خپل تحقیق له مخې د حدیث مصداق ښودلی دی عبدالقادر جیلاني رحمه الله تعالی په غنیة الطالبین کې لیکلي چې د دې فرقو لس اصول دي

۱. اهل السنة ۲. خوارج
۳. شیعه ۴. معتزله
۵. مرجئه ۶. مشبه
۷. جهمیه ۸. ضراریه
۹. نجاریه
۱۰. کلابیه چې دا هره فرقه په ډېرو فرقو وېشل شوی چې مجموعه (۷۳) کېږي عبدالکریم شهرستاني الملل و النحل کې بنیادي اصول څلور ښایي.

۱. قدریه ۲. خوارج
۳. روافض ۴. صفاتیه

دا هره ډله په ډېرو ډلو وېشل شوي چې مجموعه (۷۳) کېږي ملا علی قاري حنفي رحمه الله په مرقات جلد ۱ ص ۴۱۸ کې داسې لیکلي (اعلم ان اصول البدع کما نقل فی المواقف ثمانیة) اصول د بدعاتو لکه څرنګه چې په مواقف کې ذکر شوي دي (۸) اته دي بیا یې داسې یادوي.

Scanned by CamScanner

المعتزله چې دا (۲۰) شل فرقې دي شیعه دا هم (۲۲) فرقې دي خوارج دا هم (۲۰) فرقې دي مرجئه (۵) فرقې دي نجاریه (۳) فرقې دي جبریه (۱) یوه فرقه ده المشبه (۱) دا هم یوه فرقه ده دا ټولې دوه اویا (۷۲) او یوه اهل السنة والجماعة چې دا درې اویا (۷۳) شوی.

سوال دا پیدا کېږي چې فرقې خو د دې څخه زیاتی هم شته؟ ځواب دادی چې دلته مراد بنیادي ډلې دي په اصولي توګه (۷۳) دي بیا که هره فرقه په څانګو وېشل کېږي هغه جدا خبره ده علامه شاطبي رحمه الله فرمایي غوره داده چې د دې فرقو تعیین ونه کړل شي بلکې په علاماتو سره پېژندل کېږي د دغه فرقو څخه ځان ساتل ضروري دي او د ځان ساتلو په خاطر او حق د دفاع په خاطر یې په دغه نوټ کې لیکنه ضروري ګڼم

دا چې فرقې ولې منځ ته راغلی علماء د امت د دې لپاره متعدد اسباب او عوامل ښايي چې د ځینو خلاصه یې په لاندې توګه ذکر کېږي چې دوه ډوله سببونه شته دی یو دا خل په امت اسلامي کې او بل خارج د امت اسلامي.

داخلي عوامل یې څلور شیان کېدلی شي:

۱. جهالت

۲. هوای النفس

۳. د رواج او دودونو پیروي

۴. عدم خلافت اسلامي او خارجي عوامل یې هم درې دي

۱. یهودیت


۲. نصرانیت

۳. د یونان فلسفه او منطق

په لاندې نقشه کې اسباب التفریق (د فرقو اسباب) ښودل شوي دي البته دا اسباب په تتبع او تالاس ښودل شوي نور اسباب هم کېدای شي

Scanned by CamScanner

## اسباب التفريق




که داخلي عواملو ته ځير شو نو پوهېږو چې د خلافت اسلامي نه موجوديت د تفرقه بازئ او اختلاف ستر عامل دی که خليفه موجود وی نو مومنان به د يو قايد د اطاعت په وجه يو او متفق وای او دا د خليفه د اولو او مهمو وظائفو څخه دي چې عام مومنان يې په اطاعت مکلف دي که راشده خلافت ته نظر وکړو نو د اسلامي امت د يو والي لپاره د هغوی ستر ستر خدمتونه تر سترګو کېږي چې امت يې يو ساتلي وه تر دې چې د قرآن کريم د (٧) قراتونو چې اصلاً د دې امت د سهولت لپاره راغلي وه خو چې کله د اختلاف سبب جوړېده نو په همدغه بناء دريم راشد خليفه سيدنا عثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه نور (٦) شپږ قراتونه له منځه يوړل او په يو قراءت يې قرآن کريم وليکه چې موجوده مصحف کې موجود دی که چېرته اوس هم خليفه موجود شي نو د اسلام په مبارک دين کې خليفه ته ډېر صلاحيت حاصل دی وبه کولای شي چې موجوده ګوندونه مذهبونه شاذ و نادر مسلکونه به ختم کړي او ټول مسلمانان به په يوه طريقه لمونځ عبادت او نور اعمال تر سره کوي خو د خلافت نه

Scanned by CamScanner

موجودیت د تفرقې ستر سبب دی چې امت کې یې فرقې رامنځ ته کړې او هیڅ یو د بل اطاعت نه کوي او هر یو څوک په خپل مزاج روان دی.

## جهالت

همدارنګه په دین نه پوهېدل هم د فرقه واریت ستر سبب دی چې زیات رسومات او رواجونه یې رامنځته کړي دي چې د هر رواج څخه مستقل مسلک جوړ شوی چې عام خلک یې تابع دي.

## هوی نفس

**نفس خواهشات او غوښتنې** که دی سبب او عامل ته وګورو هم پوهېږو چې کوم خلک په دین پوهېږي خو عمل پرې نه کوي او د نفس خواهش پرې غالب وي هغوی هم په دین کې د ځانونو لپاره سهولتونه لټوي او په صریحو نصوصو او مسایلو کې د خپلو خواهشاتو مطابق تاویلونه کوي او نصوص په خپل طرف اړوي همدغه علت هم په امت کې په سترو سترو فرقو منتج شوي دي.

## بهرني عوامل

که خارجي عوامل او اسباب وګورو هم پوهېږو چې د اسلام تر ټولو ستر دښمنان یهود او نصاری دي دوی په خپله په دې مرض مبتلا شوي چې (۷۱ او ۷۲) فرقې وو د غه مرض یې اسلامي امت ته هم را داخل کړ تر دې چې کفري تنظیمونه یې په مسلمانانو کې جوړ کړل بالخصوص په دور حاضر کې چې د غه وظیفه اوس د دوی مستشرقین پر غاړه لري که الله تعالی ته منظور وه زما مستقل کتاب چې (یهودیت بنیاد د کمیونېزم

دی) نوم کتاب کې به تفصیل وکړم او د یونان بی مفهومه فلسفه هم په تفریق د اسلامي امت کې ستر عامل دی چې معتزله، قدریه، جبریه، یې منځ ته راوړل که لږ غور وکړو د سابقه معتزله ټول عقیدوي اصطلاحات د همدغه بی مفهومه فلسفې څخه اخېستل شوي مثلاً جوهر، عرض، کلي جزي... وغیره معتزله به ویل چې عمل عرض دی او اعراض نه شي تلل کېدای ځکه وزن او تول د جواهرو کېدای شي او داسې نور دوی عقل په وحی مقدم وګڼه او فرقه یې جوړه کړه موږ دلته ټولې فرقې د څېړنې لاندې نه نیسو فقط مهمې فرقې چې حالاً وجود لري او عام اسلامي امت ته یې ضرر متوجه دی تر بحث لاندې نیسو تر څو لوستونکي بیدار وي او معلومات یې ډېر شي.

دغه فرقې ځینې کفري دي لکه کمیونېزم، یهودیت، نصرانیت، صهیونېزم، هندویزم، بودایزم، قادیانیت، منکرین حدیث، بعض اهل تشیع... وغیره او ځینې نور یې بې لارې فرقې چې اسلام ته ځانونه منسوب ګڼي او خطري حالت کې قرار لري ذکر کوو لکه بریلویت، منکرین فقه و منکرین تقلید و المذهب.. وغیره د دغه فرقو په پېژندنه کې ژیات معلومات د (شناخت ادیان) کتاب څخه اخستل شوي او (الملل والنحل) د علامه شهرستاني او نورو کتابونو څخه

# اول فصل

## لومړی درس
## باطل ادیان
## هندویېزم

هندویېزم: هند د ادیانو په کثرت شهرت لري پر سلګونو باطل مذهبونه په کې شته دي خو د هند مشهور مذهب همدغه هندوئیزم دی چې د تاریخ پر لحاظ ډېره اوږده سابقه لري که څه هم دقیق وخت یې معلوم نه دی خود تاریخ له نظره تقریباً درې زره (۳۰۰۰) کاله مخکې چې په هندوستان آریایان قابض شوي د دغه بت پرست مسلک بنیاد هلته اېښودل شوي، د تاریخ علماء وايي چې د عیسوي میلاد څخه تخمیناً (۸) اته پېړۍ د مخه پر برهمیه یاد شوچې برهما ته یې نسبت کېده او دغه لفظ په سانسکریتي ژبه د خدای معنی ورکوي، د دې دین مشرانو عقیده لرله چې همدغه برهما اله (خدای) دی چې حواس یې د درک کولو څخه عاجز دي د دوی مهم عقاید دا دي

۱. دوی اکثریت په درې الهه (خدایانو) معتقد دي، چې پر لاندې ډول دي:

۱. براهما = چې دا د عالم پیدا کوونکی ګڼي.
۲. فشنو = دا د عالم ساتونکی او حافظ ګڼي.

Scanned by CamScanner

۳. سیفا – دا د عالم فنا کونکی ګڼي.

د دوی په عقیده د مثلث دوله الهه څخه برسیره نور واړه الهه هم شته چې د نظام د جدا جدا چارو لپاره دي

۲. د غوا تقدس او عبادت کوي

۳. د بیا راژوندي کېدو څخه انکار کوي

۴. دوی وایي چې د ښه او بدو اعمالو په ارتکاب جزا ورکول کېږي خو دا کار په دنیوي ژوند کې پوره کېږي

۵. د ارواحو په تناسخ عقیده لري، تناسخ د یته ویل کېږي چې کله انسان ومري (مړ) شي او روح ترې جلا شي نو که دغه انسان نېک کارونه کړي وي، پر بل جسد کې دغه روح په اسوده او ارام دول اچول کېږي او دا د مخکې نېک عمل ښه بدله ده او که ناوړه او بد اعمال یې کړي وي نو بل کرت یې روح په بل جسد کې په نا ارامه او معذب دول اچول کېږي چې دا یې مجازات دی او په پایې کې د دوی روح د برهما د عنصر سره یو ځایي کېږي او د مجازات څخه خلاصېږي

هندویېزم په طبقاتي نظام بناء دی چې دغه طبقات پر لاندې توګه نوموي.

۱. براهمه یا رجال الدین = دا د دوی روحاني طبقه ده چې خلک یې خدمت کوي

۲. کاستریا = دا سپاهیان دي چې براهمه ته تحائف وړاندې کوي

۳. وېشیا = دا د کسبونو خاوندان دي زراعت، تجارت، صنعت... ترسره کوي

۴. سودرا = دا طبقه د ... درې طبقو د خدمت لپاره پیدا شوي ګڼي

هندوئزم په لاندې هېوادونو کې پیروان لري

اصلي مرکز یې هندوستان دی خو په چین، تبت، کوریا او ځینې

اسلامي هېوادونو کې د اقليتونو پرځېر ژوند لري

## دوهم درس

## سيکهزم

د دې فرقې مؤسس گورونانک (غورو ) نومی شخص دی چې په گورو (غورو ) شهرت لري چې معنی يې ښوونکی دی د (۱۴۲۹ م ) کال پـه شااو خوا د لاهور په مضافاتو کې پيدا شوی دی په شروع کې د هندو مسلک تابعدار وه کله چې د ځوانۍ مرحلې ته ورسېده د يو افغاني زعيم په حيث په سلطان پور کې وظيفه درلوده په متعددو علومو کې مطالعه او حصول درلوده او د ډېرو تاريخي ځايونو څخه يې هم ليدنه وکړه بيا يې داسې دعوه وکړه چې ده پروردگار ليدلی دی او د بشر د دعوت حکم يې ورته کړی دی او د غه شعار يې ورکاوه چې نه هندو نه مسلمان د (۱۵۳۹ م) شا او خوا کې په هندي پنجاب کې مړ شوی.

د نوموړي د مرگ څخه بعد (۱۰) لس تنه خليفه گان يو په بل پسې د دې مسلک د اشاعت لپاره تعين شوي دی چې اخرنی يې غوبند سنگه‌وه نوموړي (۱۶۷۵ – ۱۷۰۸ م ) پورې ژوندی وه چې د خليفه گانو د تعين سلسله يې لغوه اعلان کړه، د دې څخه وروسته د دې مسلک رهبران د مهراجاتا په نوم يادېدل چې د دې جملې څخه مشهور مهراجاتا رانجيت سنگه‌وه په (۱۸۳۹ م ) کې مړ شوی دی، نوموړی د برطانيې د استعمار په وخت کې د هند مربوط په ډېرو علاقو کې صلاحيت هم درلوده، د دوی عقايد په لاندې توگه دي

۱. دوی هم د يو خدای د عبادت قائل دي.

۲. د بت پرستی مخالفت کوي.

۳. دوی د پروردگار په هکله همغه د هندوانو او مسلمانانو نومونه

Scanned by CamScanner

استعمالوي لکه واه ګورو، والجاب، الخالق الحق... او داسې نور

۴. د خنزیر غوښه او شراب مباح ګڼي او د هندوانو د موافقت په خاطر د غوا غوښه حرامه ګڼي.

د دوی د دین پينځه اصول دي چې په ګورمکي ژبه کې په کاف شروع کیږي

۱. وېښته پرېښودل

۲. لاس کې بنګړی اچول

۳. نېکر اچول

۴. وړه برومنځ ساتل (د وېښتانو د برابرولو په خاطر)

۵. وړه چاړه ځان سره ساتل

۶. دوی ګورو ته د پروردګار څخه وروسته په مرتبه معتقد دي

۷. دوی وایي د هر سیکهي مذهب معلم روح بل ته انتقال مومي، دوی لاندې کتابونه لري

آوي ګرنت د اددوي د ديني اشعارو مجموعه ده چې د دې مذهب پينځه اولو معلمانو تاليف کړې ده تقریباً شپږ زره (۶۰۰۰) اشعار لري بیا (۱۱۵) اشعار په کې د دوی اخر معلم غوبند سنګه ور زیات کړي په اخري پېړۍ کې نور کتابونه هم په کې ولیکل شو لکه راحت نامه چې د خواصو په تعالیمو او تقلیدونو مشتمله ده دریم کتاب هم لري (کرنته صاحب) په نوم په ګورمکي ژبه دی، په هندوستان، پاکستان، افغانستان، سري لنکا کې ګڼ تعداد پیروان لري خو مجموعه تعداد د دوی اټکل شوی دی د (۱۵) میلیونو څخه زیات نه دی ((شناخت ادیان ص ۳۱۴ – ۳۲۵)).

## دریم درس
## بودایېزم

بودایېزم بت پرست هندي دين دی چې يو تن چې اصل نوم يې سدهارتا جوتاما وه او په بودا شهرت لري. د بودا معنی په پوه سره شوی ده او دا د شرقي اسيا په هېواد نيپال کې د عيسوی مېلاد څخه (۲) پېړۍ د مخه تېر شوي دی تاريخ ليکي نوموړی په (۱۹) کلنۍ کې واده وکړ خو په (۲۲) کلنۍ کې ښځه پرېښوده او ويې ويل چې د انساني شخړو اصلي عامل شهواني قوه ده بايد زهد او ددنيا د بې رغبتۍ زندګي غوره شي وروسته يې بيا خپل مستقل مسلک جوړ کړ چې زيات تابعدار يې پيدا شو. لنډه دا چې کله بودا مړ شو نو پيروانو يې وويل چې بودا د ځمکې وظيفه سر ته ورسوله اوس اسمان ته ولاړ خو دنيا ته به بيا راځي چې امنيت او برکت به راولي او دا هم وايي چې د نور څخه پيدا شوی دی او د مخلوق څخه به حساب اخلي. د بودا په تعليماتو کې درې خبرې د خپلو پيروانو ته پاتي دي چې دا درې واړه سر چينه د فساد يې ښودله

۱. خواهشاتو ته تسليمېدل
۲. د اشياء په جمع کولو کې بد نيتي
۳. د شيانو د حقايقو نه پېژندل او غبي کېدل

بودايي په دوه برخو وېشل شوی:

۱. متدين
۲. متمدن

بيا دا مذهب په دوه برخو تقسيم دی شمالي، جنوبي د شمالي مذهب پيروان وايي چې بودا خدای دی او ځيني وايي چې بودا د خدای ځوي او همدغه به بشر ته د شر او غم څخه نجات ورکوي او د بشر ټول ګناهونه به

پر غاړه اخلي او دا هم وايي چې بودا په هغه وخت کې منځ ته راغې چې کله روح القدس په مایا عذراکې (چې د بودا مور وه) حلول وکړ او وايي چې دا اله (خدای) دی، بودایان هم د طبقاتي نظام په الغا حکم کوي او د زهد په نوم په تنبلۍ راضي دي.

بودایان مهم درې کتابونه لري:

۱. مجموعه قوانین بودا

۲. مجموعه خطبه ها بودا

۳. اصول المذهب

او په لاندې هېوادونو کې پیروان لري کوریا، چین، جاپان، نیپال، تبت، منګولیا، اندنیزیا، کمبوډیا، لاوس، برما... او داسې نور (۱).

## خلورم درس

## معاصر یهود

د یهودو معاصرې فرقې او د دوی اهدافو د تحقق آلات د مسلمانانو د یهودي کولو او یا د اسلام څخه د منحرف کولو لپاره تر ټولو لوی کار چې کوي مستشرقین دي، نو ضروري ده چې د دغه اصطلاح و څېړو چې مفهوم یې واضح شي، مستشرق د استشراق د لفظ څخه چې د شرق څخه اخیستل شوی جوړ دی، دا د هغې غربي مفکرینو او لیکوالانو څخه عبارت دي چې د شرق علوم، تمدن، مذهب او دین د څېړنې لاندې نیسي

---

۱. الادیان والفرق ص ۲۲ – ۲۸

Scanned by CamScanner

خو د دوی دغه څېړنه بیا د اسلامي افکارو معتقداتو اقتصاد او کلتور د څېړلو پورې محدوده شوه دوی د فکري استعمار وظیفه پر غاړه لري، دا حرکت خو اوږده سابقه لري چې تقریباً لس پېړۍ د مخه په اروپا کې د نصراني راهبانو په واسطه هغه وخت منځته راغی چې د اسلام د فتوحاتو لړۍ په اروپا کې په چټکۍ مخکې روانه وه او دوی پر ویره کې شو. خو د وخت پر تېرېدو سره یې شکلونه او د کار ترتیب متغیر کېږي د (۱۷۸۷ م) کال څخه را پدېخوا یې په لندن، امریکا، فرانسه کې ډېري موسسې جوړې کړي او داد دي په خاطر چې شرقي تحقیقاتو ته وسعت ورکړي خو په اوسني دور کې دا وسعت ډېر قوي شوي چې د لاندې وسائلو څخه کار اخلي.

۱. مجلې او اخبارونه
۲. کانفرانسونه
۳. سیمینارونه
۴. تلویزیونونه
۵. پر ګڼ تعداد کې د ایف ایم (FM) راډیو ګانې
۶. د خیریه موسساتو په نوم پروژې او انجوګانی (NGO)
۷. شخصي مکاتب او پوهنتونونه ۸- د کومک په نامه ناجایزه شیان هدیه کول... وغیره

## د فعالیت څرنګوالی

۱. د بیان د ازادۍ پر نوم په خلکو کې د دین او اسلامي کلتور پر

Scanned by CamScanner

خلاف زهرجن تبلیغات کوي او خلکو ته جرات ورکوي چې په تدریجي ډول اسلامي کلتور له منځه یوسي.

۲. د خلکو ازادي پر هره معنی حتی عقیدوي ازادي

۳. اسلام د نورو ادیانو سره یو عام دین معرفي کول قطعه نظر د حق او د باطل څخه

۴. د باطلو ادیانو سره د خلکو کرکه او نفرت کمول.

۵. د اسلام په محاسنو لکه حجاب، اسلامي لباس... او داسې نورو عیبونه لګول.

د اسلام د مبارک دین پر خلاف پر عام اسلامي امت کې شکونه پیدا کول همدارنګه قومي، ژبني، نژادي، مذهبي اختلاف پیدا کول او د اکثریت پر مقابل کې اقلیتونه تقویه کول او بالاخره نظامي استعمار ته لاره هوارول، که څوک په دې اړه ډېر معلومات غواړي لاندې کتابونو ته دې مراجعه وکړي.

۱. شناخت ادیان و مذاهب معاصره.

۲. الاستشراق والمستشرقین د المصطفی السباعی لیکنه

۳. د اسلامي امت ستر مفکر زاهدي احمدزی کتاب([1]).

۴. د اشوک کولن یانک چاپ شوی مرکه چې پر خپله مستشرق وه بیا مسلمان شو... او داسې نور مراجع دي

---

[1] فکري استعمار

## پنځم درس

## صهیونېزم

صهیون د بیت المقدس په جنوب کې یو غر دی چې یهود د دغه غر پر احترام او تقدس عقیده لري نو ځکه پر همدغه نوم ویادول شو، صهیونېزم یو یهودي تنظیم دی هدف یې د یهودو غلبه او حاکمیت دی او د دوی د حکومت پر توله دنیا بیا راګرځول دي

دا حرکت په نوي شکل پر کال( ۱۸۰۲ م) کې جوړ شوی چې بیا هرتزل یهودي پر (۱۸۹۷ م) کال کې د سویس په بال ښار کې نوی حرکت پر همدغه خاطر شروع کړ چې د یهودو مشرانو د نړۍ د نیولو لپاره نوي پلانونه(د صهیونو حکما د پروتوکولونو ) په نامه یوه مصوبه رامنځته کړه.

د دوی هدفونه دوه اړخونه لري:

۱. دیني ۲. سیاسي

پر یهودي لارښونو عمل او یهودو کې دیني غیرت راپارول تر څو فلسطین ته راستانه شي او خپل مسلک نافد کړي، په سیاسي اړخ کې هدف فلسطین یهودي کول دي چې حکومت یې رسمیت پیدا کړي او بین المللي حمایت تر لاسه کړي دوی ځینې نوري وړي وړي شبکې هم لري چې د خپلو اهدافو لپاره ترې کار اخلي مهمه شبکه د یهودي صهیونېزم ماسونیت یا (Free Mason) دی چې غولونکی معنی یې ازاد معمار دی و ددوی زعم دا دی چې د سلیمان علیه السلام هیکل به جوړوي چې دا به

نړۍ کې د دوی د تسلط رمز او نښــه وي دوی د خلکــو د غولولــو لپــاره ځينې اصطلاح ګانې کــاروي لکــه خپلــواکی، وروروليـ، مســاوات د خپلواکۍ تر شعار لاندې نورو اديانو سره جګړه کوي د ورور ولۍ تر شعار لاندې د يهودو سره د نورو قومونـو کرکـه او نفرت کمول غواړي د مساوات تر عنوان لاندې اقتصادي مساوات رامنځ ته کوي لکه د خلکو مالونه ځمکې جائداد اونـه غصبول.. وغيره free masom يا (ماسونيت) لاندې اهداف لري:

۱. پـر نړيوالـه سـطحه د لاديني (سـيکولر) حکومتونـه جـوړول چې د يهودو د سلطې لاندې وي تر څو د لوی يهودي نظام د تاسيس پر وخت کې له منځه وړل اسان وي

۲. د ثابته اديانو سره جګړه.

۳. د الحادي او کفري حکومتونو حمايه کول او تقويه کول.

نهايي هدف يې د لويې اسرائيلي دولت جوړول او پر قدس کې د يهودو هغه منتظر باچا (يهوذا) چې د دوی پر عقيده د داؤد عليه السلام د نسل څخه دی قدرت تـه رسـول او تـاج ورپـر سـر کـول او پـه دې ترتيب د ټولې نړۍ مسخر کول دي.

Free Mason يا ماسونيت د دغه اهدافو لپاره لاندې وسائل پر کار اچوي

۱. پر نړيواله سطحه د ځوانانو د بې دينه کولو لپاره د ګډا، موسيقۍ، شرابو، لهولعب، وسائل تهيه کول، د سپورټي لوبو په عنوان بې مفهومه او بې فايدې لوبې رواجول.

Scanned by CamScanner

۲. د فحاشۍ او رقص فلمونه او اسباب برابرول
۳. په باطلو دروغجنو سیاسي احزابو کې عضویت ورکول چې د دې لارې د یهودو د ګټو مخنیوی ونه شي
۴. د خلکو تر مینځ نوې نوې ټولني جوړول
۵. خلکو کې د چوکۍ قدرت شوق پیدا کول چې د قدرت لیوانیان شي او خپلو کې سره دښمنۍ ته تیار شي.
۶. په مخفي ډول د اسلام پوهان د نورو نظامي شبکاتو په لاس وژل
عقاید بې په لاندې ډول دي:
یهود د الله سبحانه وتعالی په هکله داسې عقیده لري
۱. دوی وايي چې الله تعالی زوي نیولی.
۲. دوی وايي الله سبحانه وتعالی فقیر او موږ اغنیاء یو.
۳. دوی وايي لاس د الله سبحانه وتعالی بند دی تړل شوي یعنې (څه نه ورکوي).
۴. دوی زموږ په پیغمبر علیه السلام او قرآنکریم عقیده نه لري.
۵. دوی وايي الله سبحانه وتعالی دا سمانونو او ځمکو په پیدا کولو ستومانه شوي، د الله سبحانه وتعالی په حق کې دوی داسې بې ادبي او ګستاخي کوي چې قلم یې په نقل کولو شرمیږي، د شمس الحق افغاني صاحب علوم القرآن د کتو وړ دی چې په هغې کې د یهودو د کتابونو حوالې په تفصیل سره نقل شوي
که څوک د ډېرو معلوماتو شوق لري، نو مراجعه دې ورته وکړي

## شپږم درس

## نصارئ

**نصارئ** د ا ډله د عيسى عليه السلام د راتلو څخه بعد منځته راغلي او د عيسى عليه السلام د اسمان ته د ختلو څخه بعد يې خپل انجيل تحريف کړ او پر څو برخو يې د متى، يوحنا، مرقس، لوقا، وغيره سره تقسيم کړ او د توحيد څخه شرک ته وا وختل، يهود او نصارى پر خپل منځ کې هم دښمني درلوده پر همدغه وجه يهود هم پر انجيل کې د س او تحريف (لاس وهنه، ګډ وډ کول) وکړ يو تن سينټ پال يهودي پر انجيل کې د شرابو په نسبت د تحليل او جواز زيادت داخل کړ او د خنز حلالوالي يې په کې هم ور زيات کړ، دوى د همدغه تحريف شوي او د منځه تللى اديانو د اتباع دعوه کوي پر متعددو نومونو ياديږي لکه نصارى، اهل کتاب، ځانونو ته مسيحيان هم وايي ګواکې مسيح عليه السلام ته ځانونه منسوبوي صليبيان، انګريزان، دا ټول د دوى متعدد القاب دي چې د هر لقب يې جدا جدا وجه ده د دوى عقايد پر لاندې ډول دي.

۱. پر تثليث عقيده (درې خدايان، الله سبحانه وتعالى، بي بي مريم عليها السلام، مسيح عليه السلام).

۲. د ابنيت عقيده (د عيسى عليه السلام پر هکله د خداى د زوى الي عقيده لري، سبحانه وتعالى).

۳. د صليب د تقدس او احترام عقيده لري په دې خاطر چې د دوى زعم دا دى چې عيسى عليه السلام د الله تعالى زوي دى او د خلکو د ګناهونو

Scanned by CamScanner

د کفاری پرخاطر یهودو په دار ځړولي دی، د تثلیث د عقیدې وضاحت دا دی چې دوی عقیده لري چې الله سبحانه وتعالی درې حالته لري چې دوی ورته اقانیم ثلاثه وایي.

**اله الاب:** یعنې هغه اله (خدای) چې پلار دی چې هغه لاهوتي یعنې د خدایتوب خویونه لري هغه الله تعالی دی.

**اله الابن:** یعنې هغه اله چې زوي دی هغه ناسوتي یعنې بشري خصائص لري چې هغه عیسی علیه السلام دی.

**روح القدس:** یعنې چې د اله او بشر تر منځ ازدواجي خصائص لري او دا هغه اله (خدای) دی چې پر بي بي مریم علیها السلام کې یې حلول کړی دی.

د نصارى مشهورې معاصرې فرقې دا لاندې درې دي:

۱. **کاتولیک:** پر مسیحي او صلیبي عقیده کې دا خلک اکثریت لري او د دوی پیروان د نورو ډلو پر نسبت زیات دي د دوی مرکز په روم کې او زیاتره یې په عامه اروپا کې دي دوی دا سې عقیده لري چې اله الابن، اله الاب، روح القدس خدای دی، خو وایي چې اله الابن د خدائتوب پر خصوصیتونو کې د اله الاب سره برابر دی او روح القدس د دې دواړو څخه را جلا شوی دی، دوی عیسی علیه السلام ته د خدای د زوي نسبت کوي.

۲. **ارتودکس:** دوی هم په شرقي روم کې واقع دي پخواني مرکز یې د فلسطین ښار وه د دوی زیاتره پیروان

په شمالي او غربي آسيا کې او شرقي اروپا کې استوګن دي او عقيده يې په لاندې ډول ده، چې اله الاب د اله الابن څخه بهتر دی او روح القدس د اله الاب څخه را جدا شوی دی.

۳. **پروتستانت** د دوی د عقيدې زياتره پيروان په شمالي امريکا او اروپا کې استوګن دي دوی هم د تثليث عقيده لري ابتدا کې د مسلمانانو د توحيد عقيدې ته مايل وو خو د عامی صليبی نړۍ د فشار پر سبب پر تثليث معتقد دي د پروتستانت کلسيا د تاريخ پوهانو پر نظر پر (۱۲ م) پيړۍ کې يو تن لوثر نصراني تاسيس او جوړه کړه، نصرانيت د نړۍ پر زياتره هېوادونو کې پيروان لري د مثال په توګه امريکا، اروپا، افريقايي هېوادونه لکه مصر، سوډان، تانزانيا، مراکش، شرقي اسيا کې هم موجود دي[1].

۱. الاديان والفرق ص ۳۶ – ۴۸ [illegible] ص ۵۲۲ – ۵۸۰

# دوهم فصل
# باطلې مفکورې

## اووم درس

### • کمیونېزم

**کمیونېزم:** کمیونېزم دین نه بلکې یوه باطله مفکوره ده، موږ په دې وړوکي کتاب کې د کمیونېزم فلسفه په هر اړخیز ډول د څېړنې لاندې نه نیسو چې بحث پرې اوږد نه شي فقط ضروري خبرې د لوستونکواو زده کونکو مخې ته ږدو تر څو بې خبره پاتې نه شي د علامه شهرستاني مشهور کتاب (الملل والنحل) د کمیونېزم بنیاد د (۱۴) پېړۍ د مخه په فارس (ایران) کې ښودلی خو دغه ګوند په معاصرو اوقاتو او وروستنۍ پېړۍ کې د کارل مارکس یهودي چې د المان بزدله او تنبل اوسېدونکی وه له خوا او بیا د بل مشهور یهودي لینن له خوا په شرقي نړۍ کې ترقي وکړه او د دوی د عقیدوي تګلارې لپاره یې زیات تعداد وګړي ووژل او نور یې د دغه باطلې مفکورې پر قبلولو مجبور کړل

کمیونېزم په لاندې هېوادونو کې پیروان درلودل (روسیه، چین، المان، افغانستان، پاکستان، عراق، ایران. مصر، لیبیا، وغیره...) دوی

لاندې عقاید لري

۱. پر الله سبحانه وتعالی عقیده نه لري

۲. دوی طبیعي ماده د ژوند اساس ګڼي او وايي دا ماده نه خالق لري او نه متصرف.

۳. دوی د ټولو مغیباتو لکه ملایک، جنت، دوزخ، حشر او نشر، حساب کتاب، جزا، پیریان وغیره څخه انکار کوي

کمیونېزم پر درې اصولو ولاړ دی.

۱. الحاد

۲. مادیت

۳. اشتراکیت

۱. **الحاد:** د دین څخه خلک منحرف کول او بې دیني خوښتل.

۲. **مادیت:** هر څه لپاره ماده اصل ګڼل چې خالق ونلري او ماده اصل د هر شي وي او وايي حالت يې د يو څخه بل ته اوړي خو ماده همېش وه او همېش به وي همدغه اصل ته ماتریالستي فلسفه وايي او د خپلې عقیدې مخالفو ته ایډیالسټ یا روحاني حالت خوښونکی وايي.

۳. **اشتراکیت:** دوی د فردي مالکیت پر منځه وړلو باور لري او وايي چې د انساني ژوند د شخړو او لانجو ستر عامل او د طبقاتي ژوند یوازېنې لامل فردي مالکیت دی باید فرد د هیڅ شي واکدار نه وي او هر څه د خلکو تر منځ مشترک وي بالخصوص درې شیان ښځه، مال، ځمکه باید مشترک وي، کمونیستان د تاریخ او زمانې پر جبر قائل دي دوی وايي دا د تاریخ جبر دی چې بېرته به انسانان د کمون لولي حالت ته

Scanned by CamScanner

راګرځي (د بورژوازۍ څخه وروسته) هلته چې د انسانانو تر منځ هر څه مشترک او فردي مالکيت نه وه او انسان ځنګلي ژوند درلوده.

د کمونيستي انقلاب د نړيوال پروګرام په سر کې دوه ستر هېوادونه چين او پخوانی شوروي اتحاد وه.

## اتم درس

## نشنلېزم

**نشنلېزم** د قوميت مفکوره په اروپا کې د لومړۍ ځل لپاره د (۱۹) پېړۍ په اوږدو کې را منځته شوه او عربي هېوادونو ته را نقل شوه چې بيا د استعمارګرانو پر واسطه نورو اسلامي هېوادونو لکه پاکستان، افغانستان، ايران وغيره ته را انتقال شوه د دوی عقايد پر لاندې ډول دي:

۱. دوی قوميت او قومي تعصب پر ديني ورورولۍ مقدم ګڼي.

۲. دوی وايي چې د قوميت د خوريدو لپاره تر ټولو قوي عوامل ژبه، نسل، نژاد، ځمکه ګډ دودونه او قومي عنعنات دي.

۳. دوی شعار لري چې خدای، وطن، ملت خو دا د اسلام له منځه وړلو لپاره يوه خداع (دوکه) او مکر دی چې عوام خلک غولوي تر څو وطني او قومي ورورولي په اسلامي ورورولۍ مخکې کړي.

۴. دوی دين د سياست څخه جدا ګڼي.

۵. دوی د مسايلو حل قومي، عنعنات او ګډې جرګې ګڼي.

۶. دوی د وضعي قوانينو په جوړولو باور لري.

Scanned by CamScanner

۷. دوی موسیقي جایز ګڼي.

۸. دوی په ډیموکراسۍ عقیده لري.

ډیموکراسي لفظ دوی داسې تعریف کړی چې د خلکو واکمني، (ډیمو = Demo / کراسي = Cracy) دوه جدا جدا الفاظو څخه مرکب امتزاجي لفظ دی دا لفظ مجمل دی او خطرناک هم دی، د خلکو - د کومو خلکو؟ څه شکل او څه ترتیب واکمني؟ او پر کومه طریقه واکمني؟ او د څه لپاره واکمني؟ د خلکو غوښتني او خواهشات خو پر ډېرو ډولونو دي خلکو کې خو عالم او جاهل، مطیع او فاسق، مومن او کافر، ښځه او نر، بالغ او نا بالغ... ټول داخل دي دوی کوم خلک ښایي؟ او دغه یوناني کلمه دوی ولی د خپلې مذهبي ژبې عربي او یا قومي ژبې پښتو پر ځای غوره کړې ده؟ دا خو اجنبي (پردی) فرهنګ دی د دقیق غور او تلاش څخه وروسته معلومېږي چې ډیموکراسي په څلور اصلو ولاړه ده:

۱. اکثریت مطلقه

۲. تقنین

۳. ازادي

۴. سیکولرستي یعنې دین او سیاست جدا ګڼل چې هر یو اصل یې د اسلام خلاف دی مختصر یې په لاندې ډول شرح کوو.

**اکثریت** مطلق اکثریت د قرآن کریم په ډېرو ایاتونو کې غندل شوی الله تعالی فرمایي (وان تطع اکثر من فی الارض یضلوک عن سبیل الله) ژباړه: که د خلکو د اکثریت پیروي دې وکړه نو د خدای تعالی د لارې څخه به دې بې لارې کړي

**تقنین:** قانون جوړونه یا حلالول او حرامول د الله تعالی حق دی، خو په ډیموکراسۍ کې عام ولس د خپلو استازو پواسطه د قانون جوړونه صحیح ګڼي چې دا شرک فی الحکم التشریعی دی - الله تعالی فرمایي- (ام لهم شرکاء شرعوا لهم من الدین ما لم یاذن بها الله) ژباړه - ایا دوی لپاره برخه داران دي چې دوی ته دین او (قانون) جوړوي هغه چې الله تعالی اجازه نه ده ورکړې.

**ازادي:** ازادي په څلور برخو ده

۱. ملکیت ازادي چې هر څوک هر قسم مال د هرې لارې ګټلی شي او په دې سره کپیټلیزم رامنځته کېږي

۲. د ښځو ازادي چې د حجاب او ستر مسئله په کې مطرح نه ده.

۳. د بیان ازادي چې اسلام هم د هر قسم بیان اجازه نه ده ورکړې

۴. د ادیانو ازادي چې اسلام بل دین ته د تللو اجازه نه ورکوي او کفر یې ګڼي، خو ډیموکراسي اجازه ورکوي

**سیکولیریزم:** دین د سیاست څخه جدا ګڼل چې دا هم د اسلام سره په تصادم او ټکر کې دی نو نیشنلزم کاملاً: اسلام پر خلاف صلیبی حرکت دی چې ځانونه ترې ساتل د ایمان د تحقق لپاره شرط دي

## نهم درس

## سوسیالیزم

**سوسیالیزم:** په شروع کې سوسیالیزم فقط د فیوډالیزم او سرمایه

دارانه نظام پر ضد رامنځته شوې وه او دعوه یې فقط د خلکو ترمنځ شتمني پر مساوي توګه وېشل وو خو وروسته مارکس د مستقل نظام پر شکل بدل کړچې عقاید اخلاق کلتور فرهنګ او ټول په کې داخل شو، نو ویلای شو چې کمیونېزم او سوسیالیزم د یو فکر دوه مرحلې دي.
فیوډالیزم یا سرمایه دارانه نظام بشر ته د هر قسم اقتصادي ګټو او د متعددو لارو څخه مال حاصلول صحیح ګڼي او فردیې د بې مهاره او بې خبره خوشې کړی دی تر څو د مالونو تراکم ازاد وي د کمیونېزم سوسیالیستي اړخ فرد د ملکیت څخه محروم ګڼي او فیوډالیزم یې ازاد ګڼي یو طرف ته افراط او بل طرف ته تفریط دی، خو د اسلام مبارک دین بشر ته د فردي مالکیت اجازه په محدوده او شرعي اندازه ورکړې ده چې اسلام د مبارک دین اقتصادي اړخ پر عدل او انصاف ولاړ دی چې فردي مالکیت او اجتماعي ملکیت دواړو لپاره اصول لري د سوسیالیزم په کیفیت کې د کمیونېزم او نشنلیزم نظرونه جدا دي او هر یو د غه اصطلاح په جدا جدا بڼه وړاندې کوي

# دریم فصل

# باطلې فرقې

## نهم درس

## قادیانیت

**قادیانیت** قادیان د هندستان د پنجاب یوه سیمه ده. دغه ډله د برطانوي استعمار پر وخت کې د یو تن مرزا غلام احمد قادیاني له خوا په (۱۹ م) پېړۍ کې منځته راغله غلام احمد د غلام مرتضی زوي د عطاء محمد لمسي چې په (۱۸۴۰ م) کې زېږېدلی وه او پر دغه کورنۍ کې د انګریزانو او د سکهانو سره پر دوستۍ او کومک کې شهرت لري، قادیاني په (۱۹۰۸ م) کې د یوې مباهلې پر اثر په طاعون مرض په کناراب کې هلاک شو نوموړي په (۱۹۰۱ م) کې د بشپړ نبوت (پیغمبرۍ) دعوه وکړه، قادیانیان لاندې عقاید لري.

۱. دوی د غلام احمد پر پیغمبرۍ عقیده لري.

۲. د ختم نبوت څخه انکار کوي.

۳. دوی پر داسې یو اله (خدای) عقیده لري چې د بشر پر صفاتو متصف کېږي لکه خوب، خوراک، سهوه، جماع وغیره.

۴. دوی یو خپل کتاب لري چې قرآن سره یې برابر ګڼي په نامه د (کتاب

المبین) چې پر کفریاتو مشتمل دی.

۵. دوی د قادیان سیمه د حرمینو شریفینو څخه غوره ګڼي.

۶. دوی د قادیان کلنی کانفرانس فرض ګڼي.

۷. دوی د برطانوي حکومت پیروي د خپل دین نیمايي ګڼي.

۸. دوی جهاد لغوه ګڼي، دوی ته احمدیه، مرزائیه هم وايي چې هره ډله یې د نوم یوې برخې ته منسوبېږي، د دوی مراکز خو ډېر زیات دي خو مهم یې لاندې دي لکه پاکستان، هندوستان، امریکا، افریقا... او داسې نور.

## لسم درس

## پرویزیه یا احمدیه

**پرویزیه یا احمدیه:** دوی ځان ته قرآنیه (اهل قرآن) ډله هم وايي که څه هم د انکار حدیث حرکت په دوهمه هجري (۲ هـ) پېړۍ کې د ځینې فرقو لخوا رامنځته شوی وه، خو د (۱۳ هـ) پېړۍ په شروع د (۱۹۰۲ م) کې د یو تن علام نبي چې په عبد الله چکړالوی شهرت لري لخوا په پخواني هند کې د برطانوي استعمار په وخت کې د مستقل مسلک په شکل رامنځته شوه، بیا ددغې فرقې په تقویه کې یو تن احمد پرویز ډېر زیار اوویست، نو ځکه په پرویزیه هم شهرت لري د دې فرقې په خپرولو کې ډېرو نورو کسانو لکه سید احمد. خان، چراغ علی، احمد دین تستري، اسلم راجپوري کار کړی دی.

د دوی عقاید په لاندې ډول دي

۱. دوی وایي چې قرآن کافي دی او د نبی کریم علیه السلام د احادیث څخه انکار کوي
۲. دوی د نبي کریم علیه السلام د معجزاتو او د اولیاء الله د کراماتو څخه انکار کوي
۳. د قبر د عذاب او ثواب سوال او ځواب څخه انکار کوي
۴. د شفاعت د نبي کریم علیه السلام څخه هم انکار کوي
۵. دوی وایي چې انسان د عمر پوخوالي ته ورسیږي بیا اصولي هدایت ته ضرورت نه لري
۶. دوی پر جنت او دوزخ عقیده نه لري او دواړه تمثیلي صورتونه بولي او ځینې نور یې وایي چې پر دنیا کې ارام ژوند جنت او مشقتي ژوند دوزخ دی
۷. د کمیونستانو په څېر پر اشتراکي نظام قابل دي چې فردي ملکیت ردوي
۸. دوی قرآنکریم کې د خپل خواهش مطابق تحریفي معناګانی بیانوي

دوی هم څلور ډلې دي:
۱. اهل ذکر
۲. امت مسلمه
۳. طلوع اسلام
۴. تحریک تعمیرانسانیت، دغه ډله په هند او پاکستان کې زیات پیروان لري (شناخت ادیان ص).

Scanned by CamScanner

## يوولسم درس

## شيعه ګان

تشيع په لغت کې يو بل سره د کومک او همکارۍ په معنی سره راځي، خو په اصطلاحي لحاظ هغه فرقه ده چې د علي رضی الله تعالی عنه او اهل بيتو د محبت دعوه کونکي او د اهل السنة څخه جدا ګڼل کيږي اهل تشيع خو ډيري زياتي فرقې دي خود مشهورا و معاصرو فرقو پراره به يې دلته مختصر يادا شت وکړو.

## اماميه يا اثنا عشره

همدغه په معاصر وخت کې د شيعه ګانو لويه ډله ده په اوسني ايران کې د يو دولت پر شکل وجود لري د پخوا څخه د روافضو پر نوم شهرت لري دا لومړنی ډله ده چې د يهودو بالخصوص عبد الله بن سبا يهودي پرلاس د عثمان رضی الله تعالی عنه د شهادت څخه وروسته د علي رضی الله تعالی عنه په خلافت کې را منځته شوه، د دوی پر ضد د خوارجو ډله هم پر همدغه وخت کې پيدا شو ه، دوی ته اماميه، اثنا عشريه، جعفريه هم وايي، اماميه ورته ځکه وايي چې امامان فقط (۱۲) تنه ګڼي چې لاندې به يې ذکر راشي او امامت منصوصي ګڼي، دا چې امامان فقط (۱۲) تنه ګڼي نو ځکه ورته اثنا عشريه وايي او جعفر صادق ته ځانونه منسوبوي نو ځکه ورته جعفريه هم ويل کيږي

دغه امامان د دوی په لاندې ډول بنايي:

۱. علي رضی الله تعالی عنه

Scanned by CamScanner

۲. حسن بن علي رضی الله تعالی عنه

۳. حسین بن علي رضی الله تعالی عنه

۴. علي بن حسین (زین العابدین)

۵. محمد بن علي الباقر

۶. جعفر بن محمد الصادق

۷. موسی بن جعفر الکاظم

۸. علي بن موسی الرضاء

۹. محمد بن علي الجواد

۱۰. علي بن محمد الهادي

۱۱. حسن بن علي العسکري

۱۲. محمد بن حسن المهدي (رحمهم الله تعالی)

که څه هم دا د اسلامي امت خصوصاً د اهل السنة د جملې څخه سپېڅلي خلک دي، خو شیعه ګان ورته ځانونه په دوراغو منسوبوي او همدغه محمد بن حسن دوی امام غائب او منتظر ګڼي. دوی عقیده لري چې امام غائب ژوندی دی او پټ دی او بعضې غالي (سرکښه) روافض وایي چې پوره قرآن کریم د امام غائب سره دی او علي رضی الله تعالی عنه خلیفه بلافصل ګڼي، نو په همدې بنا د درې (۳) راشده خلیفه ګانو ابوبکر، عمر فاروق او عثمان رضی الله تعالی عنهم د خلافت څخه انکار کوي او ټول صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم پر بیعت د همدې درې خلفاء ملامت بولي، دوی امام د پیغمبر په څېر معصوم ګڼي او امامت د نبوت پر شان ګڼي د امامیه عقاید نوم کتاب (ص ۲۷) کې لیکلی

ونعتقد ان الامام كالنبي يجب ان يكون معصوما من جميع الرذائل والفواحش ما ظهر منها وما بطن من سن الطفولية الى الموت عمدا و سهوا كما يجب ان يكون معصوما من السهو والخطاء والنسيان (ص ۲۷ عقايد اماميه) ترجمه – موږ عقيده لرو چې امام معصوم دی د پيغمبر په شان واجب دي چې معصوم به وي د ټولو غلطيو او فواحشو ښکاره او پټو څخه د ماشومتوب څخه تر مرګه پورې قصداً او سهواً (هر قسم ګناه څخه) داسې به معصوم وي لکه څرنګه چې معصوم دی د سهوی خطاء او هيريدو څخه د دې عقيدې بطلان واضح او ښکاره دی.

د پورتني عبارت څخه د دوی عقايد په لاندې ډول څرګنديږي

۱. امامت منصوصي ګڼل

۲. امام معصوم ګڼل

۳. امام د پيغمبر په شان ګڼل

۴. امام غائب ژوندی منل

۵. امام بلا فصل علي رضی الله تعالی عنه منل

۶. **رجعت:** همدا راز په رجعت عقيده لري معنی دا چې ځينې مړه شوي اشخاص دوباره (دوهمه پلا) دنيا ته راځي نو دوه ډوله خلکو ته رجعت ثابت مني ډېر نېکان او ډېر شريران (بدان).

۷. **تقيه:** يعني خبره پټول او دروغ ويل حتی ځينې وخت يې واجب ګڼي او تقي د جواز نسبت جعفر صادق ته کوي چې (من لا تقية له لا دين له) يعني څوک چې تقيه نه کوي هغه دين نه لري، چې دا د دوی په جعفر صادق باندې افترا ده.

۸ **متعه نکاح:** متعه نکاح د دوی د عقیدې بل اصل دی (د پیسو په مقابل کې د لنډ وخت لپاره د یوې ښځې څخه استفاده کول).

## اسماعلیه

د شیعه ګانو بله غالي (سرکشه) ډله اسماعلیه ده چې ځانونه اسمعیل بن جعفر صادق ته منسوبوي او دده پر امامت کلکه عقیده لري، دوی په تعلیمیه، باطنیه، سبعیه، هم مسمی (نومول) دي دا ډله هم په عراق کې منځته راغله

**تعلیمیه** دا ورته ځکه وایي چې دوی وایي چې تعلیم فقط د امام معصوم څخه کېدای شي نه د بل چا څخه، نو د اجتهاد څخه انکار کوي

**باطنیه:** دا ورته ځکه وایي چې دوی عقیده لري چې عام خلک ظاهري او امام باطني علم لري

**سبعیه:** دا ورته ځکه وایي چې دوی د نظام تاثیر په (۷) اوو سیاراتو پورې ګني او یا پر (۷) اوو دورونو عقیده لري، د اسماعلیه فرقې نورې وړې ډلې هم شته، خو معاصر شاخ یې اغاخانیه ده، د دې فرقې مؤسس حسن علي شاه دی چې (۷) زامن یې درلودل چې دده د مړینې وروسته یې د دغه فرقې مشري کوله دا فرقه په (۱۹ م) پېړی کې په دریمه لسیزه کې په ایران کې ښکاره شوه، د انګریزانو سره یې اړه قائمه کړه او مشر ته یې د اغاخان لقب ورکړ.

د دوی عقاید په لاندې ډول دي

۱. دوی د اغاخان پر تقدس عقیده لري
۲. د خپلو مالونو پینځمه (۱/۵) برخه اغاخان ته ورکوي
۳. دوی عقیده لري چې اغاخان هر څه کوي د الله تعالی له طرفه دي
په دوی کې نورې فرقې هم شته لکه نصیریه، چې ځانونه د محمد بن نصیر پیروان ګڼي او عقاید یې په لاندې ډول دي
۱. د علي رضی الله تعالی عنه په الوهیت (خدایتوب) عقیده لري او وایي چې علي رضی الله تعالی عنه په وریځو کې ژوندی دی بریښنا یې خندا ده او رعد (تالنده) دده اواز دی.
۲. په دوی کې ځینې بیا عقیده لري چې علي رضی الله تعالی عنه په سپوږمۍ یا لمر کې حلول کړی دی.
۳. د بعث بعد الموت (بیا را ژوندي کېدو ) څخه انکار کوي.
۴. په تناسخ د ارواحو عقیده لري
۵. دوی د شهادت کلمه درې حرفه یادوي (ع، م، س) ع، علي، م، محمد صلی الله تعالی علیه وسلم، س، سلمان
۶. پینځه لمونځونه پینځه نومونه یادول ګڼي. علي، حسن، حسین، محسن، فاطمه و همدا نومونه د اودس او جنابت د لرې کولو لپاره کافي ګڼي
۷. جهاد فقط په دښمنانو لعنت ګڼي
دوی سرچینه د اثنا عشریه څخه ده.
د شیعه ګانو ډلې په هند، سوریه، ایران، عراق، لبنان، پاکستان... او

Scanned by CamScanner

داسې نوروکې هم موجود دي. (۱)

## دولسم درس

## بریلویان

**بریلویان:** د اډله د هندوستان د بریال په علاقه کې د برطانوي استعمار په دور کې د احمدرضاخان د تقي علي خان د ځوي له خوا په (۱۳۴۰ هـ ق - ۱۹۲۲ م) په شا او خوا کې منځته راغله، نوموړی د مرزا غلام احمد قادیاني د مشر ورور مرزا غلام قادر بیګ شاګرد وه، دوی ځانونه اهل السنة والجماعة او حتی حنفی مذهبه ګڼي خو لوی فساد یې د اهل السنة والجماعة د عقیدې څخه انحراف دی، چې عقاید یې په لاندې ډول دي

۱. نبي کریم علیه السلام په هر ځای او هر وخت کې حاضر او ناظر ګڼي.

۲. دوی وايي نبي کریم علیه السلام علم غیب عطاءی لري

۳. دوی نبي کریم علیه السلام (مختار کل) یعنې د دنیا او اخرت د تولو چارو واکدار ګڼي.

۴. اولیاء الله که مړه هم وي د عالم تصرف کونکی یې ګڼي.

۵. دوی عقیده لري چې نبي کریم علیه السلام ذاتاً نور دی او شکل یې د بشر دی یا جامه یې د بشریت ده.

---

۱. الادیان والفرق صـ ۸۵. شناخت ادیان صـ

Scanned by CamScanner

۶. دوی د ټولو مخلوقاتو د ذات ماده او عنصر پیغمبري نور ګڼي.

۷. اولیاؤ ته غائبانه اوازکول او رامدد کول دوی جایز بلکې د ثواب کار ګڼي.

۸. د بزرګانو قبرونه د مرض او د صحت ذمه وار ګڼي.

۹. دوی د نېکانو پر قبرونو د عرس په نامه جشن جوړوي او د خپل مسلک اهم جزء يې ګڼي

۱۰. دوی د یو پیر څخه بیعت داسې ګڼي چې پیر به معصوم ګڼل کېږي او پر ګناه به يې سکوت کېږي.

۱۱. په ذکر کې رقص (ګډا)، قضاء عمري، قوالي، پر هدیرو د چرسیانو بی لمانځه خلکو راټولېدل د دوی د مسلک مهم اجزا دي، په اشعارو خوبونو او کمزورو رسالو استدلال کوي او که څوک پر دغه ذکر شوو مسایلو کې د دوی مخالف وي هغوی ته غلط نسبتونه کوي ورته بی لارې او وهابي وايي دا فرقه په هند، پاکستان د افغانستان په ځینې منطقو کې، برطانیه، ترکیه کې وجود لري خو پر پاکستان او ترکیه کې زیات پیروان لري د دوی کتابونه، الفجر الصادق، الیواقیت والجواهر، المدارج السنیة د کتو وړ دي.

## دیارلسم درس

## جماعة المسلمین

دا هم په اوسني پاکستان کې تقریباً (۴) لسیزی د مخه په روانی پېړی

(۱۹۲۵ م) کې د یو تن مسعود احمد له خوا منځته راغله
نوموړي داسې عقاید لري:

۱. ټول مسلمانان چې د امیر سره یې بیعت نه دی کړی ګمراه دي.
۲. مذاهب اربعه په باطلو فرقو کې شماري.
۳. د مسلم او مسلمان د لفظ تر منځ مصنوعي فرق کوي.
۴. خپل مشر شرعي امیر ګڼي.
۵. دوی ټول مسلمانان غلط او په فرقو کې داخل ګڼي.

دوی ته ورته د پاکستان د کراچۍ په ښار کې یوه بله ډله هم موجود ده چې کپیټن ډاکټر عثماني یې مشري کوي د دوی سره په عقیده کې سره ورته دي البته دوی د عذاب قبر، شفاعت او په زیاتو مشهورو احادیثو ثابت اموراتو څخه انکار کولو کې ترې جدا دي.

Scanned by CamScanner

# لړلیک

سریزه / الف
**لومړی باب**
**اسلامي عقیده**
**لومړی درس** /۱
عقاید /۱
د عقاید د علم موضوع /۲
د عقاید د علم غرض /۲
**دوهم درس** /۲
د علم اسباب /۳
وحی په دوه ډوله ده /۳

Scanned by CamScanner

**دریم درس / ۲**
ایمان / ۲
د ایمان زیادت او نقصان / ۱۲
**څلورم درس / ۱۳**
د ایمان او اسلام ترمنځ فرق / ۱۳
**پنځم درس / ۱۵**
د ایمان اضداد / ۱۵
**شپږم درس / ۱۷**
د الله تعالی په موجودیت دلایل / ۱۷
**اووم درس / ۲۱**
د منکرینو د اعتراضاتو ځوابونه / ۲۱
د طبیعیت تعریف / ۲۳
**اتم درس / ۲۹**
عرش او فوقیت / ۲۹
**نهم درس / ۳۱**
د الله سبحانه و تعالی توحید / ۳۱
قلبي / ۳۷
لساني / ۳۷
عملي / ۳۷
حکم تکویني / ۴۴
حکم تشریعي / ۴۴
د اله صفات / ۴۲
اطلاع بالغیب / ۴۷

Scanned by CamScanner

ایمان بالغیب / ۴۸
**لسم درس / ۵۰**
د قبرونو زیارت / ۵۰
دم او تعویذ / ۵۳
استعاذه / ۵۵
توحید / ۵۵
تاویل / ۵۸
تمثیل / ۵۸
تشبه / ۵۸
تکییف / ۵۸
تعطیل / ۵۸
د خدای لفظ / ۵۸
صفات د الله تعالی په دوه ډوله دی ثبوتي او سلبي / ۶۰
ثبوتي / ۶۰
سلبي / ۶۰
ذاتي / ۶۰
فعلي / ۶۰
صفات / ۶۰
**یوولسم درس / ۶۲**
په ملایکو ایمان / ۶۲
**دولسم درس / ۶۴**
ایمان بالکتاب / ۶۴
قرآن کریم / ۶۸

Scanned by CamScanner

**دیارلسم درس / ۶۸**
ایمان پر پیغمبرانو علیهم السلام / ۶۸
**اوولسم درس / ۷۵**
د عادت خلاف امورات / ۷۵
**معجزه / ۷۵**
کرامت / ۷۶
استدارج / ۷۸
**معونت / ۷۸**
امور خارقه للعادة / ۷۹
**څوارلسم درس / ۷۹**
ایمان په قضا او قدر / ۷۹
وصفي لیکنه / ۸۱
حکمي لیکنه / ۸۱
جبریه / ۸۲
**پينځلسم درس / ۸۳**
د آخرت په ورځ ایمان / ۸۳
**شپاړسم درس / ۸۸**
د بیا ژوندي کېدو ثبوت په قرآني دلایلو / ۸۸
**اوولسم درس / ۹۲**
معراج او اسرا / ۹۲
**اتلسم درس / ۹۳**
صحابه کرام رضي الله تعالی عنهم / ۹۳
**نولسم درس / ۹۵**

Scanned by CamScanner

د قیامت علایم / ۹۵
**شلم درس / ۹۲**
د اسلام سیاسي نظام / ۹۲
**یوویشتم درس / ۹۹**
اجتهاد او تقلید / ۹۹
**دوهم باب**
**تمهید**
د فرقو د عقایدو پېژندنه / ۱۰۳
اسباب التفریق / ۱۰۷
جهالت / ۱۰۸
هوی نفس / ۱۰۸
بهرني عوامل / ۱۰۸
**اول فصل**
**لومړی درس**
باطل ادیان / ۱۱۰
هندوییزم / ۱۱۰
**دوهم درس / ۱۱۲**
سیکهزم / ۱۱۲
**دریم درس / ۱۱۴**
بودایبزم / ۱۱۴
**خلورم درس / ۱۱۵**
معاصر یهود / ۱۱۵
د فعالیت څرنګوالي / ۱۱۲

Scanned by CamScanner

**پينځم درس / ۱۱۸**
صهيونېزم / ۱۱۸
**شپږم درس / ۱۲۱**
نصاری / ۱۲۱
اله الاب / ۱۲۲
اله الابن / ۱۲۲
روح القدس / ۱۲۲
کاتوليک / ۱۲۲
ارتودکس / ۱۲۲
پروتستانت / ۱۲۳
**دوهم فصل**
باطلې مفکورې
**اووم درس / ۱۲۴**
کميونېزم / ۱۲۴
الحاد / ۱۲۵
ماديت / ۱۲۵
اشتراکيت / ۱۲۵
**اتم درس / ۱۲۶**
نشنلېزم / ۱۲۶
اکثريت / ۱۲۷
تقنين / ۱۲۸
ازادي / ۱۲۸
سيکوليريزم / ۱۲۸

Scanned by CamScanner

**نهم درس / ۱۲۸**
سوسیالیزم / ۱۲۸
**دریم فصل**
**باطلې فرقې**
**نهم درس / ۱۳۰**
قادیانیت / ۱۳۰
**لسم درس / ۱۳۱**
پرویزیه یا احمدیه / ۱۳۱
**یوولسم درس / ۱۳۳**
شیعه ګان / ۱۳۳
امامیه یا اثناعشره / ۱۳۳
اسماعلیه / ۱۳۶
**دولسم درس / ۱۳۸**
بریلویان / ۱۳۸
**دیارلسم درس / ۱۳۹**
جماعة المسلمین / ۱۳۹
ماخذونه / ۱۴۱

Scanned by CamScanner

# ماخذونه



- قرآنکریم
- بخاري
- مسلم
- ترمذی
- مشکوة
- ابن کثیر
- تفسیر کبیر
- تفسیر بیضاوي
- تفسیر قرطبي
- روح المعانی
- فی ظلاالقران
- شرح عقائد
- حاشیه نبراس
- شرح عقیدة الطحاویه
- شرح فقه اکبر
- ابوالمنتهی
- فتاوی شامیه
- البحرالرائق
- الاحکام السلطانیه
- الملل والنحل
- شناخت ادیان ومذاهب معاصر
- الادیان والفرق
- آکام المرجان
- ادله کامله
- د اسلامي تعلیمي مرکز د عقایدو منتخب کتاب التعریفات
- الوجود الحق
- ازالة الخفاء
- احسن الفتاوی
- مرقات شرح مشکوة
- الاستشراق والمستشرقون
- فکری استعمار
- اسلامي نهضت
- د اشوک کولین یانک مرکه
- الیواقیت والجواهر
- المدارج السنیه
- ماته مسائل
- مالابدمنه
- الآثار المرفوعه


Scanned by CamScanner










Design by: Mohammad Javed 0343-9029836

**تقویٰ کتاب پلورنځی**
0792150051 0789431719
0776097965
اسحاق زی مارکیټ لاندینی پوړ،
بزازی ځلورلاری، جلال اباد.

**دعوت**
**خپرندویه ټولنه**
0792150051
0776097965
اسحاق زی مارکیټ لاندینی پوړ،
بزازی ځلورلاری، جلال اباد.

Scanned by CamScanner